شهامت

د هیواد د خپلواکی
دسلمې کلیزې پر ویاړ خواله!

ديارلسم کال، دويمه، پرلپسې ۷۶مه کنه، ذی الحجة ۱۴۴۰هــ ق، اکست ۲۰۱۹م

له انګریزي استعماره د هیواد د خپلواکی د سلمې کلیزې په مناسبت
د اسلامي امارت اعلامیه

- د استقلال سرګذشت
- د بدخشان لاجورد او طالبان...
- داعش فکري ډله ده که استخباراتي پروژه !؟
- امریکایي جنرالان ولې د سولې مخالفت کوي؟
- له انګریزي ښکیلاک څخه د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ
- مرحوم مولوي سدوزی اغا

افغانستان؛ سرزمین استعمار شکن

۲۸ اسد؛ روز تجلیل از آزاده گی

افغان مجاهد
داستکباري نړواک په وړاندې
د دریمې زریزې مجدد شو

د افغانستان په خپلواکۍ او دفاع کې
د ديني عالمانو تاريخي رول

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دیارلسم کال، دویمه، پرلپسې۷۶مه ګڼه، ذی الحجة ۱۴۴۰هق، اګست ۲۰۱۹م

لــــړلیـــك

ګڼه	عــــنــوان	مخ
۱	سرلیکنه..	۱
۲	دهیواد دخپلواکۍ دسلمې کلیزې په مناسبت داسلامي امارت اعلامیه.....	۳
۳	له انګریزي ښکیلاک څخه دخپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ!..............	۴
٤	دهیواد دخپلواکۍ ګټلو ویاړلې حیاتي کارنامه!..............................	۵
۵	افغانستان؛ سرزمین استعمار شکن..	۹
٦	افغان مجاهد داستکباري نیواک په وړاندې د دریمې زریزې مجدد شو!.....	۱۳
۷	اسد ؛ روز تجلیل از ازاده گی..	۱۵
۸	د استقلال سرګذشت	۱۷
۹	خبر او غبرګون..	۲۲
۱۰	دبدخشان لاجورد او طالبان..	۲۴
۱۱	امریکایي جنرالان ولې د سولې مخالفت کوي؟	۲٦
۱۲	استخباراتي حضور دداعش پر پالنه صریح اعتراف دی.......................	۲۸
۱۳	اقتصادي بندیزونه پردښمن دغلبې لپاره د امریکا کامیابه وسیله	۲۹
۱٤	کلوریني پاڼې	۳۴
۱۵	دجهادي چارواکو شهادت دجهادي داعیې برحق والی ثابتوي.................	۳٦
۱۵	داعش فکري ډله ده، که استخباراتي پروژه؟!.................................	۳۷
۱٦	مرحوم مولوي سدوزی آغا..	۳۹
۱۷	رښتیا په واتیکان کې څه روان دي؟	۴۱
۱۸	دافغانستان په خپلواکۍ او دفاع کې ددیني عالمانو تاریخي رول..............	۴۴
۱۹	غامدیت د اوسني عصر لویه فتنه...	۵۲
۲۰	کرزی سپین چرګ نه دی؟	۵۷
۲۱	د کشمیر د مسئلې لنډ پس منظر..	۵۹
۲۲	د زرمت ناورین	٦۲
۲۳	حق به همیش غالب او باطل به مغلوب پاتې وي!..............................	٦۵
۲۴	په اسلام کې د مال او ملکیت احکام...	٦۷

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیـر :

ابو ظهیر

کتـنـپـلاوی :

لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بـیــــــه :

یوه ګڼه ۳۵ افغانۍ او ٦۰
کلداري په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یـــادونـــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان   بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

د هیواد د خپلواکۍ

دسلمې کلیزې پر ویاړ خواله!

پوره یوه پېړۍ وړاندې یعنې د۱۲۹۸ ل کال دزمري په ۲۸مه نیټه زموږ باتور اومیړني ملت دجهاد اوقربانیو په برکت له انگلیسي استعمارنه دهیواد بشپړه ازادي اوخپلواکي ترلاسه کړه.

زموږ ملت ته یو وخت دټولې منطقې دقیادت ورهبریت شرف ورپه برخه و او دهیواد دننه اوبیرون یې یوشان دمیړانې، باتورۍ، شجاعت اوقهرمانۍ ستر راج خورو، په خاصه توگه دغزنویانو او غوریانو دشاندارو تاریخي دورو را وروسته دلویې احمدشاهي دورې د نیکمرغیوڅخه نه یواځې افغانان برخمن وو بلکې په وقار اوشرافت یې دهند دنیمې وچې مظلوم مسلمانان هم ډاډمن وو

افسوس! چې دلوی احمدشاه تروفات وروسته چې کومو بې کفایته اونااهل واکمنوته زموږ دسترملت دسرنوشت ټاکلوواک په لاس ورغی، دهغوی دخپلمنځي رقابتونو او دقدرت په سرد سیالیو او دښمنیو نحوست دمسلمانانو ازلي دښمن(انگریز) ته دافغان په پاکه خاوره کې د پلیت قدم ایښودوچانس په لاس ورکړ،هغه دخپل سپیره قدم دایښودو سره سم یې خان سره راوستي گوډاگیان زموږ په سرلوړي ملت مسلط کړل، اوبیا دهم هغو سرکوزو په مټ یې د لوی افغانستان په جغرافیې کې داړې خښې او یوه مهمه برخه یې جلا اوڅان کړه، مکار،چالاک،غاصب اووړی انگریز پردې هم موړنشو او را ولاړشو دتاریخي افغانستان دداخلي او خارجي واک په سلبولوې هم داړه واچوله او دغیور افغان ملت حریت او استقالال یې یرغمال کړ، دپیړیو، پیړیوراهیسې ازاد اوخپلواک افغانستان یې د خپلو انگریزي مستعمراتو په منحوس قلمرو ورگډ کړ

له نیکه مرغه چې په ۱۲۹۸ ل(۱۹۱۹ز) کې انګریزسره دګوډاګیو پاچایانو او امیرانود غلامانه ژمنو اوتعاهداتو نه دبغاوت څپه را پورته اود افغان ولس په منځ کې یې دزادۍ او استقلال ګټلو قهرجنې ولولې په غورځنګ راوستې او د انګریزي استعمارڅخه دبشپړې ازادۍ اخیستلو په سوګند اودقوي ایماني درایت په ا دراک سره یې دغاصب او جارح انګریز په خلاف دتندریز جهاد اعلان وکړ

هو!دا منلی حقیقت دی چې هر هغه ملت چې دمرګ لپاره تیارشي، دنړۍ هیڅ ځواک یې دبري پر ورانـدې خنډ کیدای نشي ، ځکه په ژوندکې دانسان لپاره ترټولو زیات تکلیف رسونکی اوځورونکی څیز مرګ دی،دهغه وروسته دانساني جبروتعدی ټولې موډرنې وسلې هم بیکاره دي، هر ملت چې پخپله دژوند دوروستی ترخې [جرعه] په سراړولوته تیارشي،په نړۍ کې دهغه لپاره هیڅ شي ناممکن ندی، هرهغه عمل سرته رسولی شي چې په بشري ژوندکې دهغه کول ممکن وي، پوهان وایي: دویرونو اوغمونو را تګ وې ددې لپاره چې دمصیبت دحس څخه په انسان کې دسعي اواستعداد قوت پیداشي کنه په اوښکوتویولو سره تراوسه یو پوځ هم دجګړې ډګر نـدی فتح کړی.

غرض داچې په قومونواوملتونوباندې د اجتماعي تودوسړو اوناخوالو په راتلوکې پټ راز اوحکمت دادی چې هغوی دخپلې ملي ازادۍ او استقلال قدرو قیمت وپیژني، دهغه دمحبوبیت اومعشوقیت اندازه ولګوي، دداسې قومونو تاریخ دهغو قومونو لپاره دعمل او فکرمندۍ یوه شاهره پرانیزي کوم چې دخپل غفلت په لعنتونو کې ګرفتار اوزولانه وي، اوداغیارو دغلامي طوق یې غاړوته پروت وي اودهغوی له جنګي وسائلو، اسبابو اوتجهیزاتونه مرعوب وي، لیکن حقیقت دادی چې دقومونو ازادۍ او استقلال په وسلو، مهاتو، اوپرمختللو وسائلوپورې نـده تړلـې بلکې دزړونوپه قوت، او دمصایبواوستونزوپه احساس او ددښمن په وړاندې هروخت په مستعد اوسیدو اماده ګۍ پورې تړلې

په همدغه برداشت اواحساس یوه پیړۍ وړانـدې میړنیوافغانـانو پـه تشولاسودنړۍ یـوډیرپرمختللی جهاني ځواک [انګریز] ونګاوه او دعمل په میدان کې یې دهغه ټول غرور ترخاورو لاندې کړ او ورباندې دتورې په زور یې خپل استقلال اومانه

موږ په داسې حال کې چې میړني افغان ولس ته دهیواد دازادۍ او استقلال ګټلو دسلمې کلیزې ګټلو پرویاړ مبارکي وایو او د الله تعالی نه دافغان ولس دازادۍ اواستقلال هردښمن خوار،ذلیل اوناکام غواړو.

ترځنګ یې په تیرو څلورو لسیزوکې دافغان ولس دهمدې میړانې اوشهامت نـه دډکـې حماسې پـه تسلسل ویاړوچې دوه واره دلویوازمایښتونوله ګرداب نه سرلوړي راووت، یوځل شوروي ښکېلاک چې دګرمواوبو په ارمـان ز موږ دهیواد په حریم یرغل وکړ، مجاهد افغان ولس هغه ته داسې عبرت ناک شکست ورکړ چې له امله یې دخپل کوردننه په څو هیوادو وویشل شو، اوبل دیوولسم ستمبرپه پلمه چـې امریکـا ز مـوږ پـه ازادۍ د کـوم نـاروا یرغـل اشتباه وکړه ، دادی ۱۹کاله وروسته هغه دخپلې کړې بدمرغه اشتباه تراخه څکي او عنقریب به دانګریزاو شوروي په شرمونکي حشر دا (امریکا)هم اخته شي .

ان شاء الله

له انګرېزي استعماره د هېواد د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په مناسبت

د اسلامي امارت اعلامیه

پوره سل کاله وړاندې (۱۲۹۸هـ ش، داسد په ۲۸مه) افغان متدین او مجاهد ولس له انګرېزي ښکېلاک څخه د ګران هېواد افغانستان خپلواکي وګټله او برتانوي استعمار یې اړ کړ چې د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژني. افغان مجاهد ولس د علماء کرامو او روحانیونو په فتوی او رهبرۍ کې اتیا کاله د برتانوي اشغالګرو پر ضد جهاد او د خپلواکۍ مبارزه وکړه او درې واره یې یرغلګر انګریزان مات او له خپل ویاړلي تاټوبي څخه وشړل.

د انګرېزي ښکېلاک په وړاندې زموږ د مجاهدو اسلافو نه ستړې کېدونکې مبارزه نه یوازې د افغانستان د خپلواکۍ سبب شوه؛ بلکې د سیمې او نړۍ په سطحه یې ټولو محکومو او استعمارځپلو اولسونو ته دازادۍ او مبارزې روحیه تلقین کړه. تر دې چې د نړیوال غربي استعمار په وړاندې مسلحو قیامونو زور واخیست چې په پای کې همدغه قیامونه د محکومو ملتونو په آزادۍ منتج شول.

زموږ د نیکونو د هماغه یوه پېړۍ پخوا جهادي کارنامو او استقلال ګټلو برکت دی چې زموږ ملت په امتیازي ډول خپلو دیني او افغاني ارزښتونو ته ژمن پاته دی، خپله عقیده، خپل فکر، خپل فرهنګ، خپله ژبه او ټول معنوي ارزښتونه یې ژوندي دي، په داسې حال کې چې ډېری استعمار ځپلې ټولنې له خپلو ارزښتونو پردۍ شوې او د استعمارګرو رنګ یې اخیستی دی.

زموږ مجاهدو اسلافو که په نولسمه او شلمه پېړۍ کې د انګریز او شوروي استعمار پر ضد جهاد وکړ او په دې لاره کې یې ډېرې قرباني ورکړې؛ اوس هم اسلامي امارت د الله تعالی په نصرت او د خپل مؤمن اولس په ملاتړ په یوویشتمه میلادي پېړۍ کې د امریکایانو او ورسره ملګرو یرغلګرو پر ضد د جهاد سنګر ګرم ساتي او د سر تاسري ملي پاڅون رهبري کوي.

اوسنیو یرغلګرو ته وایو چې تاسي له څه کم دوو لسیزو زور ازمایلو، ډول ډول حربو کارولو، کورونو، فصلونو او اجتماعي مرکزونو له ورانولو، له افغانانو نه له ګوانتانامو تر باګرامه اونورو پټو او ښکاره زندانونو له ډکولو سره سره نه یوازې داچې د ځان په وړاندې مو د افغان غیور او مسلمان ملت جهادي پاڅون خاموش نه کړای شوای؛ بلکې ورځ تر بلې مو د واک ساحه محدودېږي او په لویو ښارونو کې د سمینټي دېوالونو شاته پناه وړئ، نو غوره داده چې نور افغانستان افغانانو ته پرېږدئ او د امپراطوریو د دې هدیرې له تېر تاریخ څخه عبرت واخلئ.

له نیکه مرغه د اوسنیو یرغلګرو پر ضد د اسلامي امارت په مشرې روان جهاد اتلس کاله وروسته هغه پړاو ته ورسید چې یرغلګر جهت د خپلو پاته پوځیانو د وتلو تابیا نیسي.

اسلامي امارت د خپلواکۍ د سلمې کلیزې د رارسیدو له امله ټول مجاهد ولس ته مبارکي وړاندې کوي او ویاړي چې د خپلو اسلافو په پیروي د امریکایي استعمار پر ضد د جهاد او مبارزې مشري کوي او ملت یې تر شا ولاړ دی.

د روان جهاد له برکته هغه ورځ را نږدې ده چې اوسني اشغالګر هم د برتانوي او شوروي یرغلګرو په څېر په تولیزه توګه له ګران هیواده ووځي او افغان مسلمان ملت لکه د یوه پېړۍ پخوا په څېر یو وار بیا د استقلال د اعادې او عزت توغ پورته کړي. ان شا ءالله تعالی! وما ذلک علی الله بعزیز

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۰/۱۲/۱۸هـ ق ۱۳۹۸/۵/۲۸هـ ش ــ ۲۰۱۹/۸/۱۹م

عبدالرحیم (ثاقب)

له انګریزي ښکیلاک څخه د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ

یوه پېړۍ وړاندې افغان مسلمان ولس د جهاد په زور خپل هیواد له انګریزي ښکیلاک څخه آزاد کړ.

له انګریزي ښکیلاک څخه د افغانستان خپلواکي یوازې په افغانستان پورې محدوده نه شوه پاتې؛ بلکې پرهغې سربېره له ټولې نړۍ څخه د انګریزي امپراتوارۍ د ټولېدو او ورکېدو لامل هم شوه.

د افغان ولس د قربانیو او اسلامي جهاد په زور د برتانوي امپراتورۍ سقوط په ټولې نړۍ کې د یولړ جذري تحولاتو لامل شوه، د نړۍ نقشه بدله او پر مخ یې ډېر نوي هیوادونه او جغرافیایي تشکیلات رامنځته شول.

یوه بله امپراتوري د سقوط په درشل کې

اوس چې دغه ویاړمنه ورځ بیا پر افغان ولس رارسېدلې ده، د همدې افغانانو په لاس د عصر د یوې بلې مغرورې امپراتورۍ د را نسکورولو انتظار باسي.

دا مغروره امپراتوري امریکایي امپراتوري ده چې د افغانانو د قربانیو او سر ښندنو په مټه لویه شوې، پرسېدلې او یوقطبي توب ته رسېدلې وه، مګر د دې پر ځای چې د افغانانو احسان ومني، پر هغوی یې برید وکړ، هغوی په بېلابېلو تومونو سره ووژل، وځورول او وېې ځپل.

خو د خواجه عبدالله انصاري رحمه الله په وینا ((هر که را خواهی براندازی، با درویشان در اندازی)) افغانان هغه څوک دي چې چاهم بد ورته کتلي هغوی بیا تري ښه ورځ نه ده لیدلې.

هغه امریکا چې دهمدې افغانانو د سرښندنو له برکته لوړه شوې او نړیواله شوې وه، پر افغانستان د ناروا تیري له امله بیرته را ټیټه او د خپلو ځپل شویو سیالانو له سیالي ولویدله.

اوس په داسې حال کې چې نه یوازې په افغانستان کې د خپلې ظالمانه جګړې د پرمخ وړلو پوښې ورتیا یې له لاسه ورکړې؛ بلکې په سیمه ییزه او نړیواله کچه یې ټول نظامي، اقتصادي او سیاسي رقابت بایللی دی.

اوس په داسې حال کې چې افغان ولس له انګلیسي ښکیلاک څخه د خپلواکۍ د بیرته اخیستلو سلمه کلیزه لمانځي له دې سره جوخت نړیوالو ته دلته د امریکایي مغرورې امپراتورۍ د راپرځېدو زیری هم ورکوي.

درسونه او عبرتونه

افغانستان د امپراتوریو هدیره ده، خو یوازې دا بسنه نه کوي چې نړۍ دا هیواد د امپراتوریو په هدیره وپېژني، بلکې پر افغانستان بلوسیدونکي جهتونه باید له دې څخه عبرت واخلي.

افغانستان سره له دې چې په اقتصادي، تخنیکي او صنعتي لحاظ یو تر ټولو وروسته پاتې هیواد دی، مګر له ځان څخه د دفاع په لاره کې نړیوال ریکارډ لري او په خپل پنځه زره کلن تاریخ کې هیڅ داسې ځواک او جهت تري سالم نه دی تللی چا چې یې استقلال او خپلواکي ته په سپکه کتلي دي.

امریکا سره له دې چې په خپله هم په نړیواله کچه ستر پوځي ځواک دی، له ځان سره یې په نړیواله کچه یو بل ستر پوځي تړون (ناټو) هم ملګري او پوره اتلس کاله یې دلته هرډول وحشت او زور وکاراوه، خو دلته یې د افغان مجاهد ولس په مقابل کې داسې فاحش شکست وخوړ چې اوس یې په هیڅ ډول توجیه کولای نه شي.

دا په تاریخي لحاظ یو ستر درس دی چې باید خپله امریکایان او ټول متجاوزین تري عبرت واخلي او بیا افغانستان ته ته د بدکتلو خیال له سره وباسي.

خپلواک دې وي افغانستان او بریالي دې وي مجاهدین.

د هیواد د خپلواکۍ ګټلو ویاړلې

حیاتي کارنامه!!

بشیر سمسور

له نن څخه پوره سل کاله وړاندې یعنې د۱۲۹۸ ل کال دزمري په ۲۸مه نیټه میړنیوافغانانودتورې اوجهاد په برکت لـه انګلیسي استعمارنه دهیواد ازادي ترلاسه کړه، هغه مهال دافغانستان دپاچاهي تاج د امان الله خان په سرو، نوموړي پر یاده نیټه داوسني پاکستان په راولپینډۍ کې انګریزانو سره دافغانستان دازادۍ ترلاسه کولو تاریخي تړون لاسلیک کړ اوهغه تور اوکرکجن سندچې انګریزانو جبراً دافغانستان دسیاسي استقلال دسلبولو په اړه په یعقوب خان، عبدالرحمان خان اوپه ۱۹۰۵ز کې دده (امان الله خان) په پلار (حبیب الله خان) باندې لاسلیک کړی و؛ لغوه اعلان کړ

دامان الله خان څخه وړاندې دهغه دپلارامیرحبیب الله خان اودنیکه امیرعبد الرحمان په دور کې انګریزانو سره دتړونو او لوظنامو په ترڅ کې افغانستان خپل سیاسي استقلال او زادي لـه لاسه ورکـړي وه، او د انګریزانوپه فشارېې نه یـواځې دچترال، وزیرستان، چاغي، چمن، پیشین پاړاچناراوکرمې سیمې هغوی (انګریزانو) ته و سپارلې بلکې په ۱۹۰۵ زکې حبیب الله خان دیولک شپیته زره پونډ په بدل کې دافغانستان دخارجي سیاست واک هم په انګریزانو باندې وپلوره، لغمان کې دحبیب الله خان دقتل وروسته د امان الله خان په پاچا کولـو کې دوخت دعلماوو، روحانیونو اومجاهدینو رول جوت وو، هغوی دحبیب الله خان دنوروزامنو په مقابل کې امان الله غوره وباله نودحبیب الله خان دقتل وروسته امان الله خان دځای ناستي او دافغانستان دپاچا په حیث لوړه وکړه، علماوو په دې امان الله خان غوره وباله، چې هغه له پیله دعلماوو سره ناسته ولاړه درلوده، دعلماوو په مجلسونوکې کیناسته او ورسره دهیواد اونړۍ په حالاتوغږیده، دهندوستان دازادۍ دتحریک مخکښ مشراوپه کابل کې دشیخ الهند مولانا محمود الحسن استاذي مولانا عبید الله سندي رح دخپل ژوند په یاداښتونوکې لیکلي: کله چې د انګریزانو په فشارامیرحبیب الله خان زما په ګډون کابل میشتي هندوستاني مهاجرین اومجاهدین ټول نظربندکړل او زموږ په کارونوېې بندیزونه ولګول، شهزاده امان الله خان به دغه مهال له خپل پلار (امیرحبیب الله) نه په پټه زموږ خواته راته او له موږ سره به یې بوخه نغده مرسته کوله، مولاناسندي کاږي امان الله خان به دخپل پلار (امیرحبیب الله خان) په تګلارو نیوکې کولې او هغه یې دافغانستان اومسلمانانو په زیان بللې، اوموږ ته به یې ډاډ راکاوه چې که دی واک ته ورسي، دافغانستان په سیاست کې به خورالوی تغیرات راولي،نوموړی دراتلونکي په اړه زیات فکرمند اوحساس ښکارید، مولانا سندي وایي: کله چې حبیب الله خان دهیواد په ختیځ کې ووژل شو، په کابل کې امان الله خان دنوي پاچا په حیث لوړه وکړه، دخنډ پرته یې زموږ دازادولو حکم وکړ، دازادۍ وروسته دمبارکۍ ویلولپاره ورغلو، کله چې زه ور نـژدې شوم، دروغبړ لپاره یې ماته غیږ خلاصه کړه اوزمالاسونوته یې زور ورکړ ،فارسي کې یې وویل [من هموهستم] غرض

داچې امان الله خان له ورانډې نه يواځې دداخلي علماوو سره نژديکت درلود اودهغوی اعتماد اوباورېې دځان کړی و، بلکې دبهرنيو ميلمنو اومهاجروعلماوو سره يې هم داشنائي علايق غځولي وو، همدا وجه وه چې کله خبره دپاچاهی راغله دامیرحبیب الله ځامنو کې علماوو امان الله خان دپاچاهې لپاره وروباله او تاج يې ورته په سر کیښود او هم یې دعلماوو په غوښتنه له انګریزنه بغاوت او پرضد يې جهاد اعلان کړ.

امان الله خان پخپله لومړی وينا کې [چې دعيد ګاه مسجد کې دلوړې کولو وروسته وکړه] د ملت په فشار اواستازيتوب دنړۍ په هيوادونو غږ وکړ چې دنن وروسته افغانستان دانګریزانو غلام هیواد نه؛ بلکې يوخپلواک او ازاد مسلمان هيواد دی، نړیوال بايد دافغانستان خپلواکي رسماً ومني او ورته احترام دي ولري.

دیادونې وړده چې دراولپنډۍ تړون ته انګریزانو په اسانه غاړه کېښوده، اونه يې دومره ژر دافغانستان ازادي ومنله، بلکې د امان الله خان لخوا دافغانستان خپلواکۍ داعلان په مقابل کې هغوی (انګريزانو) په افغانستان حمله وکړه اوجنګ شروع شو، په جنګ کې افغانانو پرمختګ وکړ اودانګریزانوځخه يې دکرمې په ګډون ترټل پورې شاوخوا سیمې ونيوې، او دټل په ختيځ کې يې دانګریزانو ګڼ شمير عسکر محاصره کړل، چې په دې سره انګریزان دافغانانو پرمختګ ورخطاء کړل او دیته اړشول چې داوربند وړانديزيې وکړ، افغانانوپه دې شرط اوربند ته غاړه کیښوده چې انګریزان به رسما دافغانستان ازادي مني او هغه تورسند چې دافغانانو دسياسي ازادي سلبولو په موخه يې جبراً لومړی په ګندمک کې په یعقوب خان او وروسته په عبد الرحمان خان اوحبيب الله خان باندې جبراً لاسلک کړی لغوه ګڼل، په دې دطرفينو ترمنځ دزیاتو چنو وهلو اوبحثونو وروسته د۱۲۹۸ل کال دزمري په ۲۸مه نېټه امان الله خان راولپینډۍ ته سفر وکړ اوهلته يې دافغانستان دسیاسي استقلال سند لاسلیک کړ اوبيا راغی دپلازمینه کابل په زرنګارمانۍ کې يې دافغانستان ازادي رسما اعلان کړه او په دې موخه ورغوښتل شويوافغان مشرانو، علماوو او مجاهدینوته يې په وينا کې وويل: درنوهيوادوالو! تاسوته به په زړه وي چې کله ماد سلطنت تاج په سر ایښود، هغه مهال مې تاسو سره دافغانستان دداخلي اوبهرني استقلال دبیا ترلاسه کولو ژمنه کړیوه اونن دخدای پاک شکراداء کوم چې خپل دې ستر هدف ته ورسيدم او دادی ترډې شيبو، ترکيې، جرمنې، روسيې، اتريش، او دبخارا حکومتونوزموږ خپلواکي رسما ومنله چې له امله يې زه ټول ملت ته مبارکي وايم!

دشک پرته دافغانستان دبهرني او کورني استقلال بیا ترلاسه کول یوه لويه حياتي کارنامه او لویه لاسته راوړنه وه اوده؛ چې دامان الله خان په قيادت اورهبرۍ کې افغانانو له انګلیس نه ترلاسه کړه، په دې لړکې له انصاف نه په کاراخيستو د يوچا دښو کارناموپه ستایلوکې بخل مناسب ندی، زکه دواقعيتونو پټول اويا دتاريخ نه انکار ناشونی دی، اوبيا ازادي دخدای تعالی يوګرانبيه نعمت او ګوهردی، چې په اسانه نه منډل کيږي؛ دډیرولویوقربانيو اوسرښندنو وروسته ملتونوته په نصيب کيږي، نو له دې امله دامان الله خان په ګډون زموږ دهيواد دهغه مهال اسلاف، مجاهدین، علماء اورهبران دشابسي وړدي، چاچې له انګريزانوځخه ازادي ترلاسه کړي، اود ازادۍ په سرېې دانګريزانو سره دپخوانيوپاچايانو اوچارواکو په څیر معامله ونکړه، ازادي يې ونه پلورله، ا وبيا په يو داسې محيط اوچاپيريال کې ازادي ترلاسه کړه چې هغه مهال نه يواځې داسلامي نړۍ په حدودوکې بلکې په ټوله اسيا او افريقاکې ډیرکم هيوادونه او ولسونه دزادۍ له نعمت برخمن وو، د موجوده هند، بنګال اوپاکستان دریواړو ولسونو دانګيريزي ښکېلاک تربيرغ لاندې ساه اخیسته؛ چېنايان هم خپلواک اوازاد نه وو د پرلپسې خونړيوانقلابونواوپاڅونونو په وجه پخپلمنځې

جنګونوکې ښکېل وو، په ورته شکل روسیه هم کورنیو جګړوله ښېو غورځولې وه

اوکه خبره داسلامي هیوادو وکړونو په اسلامي نړۍ کې یوازي ترکیې نیمه ازادي درلوده خو هغه هم دغه مهال مخامخ دلومړي نړیوال جنګ بریدونوکمزورې کړې وه، فکراً اوذهناً دغرب قالب ته لویدلې وه او تش په نامه عثماني خلافت ساه په ختووه، عربي خلیج کې دسعود اودشریف حسین هاشمي کورنیو ترمنځو اخ وډب روان وو، ایران هم پوره ازادي نه درلوده، قاچاري واکمنې دلویدیځ ګواښونو لړزوله، په داسې یوچاپیریال کې دافغانانولپاره ازادي ترلاسه کول رښتیا هم وړه اومعمولي کارنامه نه وه، افغانانو دزادۍ په ګټلو ځانته دنړیوالو پام را وګرځاوه اوحتی دنړۍ محکومو ولسونو لپاره دانګریزي استعمارنه دازادۍ ترلاسه کولو اونجات مندلو قبله افغانستان او افغان ولس شو؛ دافغانانو دازادۍ ګټلو په برکت سره دهند، بنګال اوپاکستان په محکوموپرګنو اوخلکو کې هم دازادۍ احساس ځپاند شو، زموږ دازادۍ په برکت په ایرانیانوکې هم دازادۍ ولولې پورته شوې، په خاصه توګه هند کې دافغانستان دازادۍ غږ په خورا تاوده هرکلي ویلو سره بدرګه شو اوهغوی دافغانستان ازادي دهند دازادۍ پیلامه اومقدمه وګڼله؛ په همدې احساس او برداشت سره پاچا امان الله ته دمشرق دلوی شاعرعلامه اقبال لخوا دخلوص اومحبت نه ډکې پیرزوینې وړاندې شوې، تردې چې نوموړي خپله لویه شعري مجموعه [پیام مشرق] د امان الله خان په نوم معنون کړه اویه دې وجه چې هغه په ۱۹۱۹ زکې دوخت دسپرپاور [برتانیې] تول غرور خاورې کړی و اود افغانستان ازادي یې ترلاسه کړې وه او دبرتانوي استعماري شان و شوکت یې دفن کړی و، یوځل ډاکټرعبد الله چغتائي دعلامه اقبال نه دپیام مشرق دانتساب په اړه پوښتنه وکړه چې ولې یې د امان الله خان نوم ته منسوب کړی؟ په ځواب کې علامه اقبال وویل: ماغوښتل داکتاب (پیام مشرق) یو ازاد اومسلمان پاچا ته منسوب کړم، په دې لړکې دامیر امان الله نه علاوه د کوم بل پاچانوم راته په معیارپوره ښکاره نشو.

هو! دا هم حقیقت دی چې امان الله خان دعلماوو سره پخپلو کړو ژمنوولاړپاتې نشو، هغه چې دکوموخلکوپه مټ واک ترلاسه کړاویایې کومې بریاوې ترلاسه کړي وې هغه ټولې دهیواد بانفوذه علماوو روحانیونو، مجاهدینو اومخورو ولسي مشرانو دکردارمرهون منت وي، دهغوی دقربانیو اوفداکاریو په برکت دبرتانوي تاج غرور خاورې شو، کله چې امان الله خان په واک مسلط ولید، اوپوی شو چې هیواد اونړۍ کې له بیساري شهرت اومقبولیت نه برخمن دی او درک یې کړه چې نوردی په ځان پوره او دنورو خلکو مشورو اولارښوونوته ضرورت نلري، اونه یې دواک په وړاندې څوک سرپورته کولی شي... نود هیواد دعلماوو، روحانیونو، مجاهدینو او عام ولس په ځای یې د ازاد خیالانو سره خپل اړیکې وغځول، اودهغوی په سلاوو اومشورو یې داصلاحاتوپه نوم دغربي کلتور اودودونو رایجولوته ملاوتړله، بدون دشک نه چې دادامان الله ترټولولویه اشتباه اوتیروتنه وه، او دهمدې

په وجه دهغه تولي وياړني او افتخارات په سيند لاهوشول، په ولس کې يې مقبوليت او شهرت ته زيان ورسيد، ولس وربانديې باوره شو، دهيواد علماء، روحانيون او مجاهدين ورڅخه خوابدي شول، آن تردې چې نوبت دعلماوو سره يې ټکرته ورسيد، او بيا دهمدې ټکرپه محيط اوماحول کې دکوم سنجش پرته اروپا ته لاړ، هلته يې انګريزانو ماغزه دجديديت له پيلتر وويستل، بيرته يې تش کالبوت راوليږه، داروپا له دورې څخه لا ستون شوی نه و چې دلته يې پر ضد دهيواد په يوشميرسيموکې پاڅونونه پيل شول دکومو له امله چې افغانستان دکورنۍ جګړې په ډګر بدل شو

مختصر داچې امان الله دافغانستان په تاريخ کې هغه پاچا دی چې په برخه يې ځيني ملي افتخارات هم رسيدلي، په خاصه توګه دهيواد دخپلواکۍ او استقلال ستره وياړنه دنوموړي له نامه سره تړلې ده، اوترې جلانده،، خودډې ترڅنګ ترې داسې لوی اشتباهات اوتيروتنې هم شوې چې هغه هم توجيه کيدای نشي اونه يې په دفاع کې دلايل ويل کيدای شي، په دې لړکې زما په اند ډيره دپام وړداده چې هيڅوک بايد تاريخ تحريف نکړي، زکه تجربو ښودلې چې دتاريخ مسخه کول ښې پايلې نلري، اودا ديانت خلاف عمل هم دی، اوس هم ضرورت شته چې د ديانت او انصاف په پام کې نيولوسره دافغانستان داستقلال او دهغه را وروسته بدلونونو په اړه، دګاونډي هندڅخه په افغانستان کې دانګريزانو دپټو اوښکاره سازشونوپه اړه دهغوی دبيلا بيلو پلانونو او عملي ستراتيژيوپه برخه کې د اسلامي نړۍ دهغه مهال دليکوالو اوتاريخ ليکونکوکتابونو او ارشيفونوته مراجعه وشي ممکن دواقعبينانه تحليل لپاره ډيرمواد تر لاسه او ومندل شي

دا حقيقت دی چې ازادي يوبې جوړې نعمت ده، له نيکه مرغه چې ازادۍ سره مينه او دوطن سره مينه دغيوروافغانانوپه رګونوکې موجونه وهي همدا وجه ده چې ترننه دنړۍ يوزبرځواک هم ونکړای شول چې افغانان له ازادۍ څخه کينوي، دې لړکې افغانان دومره شانداره ماضي لري چې دهغوی دښمنان هم وربانديې اعتراف لري، چاچې په افغانستان يرغل کړی دی افغانانوهغه بيرته په تيښته مجبورکړی، کـه هغه دچنګيزلخوا يرغل و افغانان يې په وړانديې پورته شوي او ورسره مقابله يې کړې، که ايراني نادر يرغل راوړی، افغانانو دهغه ژامې ماتې کړي اونه يوازې دهغه دشرنه يې افغانستان اوافغانانو ته نجات ورکړ بلکې دهند نيمه وچه يې هم دهغه له وحشتونو وژغورله، هم دا وجه وه چې دنادرشاه ځواکونوته دافغانانولخو په شکست ورکولوعلامه اقبال افغانان ستايلي اوهغوځوانانوته يې چې نادر يې مات کړی و له محبت نه ډکې پيرزوينې وړاندې کړې، دهغه وروسته دانګريزي لښکروشړل، دشوروي اتحاد سرو لښکرو ته شکست ورکول، هغه تاريخي کارنامې دي چې دافغانانوپرته يې بل څوک وياړنلري اونن دادی امريکايې هم دشکست اوزوال په څنډه ودرولې اوله افغانستانه دخپلې شرمنده تيښتې لپاره بهانې اوحيلې تراشي .

رازم ديته چې مؤرخين په دې خبره اتفاق لري چې افغان ولس دجنګ له لاري چاندی څملولی، په دې وجه افغانستان يې [داسلام اوزادۍ په کلا] نوموڵی، له سکندراعظم، چنګيز، نادر، انګريزانواو شورويانونيولې ترننۍ امريکاتولو پخپل، خپل وخت کې کوښښ کړی چې دخپنو پلمو اوبهانوپه جوړولو سره افغانان وځپي اوخپل واک منلوته يې اړکړي خوله الحمد هريرغلګرته افغانانو دهغه دسرپه کوپړۍ کې اوبه ورکړې اوهډوکي يې دلته خاورې شوې اوبرې يې ندی منډلی امريکا چې ديوولسم ستمبر وروسته په کوم کبر وغرور په بيچاره افغانانووحشيانه يرغل وکړ اوکوم وحشتونه اوظلمونه يې وکړل هغه په تاريخ کې ساری نلري ليکن په وړانديې بې دميړني افغان ولس ميړانه، شهامت او قرباني هم په نړۍ کې ساری نلري نن امريکا دجګړې ډګربايللی او ورڅخه دتيښتې لارلټوي.

افغانستان؛ سرزمین استعمارشکن

(به مناسبت صدمین سالروز استرداد استقلال از انگلیس ها)

حبیبی سمنگانی

جنگ سوم افغان و انگلیس در ماه مئ سال ۱۹۱۹ میلادی رخ داد و بنا بر روایتی ۲۲ روز و بنا بر روایت دیگر ۳ ماه دوام کرد. سرانجام انگلیس ها بار دیگر از افغان ها شکست خوردند و حیثیت جهانی شان را از دست دادند. پیروزی افغان ها در برابر تهاجم استعمارگرانه امپراتوری بریتانیای کبیر، درس آزادگی برای سائر اقوام و ملل مستعمره از غلامی ذلت بار در قرن بست میلادی بود. پنجاه کشور خورد و بزرگ که اکنون کشورهای مستقل در جعرافیای جهان شناخته می شوند، مستعمره های انگلیس بودند. بخش اعظمی این ۵۰ کشور پس از پیروزی افغان ها در جنگ سوم افغان و انگلیس، توانستند استقلال خود را به دست آورند. کانادا و استرالیا از کشورهای انگشت شماری اند که اگر چه پیش از افغان ها استقلال خود را گرفتند، اما واقعیت اینست که هنوز هم ملکه بریتانیا ملکه این دو کشور نیز است و بدون امضا و نام او، هیچ قانونی درین دو کشور رسمیت پیدا نمی کند.

امپراتوری استعماری بریتانیا در زمان اوج قدرت و عظمت خود که قرن های هفدهم، هژدهم، نوزدهم و دهه های اول قرن بستم میلادی بود شاید کمتر لذت شکست را چشیده باشد، حتی امپراتوری های هلند، فرانسه، اسپانیا و پرتغال از مقابله با این قدرت بزرگ استعماری جهان عاجز ماندند، به ویژه سال های ۱۸۱۵ الی ۱۹۱۴ میلادی در تاریخ معاصر به عنوان قرن بریتانیا (Britian,s imperial century) یاد می شود. زیرا مؤرخان می نویسند که بریتانیا در این دوره صد ساله توانست

۲۶ ملیون مربع کیلومتر زمین را به قلمرو خود بیافزاید و پس از شکست امپراتور نامدار فرانسوی ناپلئون بناپارت، کشوری نبود که در عرصه جهانی تاب رقابت و رویارویی با بریتانیای کبیر را داشته باشد.

اما انگلیس ها از ۱۸۳۹ الی ۱۹۱۹ میلادی یعنی در همان دوره طلایی امپراتوری شان و در ظرف هشتاد سال سه بار بر افغانستان هجوم آوردند و هر سه بار مجبور به ترک خاک افغان ها شدند.

جنگ اول افغان و انگلیس از ۱۸۳۹ الی ۱۸۴۲ میلادی در مجموع کم و بیش سه سال دوام کرد. اما در درگیری که در ماه جنوری ۱۸۴۲ میلادی رخ داد از لشکر ۱۶ هزار نفری بریتانیا که شامل بیش از ده هزار سربازان هند مستعمره نیز بود، تنها یکنفر انگلیس به نام «ویلیام برایدن» موفق به فرار شد و خود را نیمه جان به قرارگاه انگلیس ها در شهر جلال آباد رساند، متباقی تمام لشکر بریتانیایی نیست و نابود شد. فرماندهی لشکر بریتانیایی چون به دوش تورن جنرال ویلیام الفینستون بود این جنگ به نام «قتل عام ارتش الفینستون» نیز یاد می شود. شاه شجاع که از ننگین ترین چهره های تاریخ افغانستان به شمار می رود در سال ۱۸۳۸ میلادی توسط بریتانیایی ها و همکاری سیک ها برای دومین بار به قدرت رسیده بود، سه ماه پس از شکست انگلیس ها او نیز به تاریخ ۵ اپریل ۱۸۴۲ میلادی کشته شد.

کلیسای در شهر بمبئی کشور هند مشهور به «کلیسای افغان» برای یادبود از کشته شدگان شکست انگلیس در جنگ اول افغان – انگلیس ساخته شده است.

هفته نامه بریتانیایی «دی اکانومست» در مطلب تحلیلی خود بر کتاب «بازگشت یک بادشاه» جنگ اول افغان و انگلیس را غیر ضروری، اشغال خونین و عقب نشینی شرم آور می خواند و می گوید این بدترین فاجعه نظامی انگلیس تا سقوط سنگاپور دقیقاً یک قرن بعد بود. «بازگشت یک بادشاه» اثر ویلیام دال ریمپل تاریخ نویس سکاتلندی پیرامون جنگ اول افغان و انگلیس است و هدف او از شاه، شاه شجاع است که پس از سی سال دوباره توسط انگلیس بر مسند قدرت نشست.

در باره جنگ دوم افغان و انگلیس که بین سال های ۱۸۷۸ تا ۱۸۸۰ میلادی رخ داد، باورهای متفاوتی وجود دارد. اگر از یکسو گفته می شود که این جنگ نیز به پیروزی افغان ها تمام شد، زیرا انگلیس ها بالاخره با دیدن تلفات سنگین جانی مجبور شدند که از خاک افغانستان عقب نشینی بکنند. اما از سوی دیگر بسیاری ها به این باور اند که انگلیس ها چون توسط «پیمان گندمک» که شامل واگذاری مناطق مرزی به انگلیس بود به اهداف ژئو پولیتیک خود دست یافتند، لهذا این جنگ به نفع هر دو طرف تمام شد.

واقعیت اینست که معاهده گندمک هرگز نمایندگی از غرور و مرتبت افغان ها نمی کرد و صرف نظر از اینکه انگلیس ها بار دیگر با از دست دادن تقریبا ده هزار سرباز انگلیسی و هند برتانوی در مستعمره ساختن افغانستان ناکام ماندند، آن ها این معاهده را کامیابی بزرگ خود دانستند و در لندن و هند برتانوی جشن گرفتند.

بریتانیایی ها از چندین دهه سعی داشتند که افغانستان باید در سیاست خارجی خود دنباله رو آن ها باشد، بلکه به اساس پیمان ننگین گندمک سیاست بیرونی افغانستان در کنترول انگلیس ها درآمده بود. اما پس از گذشت سال ها، هرگاه آن ها دیدند که افغان ها خواهان عهدنامه جدیدی با انگلیس ها هستند و نیز به گسترش روابط خود با دیگر

کشورهای جهان به ویژه شوروی آن وقت تمایل دارند و حتی شوروی اولین کشوری بود که در نتیجه تماس های دو طرفه، استقلال افغانستان را به تاریخ ۲۷ مارچ ۱۹۱۹ میلادی به رسمیت شناخت، بریتانیایی ها پی بردند که افغان ها برای باز پس گیری استقلال سیاسی خود حتی آماده جنگ نیز هستند. همان بود که آن ها نیروهای خود را در مرزهای افغانستان جا بجا کردند و بالاخره به تاریخ ٦ ماه می ۱۹۱۹ میلادی جنگ سوم افغان و انگلیس رسما آغاز شد.

افغان ها به فتوای جهاد از سوی علما و روحانیون کشور دست به جهاد و مقاومت زدند و سرانجام نیروهای مجهز سه صد و چهل هزار نفری بریتانیا را شکست دادند و انگلیس ها با از دست دادن بیش از دو هزار عساکر خود، نه تنها از خاک افغانستان عقب نشینی کردند بلکه استقلال سیاسی این کشور را نیز به رسمیت شناختند.

عجب اینست، آن هایی که از تهاجم چهارم انگلیس ها بر افغانستان از دل و جان استقبال کردند، از هژده سال به اینسو دوشادوش نیروهای اشغالگر امریکا و انگلیس در برابر ملت مسلمان و آزادی خواه افغانستان می جنگند و اکنون که امریکا و انگلیس در صدد فرار از افغانستان هستند ایشان هنوز برای تداوم اشغال دست و پا می زنند، اما در عین حال امروز بر چشم مردم خاک پاشیده صد سالگی استقلال افغانستان از انگلیس را جشن هم می گیرند. پرسش اینست که اگر ایشان واقعا به پیروزی افغان ها در جنگ سوم افغان و انگلیس می بالند، پس این غلامی و سرافکندگی امروزه برای چیست؟

قابل ذکر است که تهاجم امریکایی ها بر افغانستان در اکتوبر سال ۲۰۰۱ میلادی به عنوان «جنگ اول افغان و انگلیس در قرن ۲۱ میلادی» نیز یاد می شود. زیرا این بریتانیا بود که با اعزام ۹٦۰۰ عسکر، پس از امریکا بزرگ ترین سهم در اشغال کنونی افغانستان داشت و تا اکنون حضور نظامی اش را در افغانستان دوام داده است. هرگاه امارت اسلامی در اثر تهاجم امریکا، ناتو و متحدان شان از شهرهای کشور عقب نشینی نمود، اشغالگران اداره موقتی را در دسمبر ۲۰۰۱ میلادی به ریاست حامد کرزی ایجاد کردند، مهم اینست که امنیت محل برگزاری انتقال قدرت در کابل بدست نیروهای بریتانیایی بود. گویا بریتانیا پس از شاه شجاع، دومین گماشته و دست نشانده خود را به شکل حامد کرزی در افغانستان تجربه می کردند.

از همینست که هرگاه حامد کرزی در سخنرانی های خود می گفت «ما شیر هستیم»، افغان ها می خندیدند، زیرا می دانستند که او شاه شجاع دوم است، نه شیر. آنچه در کتاب «واقعات شاه شجاع»

که به قلم شاه شجاع و یا تحت نظر شاه و یا هم از زبان شاه نوشته شده، در مورد شاه گفته شده است، حرف به حرف در مورد حامد کرزی نیز صادق می آید، شاه شجاع می گوید: «اکثر صاحب منصبانی که در اختیار من گذاشته شده اند، به من بیگانه اند. در عین حال، به من گفته نمی شود که ماموریت اصلی آنها چه است. آنها ظاهراً حتی نمی دانند که سربازان تحت فرمان من می باشند».

واقعیت اینست که سالروز استقلال از انگلیس را آنانی می باید تجلیل نمایند که بیش از چهار و نیم صد عسکر بریتانیایی را (به اعتراف خود بریتانیا) در مبارزه کنونی آزادی خواهی کشته اند و گلیم استعمار انگلیس را با مبارزه قهرمانانه و شهادت طلبه شان از جنوب کشور برچیده اند، آنانی که خاک این کشور را بار دیگر به گورستان اشغالگران تبدیل کردند و به اعتراف هفته نامه سندی تایمز، انگلیس ها بعد از جنگ جهانی دوم بیشترین تلفات را در افغانستان متحمل شده اند.

> تجلیل استقلال حق کسانی نیست که هنوز هم وظیفه چاکری و پهره داری نیروهای اشغالگر بریتانیایی را به پیش ی برند. اداره دست نشانده کنونی در حالی صدمین سالروز استقلال از انگلیس را در کابل جشن ی گیرد، که صدها عسکر اشغالگر بریتانیایی با تانک و طیارات شان در پایتخت کشور مستقر هستند و سرنوشت اداره مزدور و نیروهای آن به دست آن هاست. افغان ها حیران اند که این گماشته های انگلیس ها با کدام جرات اخلاق، جشن استقلال از انگلیس را تجلیل ی کنند؟

واقعیت اینست که این برنامه اداره کابل نیز مانند سائر برنامه های آن، فرمایشی و جعلی است. زیرا استعمارگران کنونی از شکست های پیهم امپراتوری های عصر در افغانستان حد اقل این را پی برده اند که افغان ها با غلامی و محکومیت چقدر نفرت و حساسیت دارند و به هیچ صورت از شناخت مستقل و آزادی ملی خود دست بردار نمی شوند، از همینست که با صرف ملیون ها دالر به اداره کابل وظیفه سپرده اند که خود را مستقل و کشور را آزاد جلوه بدهند، تا گراف خشم افغان ها در برابر خارجی های اشغالگر و نظام استعماری آن ها کاهش یابد و زمینه برای تداوم اشغال مساعد گردد.

اما افغان ها با این چهره ها و توطئه های استعماری خوب آشنا هستند و زمان چنین دسیسه های مکارانه و مردم فریبانه گذشته است. ملت افغان زمین با روحیه آزادی خواهی و با قربانی ها و فداکاری های تاریخی شان بار دیگر به مرحله نهایی پیروزی رسیده اند و آنروز دور نیست که به فضل پروردگار شکست امریکایی ها و ائتلافیان شان را نیز جشن خواهند گرفت و برای جهانیان نشان خواهند داد که ملت مسلمان افغانستان در برابر بزرگ ترین قدرت های استعماری جهان شکست ناپذیر و تسخیر ناشدنی است.

در اخیر، با ارج گذاری به شهکاری ها و فداکاری های ملت مجاهد و مجاهد پرور افغانستان در راستای مبارزه مقدس در برابر استکبار انگلیسی، تهنیت های پر از خوشی را به فرد فرد ملت دلیر خود اهدا نموده، فرا رسیدن این روز تاریخی را برای شان صمیمانه مبارک باد می گویم.

افغان مجاهد

داستکباري نېواک په وړاندې د دریمي زریزې مجدد شو

هسې خو له نږدې (۵۰۰) کاله قبل المیلاد راهیسې په دې خاوره یرغلونه کیږي او بېرته له ماتو سره مخ کیږي، خوله (۱۹۸۹) میلادي کال راپه دې خوا دوخت دستر ابرقدرت شوروي اتحاد ماته چې په ټوله نړۍ کې یې انقلاب راوست ډېره حیرانوونکې خبره اوپه ظاهري اسبابو نه پرتله کېدونکې جګړه او ماته وه.

له همدې نېټې راوروسته چې نړۍ دنړۍ یکه تاز اوبې سیاله زبرځواک (امریکا) ته پاته شوه، نوله له هماغه زماني راهیسې دا (۳۰) کاله دغه استکباري زبرځواک دنړۍ په نږدې ټولو خپلواکو زوروړو او کمزورو هیوادونو په بېلابېلو ډولونو خپل تسلط او حاکمیت منلی، داچې په وړاندې یې هیڅ راز قوت مقابله نه شوای کولای، ځکه یې نو چا په وړاندې دمقابلې او مبارزې تصور هم نه شو کولای او دټل لپاره یې د دوی فرعونیت منلی و.

خو په افغانستان کې د (۱۹) کلنې اوږدې جګړې له بایللو وروسته چې له دې خاورې وتو ته مجبور شول، نو نور یې په نړۍ دیکه تازۍ او استبداد راج ختم شو او له دغې نظامي او اقتصادي ماتې سره یې دضعف او شکست راز وپاشل شو، نور نو دنړۍ په یوه کمزوري هیواد هم خپل استبداد او حاکمیت په اسانۍ سره نه شي منلی.

همدا دافغان مجاهد دقربانۍ اومقاومت هغه اصل او ځانګړتیاده چې نوموړی یې د دغې دریمې زریزې مجدد کړ او دنړۍ ټولو محکومو ولسونو ته یې د ویښتابه او خپلواکۍ لارې چارې بیا وربه ګوته کړې.

له دې وروسته به ولسونه او حکومتونه د زوروړو هرڅه په پټو سترګو نه مني او ددغه مېړني افغان مجاهد له مبارزې او قربانۍ نه په پیروي به زورواکو او تاړاک ګرو ته نه تسلیمېږي.

له نېکه بخته چې په هېواد کې د امریکایانو دماتې شواهد داستقلال له سلمې کلیزې سره مصادف شول او دادی دهېواد په بېلابېلو برخو کې مجاهدین دامریکایانو او دهغوی د غلامانو له څېلو سره یوځای د استقلال دغه سلمه کلیزه هم لمانځي.

داستقلال دسلمې کلیزې د راتللو په مناسبت دجشن لمانځل اودخپلواکۍ دنوم اخیستل هیڅکله هغه چاته نه ښایي چې عملاً دغربي اشغال ترسیوري لاندې ژوند کوي، عزل او بقایې هم ترهغو تړلې وي، اشرف غني اوپه مجموع کې دکابل اداره به کوم داسې خواب ولري چې خان د روسانو د ګوداګي (ببرک کارمل) اودهغه دپیروانو په څېر ونه بولي او دسترو قدرتونو له غلامۍ خان ته برائت ورکړي؟!!

خلک وایېه نه خوري اوپه هرڅه پوهېږي اونه لمر په دوو ګوتو پټېدلای شي، دپرمختګ او ابادۍ هغه خوبونه او سوچونه چې اشرف غني اود هغه هوداران یې ویني او خلک پرې غولوي "که رښتیاهم وبلل شي، نو تحقق یې له آزادۍ اوخپلواکۍ پرته ممکن نه دی.

" آزادي د آبادۍ مقدمه ده

یوملت هله آبادشي چې آزاد شي"

غلام دخپلواکۍ په نمایشي جشنونو هیڅکله خانته له غلامۍ اوبردګۍ نه برائت نه شي ورکولای، دلته دځمکې او فضا اختیار له پردو سره دی چې څوک وژني او دچا کور ورانوي دهغو خوښه ده، که دهر اشغالګر هیواد هرځومره لوړ رتبه او ټیټ رتبه نظامي او ملکي افراد ستا خاورې ته راځي تا څوک نه خبروي او په خپل سر په خپل نظامي بېس کې ښکته کیږي، ته بیا هم اشغال نه منې او دخپلواکۍ نوم یادوې؟!!

سرې نه پوهیږي په کوم تعبیر یې ورته ووایې اوځنګه له هرڅه سره دخلکو په سترګو ور ننوزي، داخو دهغه افغان مېړني مجاهد طالب دتورې زور دی چې په تش لاس دوخت د پرمختللې او زورورې امریکا مقابلې ته یې راځې دایمان او په خپلواکۍ د عقیدې په اساس راووت او نن یې دخپلو ډېرو درنو قربانیو په زور امریکا ماته کړه.

داستقلال دکلیزې دلمانځلو ویاړ او وړ همدی دی، داشغال په وړاندې دده عملي مبارزه او جهاد په حقیقت کې ددغې کلیزې حقیقي لمانځنه ده چې د خپلې خاورې اشغال ته په هیڅ راز راضي نه شو او تر وروستۍ سلګۍ یې دخپلې خاورې او خپلو اسلامي ارزښتونو په سر له چا سره بیه ونه کړه.

مسلماني که داند رمز دین را
نه ساید پیش غیرالله جبین را

اگر گردون بکام او نگردد
بگرداند بکام خود زمین را

اسد؛

روز تجلیل از آزاده گی

سلطان رحیمی سروی

استقلال در کتب لغات و قوامیس به معنای کار خود را کردن بدون مداخله کسی دیگر است، اما در جهان معاصر به شرایطی اطلاق می شود که کشور یا ملتی اختیار تام تصمیم گیری در امور داخلی و خارجی خود را داشته باشد و در روابط بین المللی و سیاست داخلی مطیع کشور دیگری نباشد.

آزادی و استقلال از دیدگاه دین مبین اسلام اهمیت و جایگاه خاصی دارد و خداوند متعال در آیات گوهر بار قرآنی مسلمانان را برای آزادی و استقلال به جهاد و مبارزه با کفار ستمکار امر نموده است. قرآن عظیم الشان و احادیث مبارکه مسلمان ها را به صراحت فرمان می دهند که آزادی و استقلال شان را از طریق جهاد مسلحانه کسب نمایند.

خداوند متعال در آیه ۷۵ سوره نساء می فرماید:

«وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا -

ترجمه: و چرا شما در راه خدا (و در راه نجات) مردان و زنان و کودکان مستضعف نمی‌جنگید، همانانکه می گویند پروردگارا، ما را از این شهری که مردمش ستم پیشه اند بیرون ببر و از جانب خود برای ما سرپرستی قرار ده و از نزد خویش یاوری برای ما تعیین فرما.

نعمت استقلال و آزادی از آن ملتی می شود که ارزش آن را بدانند و برای رسیدن به آن از هیچگونه جانفشانی و قربانی دریغ نورزیده، جذبه حریت و آزادی خواهی را همواره زنده نگه دارد. آزمون ها می آید و یقینا بر بعضی ها پیهم می آید، اما نباید پرچم استقلال برای لحظه ای هم از دست بیافتد.

۲۸ اسد را به حیث روز استرداد استقلال افغانستان عزیز از استعمار انگلیس و یا هم به عنوان نماد پیروزی افغان ها در جنگ سوم افغان و انگلیس، تنها باید افغان های مجاهد، مبارز و آزاده با صد افتخار تجلیل نمایند.

کسانی که امروز زیر پرچم امریکا و انگلیس این روز را تجلیل می کنند، اوج رذالت و دروغگویی خود را به نمایش می گذارند و استقلال و فداکاری های مردم دلیر و مجاهد افغانستان را به تمسخر می گیرند.

تجلیل از این روز کسانی را زیب می دهد که امروز در میدان های داغ نبرد با ظالم ترین و وحشی ترین نیروهای اشغالگر برای باز پس گیری استقلال کشور شان می رزمند و از جان، مال و ناموس خود دفاع می کنند.

با استفاده ازین فرصت خجسته، ای کاش عساکر رژیم کابل با درک واقعیت های مبرهن، برای استرداد استقلال وطن از چنگ آمریکا با برادران مجاهد خود زیر چتر امارت اسلامی همکار شوند، تا خدا کند که در سال بعدی در پهلوی هم و در فضای برادرانه این روز شکوه مند را کما حقه تجلیل نمائیم.

نیروهای رژیم مزدور! فریب سران خود فروخته و بی حیثیت را نخورید. آنها تابعیت کشورهای غربی را دارند، تا روزی که به نرخ خون شما کرسی و دالرهای سبز را در دستس دارند عقب دیوار های کانکریتی در کابل زندگی می کنند، اما اگر شما کشته می شوید، بی دست و پا می شوید و در سنگرهای محاصره گرسنه و تشنه می مانید، سوگند بخدا فکر شان هم مضطرب و پراکنده نمی شود. آن ها از مجبوریت ها، احساسات و نادانی شما سود می برند و از دشمنان دین و میهن امتیاز می گیرند.

این روز میمون را برای تمام مجاهدین عزیز و خانواده های محترم شان تبریک و تهنیت عرض می نمایم. الله متعال تمام قربانی و زحمات شما را قبول درگاه خود بگرداند، برای زخمی ها و بیماران شفای عاجل عنایت بفرماید، خداوند متعال از برکت خون شهدا و مشقت های اسرا به مجاهدین سنگر نصرت و فتح را نصیب بگرداند.

برادران مجاهدم که در سنگر حق قرار دارید، در راه اسلام و آزادی میهن مردانه وار و دیوانه وار برزمید و استوار بمانید، فتح و پیروزی نهایی از آن شما است، زیرا خداوند قادر و متعال در سوره مبارکه صف می فرماید: « نَصرٌ مِن اللهِ و فَتحٌ قریب» - یاری خدا و پیروزی نزدیک است. در جای دیگری مهربانی می کند که مؤمنان را بشارت ده: وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا - الاسراء آیه ۸۱] ترجمه: و بگو حق آمد و باطل نابود شد، آری باطل همواره نابود شدنی است.

یقینا سعادت جاودانی و سرمدی از آن آزاده گان است.

د استقلال سرګذشت

قاري عبدالستار سعید



درنو او قدرمنو لوستونکو!

د روان لمریز کال د اسد د میاشتې په ۲۸ مه نیټه د افغانستان استقلال سل کلن شو. پوره یوه پیړۍ وړاندې زموږ غیرتمنو اسلافو د خپل ایمان او توري په قوت له انګریزي ښکیلاکه د هیواد آزادي اخیستې وه. دا چې زموږ استقلال د انګریزانو لخوا څرنګه غصب شو؟ انګریزانو څرنګه په افغانستان یرغل وکړ او بیا زموږ اولس څرنګه جهاد وکړ او خپل سلب شوی استقلال یې ترلاسه کړ. دې تاریخي پس منظر ته لنډه کتنه کوو. هیله ده چې د موضوع په روښانه کولو کې به مفید واقع شي.

درنو لوستونکو!

په ۱۷۴۷ میلادي کال احمد شاه بابا د معاصر افغانستان بنسټ کېښود، او په ۲۶ کلنه پاچاهۍ کې یې د افغانستان حدود په لویدیځ کې تر مشهد، په جنوب کې تر بحر عرب، په ختیځ کې له لاهور ورتېر تر سرهند او په شمال کې تر بخارا وغځول.

د احمد شاه بابا زامنو او لمسیانو د نولسمې پیړۍ تر لومړیو د افغانستان حدود وساتل، خو دغه لوی کور هغه وخت له ګواښ سره مخ شو چې په کور دننه سدوزي شهزادګان لومړی یو له بله او وروسته له محمدزو سردارانو سره په جګړو واوښتل.

انګریزي استعمار

انګلستان یا برتانیه د اروپا په شمال غرب کې یوه جزیره ده، څلور پیړۍ وړاندې د اروپایي استعمار له پیل سره د دې جزیرې اوسیدونکو (انګریزانو) هم د بیلابیلو هیوادونو اشغال پیل کړ، دوی د امریکا، افریقا، استرالیا او نورو سیمو په شان د هند خوا ته هم مخه کړه، د اتلسمې پیړۍ پر اوږدو کې انګریزان د هند له جنوب څخه د شمال او غرب پر خوا مسلسل د پرمختګ په حال کې و، دوی په میسور او دکن کې د مسلمانانو واکمنۍ ونړولې او دا سیمې یې اشغال کړې. دغه وخت چې د هند بابري حکومت وروستۍ سلګۍ وهلې په بر صغیر کې انګریزان او د رنجیت سنګهـ په مشرۍ سیکان د دوو مطرحو قوتونو په حیث واکمن ول چې د مسلمانانو ځپلو ته سره یو موټي او د افغانستان اشغال یې مشترک ارمان و. انګریزانو غوښتل د نورو اشغال شویو سیمو په شان د مسلمانانو په دې وروستي سنګر (افغانستان) هم خپله د اشغال، استثمار او تنصیر عملیه ترسره کړي او دغه د غیرتي مسلمانانو تاټوبی د خپلو مستعمراتو په لست کې اضافه کړي.

د انګریزانو لومړی یرغل

په ۱۸۱۸ م کال کې د احمد شاه بابا د کړوسي شهزاده کامران په لاس د محمدزو د مشر وزیر فتح خان وژل کیدو په افغانستان کې لویه داخلي نزاع رامنځته کړه، د محمدزو کورنۍ چې د احمد شاه بابا له وخته یې په حکومت کې پراخ نفوذ درلود، وزیر فتح خان د احمد شاه بابا د لمسي-شاه محمود په زمانه کې د لومړي وزیر په حیث وظیفه اجراء کوله او خپل ورونه یې په ټولو ولایاتو والیان ټاکلي وو، د وزیر فتح خان ډیرو اختیاراتو د شهزاده کامران کینه وپاروله، نوموړي ته یې دسیسه جوړه کړه او وزیر فتح خان یې وواژه، د وزیر فتح خان په وژل کیدو یې ورونو قیام وکړ او له هرات پرته ټولې سیمې یې د احمد شاه بابا له لمسیانو (سدوزیو شهزادګانو) څخه ونیولې چې په دې ډول د افغانستان واکمني له سدوزیانو څخه محمدزیانو ته نقل او د وزیر فتح خان ورور، امیر دوست محمد خان د کابل حاکم شو.

انګریزانو دا فرصت غنیمت وباله او له سکهانو سره په ګډه یې د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخلې پیل کړې، د سدوزیانو له ډلې شاه شجاع د خپلې بایللې پاچاهۍ د ترلاسه کولو لپاره انګریزانو او سیکانو ته مراجعه وکړه، تر څو ورته خپله موروثي پاچاهي وګټي. انګریزانو هم په افغانستان د برید لپاره همدومره بهانه غوښته، نو ځکه یې په ۱۸۳۹ کال کې یې شا شجاع ته د پلرنۍ پاچاهۍ ګټل بهانه کړل او یو لوی لښکر یې د افغانستان د اشغال په اراده روان کړ. دغه لښکر چې یوازې د مسلحو عسکرو شمیر یې تر ۵۴۱۵۰ تنو رسیده په لسګونه زره اوښانو، جنګي آسونو، فیلانو او د توپونو په شمول په پرمختللیو وسلو مجهز و. انګریزي لښکر چې شاشجاع، الکساندر برنس او انګریز سفیر مکناټن هم په کې و، له هند څخه د شکار پور په لاره بلوچستان او له هغه ځایه کندهار ته داخل شو، د کندهار له نیولو وروسته یې د غزني پرخوا مخه کړه، که څه هم د لارې په اوږدو کې ورباندې افغان غازیانو بریدونه کول خو د ۱۸۳۹ کال په اګست کې دغه انګریزي لښکر کابل ته ورسید، شاشجاع یې د ګوډاګي حاکم په حیث پاچا اعلان کړ او د هیواد چارې انګریزانو په لاس کې واخیستې.

انګریزان چې له خوراً ستر قوت سره افغانستان ته راغلي وو په کندهار، غزني او جلال اباد کې یې کیمپونه جوړ کړل خو تر ټولو ستر مرکز یې په کابل کې و، د اشغال له پیل سره د افغانستان علماء کرامو د کافرو اشغالګرو پر خلاف د جهاد فتوی صادره کړه، علماء کرام په کلیو او ښارونو کې ګرځیدل، خلک یې جهادي قیام ته بلل او غوښتنه یې ترې کوله چې له انګریزانو ځان لرې وساتي او هیڅ نوع معامله ورسره ونکړي.

په دې ډول د هیواد له مختلفو سیمو د جهادي پاڅون بیرغونه راپورته شول، د جهادي پاڅون سرلاري غازي عبدالله خان اڅکزی، نائب امین الله لوګری، وزیر محمد اکبر خان، میر مسجدي خان، غازي محراب خان بلوڅ، محمد شاه خان بابکر خېل او ګڼ نور مجاهدین ول. دوی په کابل او نورو سیمو کې په انګریزي اشغالګرو بریدونه پیل کړل، مکناټن د وزیر اکبر خان لخوا ووژل شو، الکساند برنس په خپل کور کې ووژل شو انګریزي لښکر چې شمیر یې ۱۷ زره کسانو ته رسیدو په وارخطا حالت یې د لته بند پر لار د ننګرهار پر خوا مخه کړه تر څو د خیبر له درې پېښور ته وتښتي، خو افغان غازیانو د انګریز لښکر د لته بند په درو کې راګیر او ټول یې تر تیغ تېر کړ، له انګریزي لښکره یوازې ډاکټر برایډن په زخمي حالت کې جلال اباد ته ورسید. د انګریزانو له شکست وروسته افغان غازیانو د دوی ګوډاګی شاشجاع هم د کابل له بالاحصاره د تیښتې په وخت وواژه، په دې ډول انګریزانو په افغانستان په خپل لومړي یرغل کې داسې تاریخي ګوزار وخوړ چې بیا یې تر

ډېره وخته د افغانستان پر خوا د چپ کتلو جرأت ونکړای شو.

د انګرېزانو دوهم يرغل

په ۱۸۷۹ ميلادي کال کې چې په افغانستان د امير شيرعلي خان پاچاهي وه، انګرېزانو غوښتل د افغانستان استقلال نقض او د دې هېواد د بهرني سياست اختيار په خپل لاس کې وساتي. امير شيرعلي خان د خپلواک مزاج خاوند و نو ځکه يې د انګرېز فرمايشات نه منل. په پای کې خبره جګړې ته ورسيده او انګرېزانو د ننګرهار، پکتيا او کندهار له اړخونو له لسګونه زره مجهز پوځ سره په افغانستان بريد وکړ. د افغانستان جنوبي او ختيځې سيمې يې اشغال کړې. امير شيرعلي خان له روسانو د مرستې ترلاسه کولو په مقصد شمال خواته وخوځيد چې بلخ ته په رسيدو ناروغ او وفات شو. د نوموړي له وفات وروسته يې په ذهني لحاظ معلول زوی يعقوب خان چې د پلار لخوا بندي شوی و، خلکو پاچا کړ. انګرېزانو چې کابل يې عملا اشغال کړی و، يعقوب خان يې جبرا له ځان سره د ګندمک سيمې ته بوت او هلته يې د غلامۍ تړون ورباندې امضاء کړ. د دې تړون له مخې يعقوب خان نه يوازې د لوی افغانستان يا احمدشاهي امپراطورۍ د غصب شويو ځمکو له دعوې منصرف شو، بلکې انګرېزانو ورباندې دا هم ومنله چې د افغانستان بهرنی سياست به د انګرېزانو په خوښه ټاکل کيږي او افغان حکومت نه شي کولای د انګرېز له خوښې پرته له چا سره دوستي يا دښمني وکړي.

له همدې وخته د افغانستان سياسي استقلال سلب شو، له يعقوب خان وروسته د امير عبدالرحمن او حبيب الله خان په دور کې هم د افغانستان واکمنو ځانونه د ګندمک تړون ته ژمن بلل، خارجي سياست يې د انګرېز تابع و او انګرېزانو په مقابل کې کلنی معاش ورکاوه. تر دې چې د ګندمک له تړون څخه څلوېښت کاله بعد په ۱۹۱۹ ميلادي کال کې د حبيب الله خان له مرګ وروسته افغان ولس د انګرېز پر خلاف جهاد اعلان کړ او بشپړ استقلال يې تر لاسه کړ. دا چې دا استقلال څرنګه ترلاسه شو دې ته به وروسته راشو دلته به د افغان ـ انګليس دوهم جنګ او له هغه وروسته جرياناتو ته لنډه اشاره وکړو.

پر افغانستان د انګرېزانو له دوهم يرغل او د ګندمک تړون له امضاء کولو سره زموږ هېواد په بشپړ ډول د انګرېزانو لاس ته ولويد. د يعقوب خان په مشرۍ د هېواد سياسي قشر- د اوسنيو امريکايي ګوډاګيانو په شان د اشغالګرو اړخ ونيو، ظاهرا د اوسني اشرف غني په شان يعقوب خان پادشاه ګڼل کيده، خو په واقعيت کې د هېواد چارې د انګرېزي سفير کيوناري لخوا اداره کيدلې.

د انګرېز د دوهم يرغل په وړاندې د افغانستان علماء کرامو، غازيانو او عام مؤمن اولس د جهاد بيرغ پورته کړ، د وخت ستر غازيان او علماء کرام لکه محمد جان خان وردګ، ملا مشک عالم، مير بچه خان کوهدامني، مولانا عبدالغفور لنګري، غلام حيدر خان چرخي، د موسهي فيض محمد صاحبزاده او نور و مخکښو مجاهدينو د اشغال پر ضد مسلح جهاد پيل کړ. دغه جهادي پاڅون هغه وخت اوج ته ورسيد کله چې په کابل کې يوه ډله افغان عسکرو اړخ بدل او د انګرېزانو په سفارت يې بريد وکړ. په دې بريد کې د انګرېزي سفير کيوناري په شمول د سفارت ۱۲۳ تنه کارکوونکي ووژل شول او سفارت په بشپړه توګه وسوځول شو. انګرېزانو د جهادي پاڅون د ماتولو په مقصد افغانستان ته نور عسکر راوستل. خو دغه وخت قيام سرتاسري شوی و، د هرات له اړخه د امير شيرعلي خان زوی غازي ايوب خان په کندهار بريد وکړ او د ميوند په غزا کې يې انګرېزانو ته عبرتناک شکست ورکړ. انګرېزان چې د پوځي اشغال پلان يې شکست خوړلی و، خپل دوهم پلان يې رامخکې کړ او هغه دا چې له افغانستانه خپل پوځيان وباسي خو دلته

خپل یو داسې حلقه بگوش اجیر پریږدي چې د افغانستان په نسبت د انگریز گټو ته وفادار وي او د گنډمک تړون ته تعهد ولري.

په دې ډول انگریزانو دیعقوب خان پر ځای امیر عبدالرحمن ته مخه ورکړه چې د افغانستان واک په لاس کې واخلي. امیر عبدالرحمن له انگریزانو سره د گنډمک تړون ومانه، انگریزانو له افغانستان څخه خپل پوځیان وایستل خو د افغان ولس د بشپړ استقلال ارمان ترسره نه شو. امیر عبدالرحمن چې له انگریزانو یې کلنۍ معاش اخیست، د هیواد سیاسي اختیار په خاص ډول بهرنۍ سیاست یې تر انگریزانو تړلی و. نوموړي د انگریزانو په اشاره هغه غازیان زندانیان، تبعید او یا شهیدان کړل چې د استقلال ارمان یې درلود او د دوهم انگریزي یرغل په وخت یې جهاد کړی و.

د امیر عبدالرحمن او حبیب الله خان په څلویښت کلنه واکمنۍ کې په مسلسل ډول د انگریز له نامرئي اشغاله د استقلال هڅې روانې وې، دغه کوښښونه کله د مسلحو قیامونو په شکل وو، چې امیر عبدالرحمن د انگریزانو په مرسته ځپل، او کله هم د مولانا سرور واصف کندهاري، مولاناعبدالواسع، مولانا غلام محي الدین افغان او نورو لومړنیو مشروطه غوښتونکو د سیاسي مبارزې په شکل. چې دغه مبارزین هم مستبدو حاکمانو په فجیعانه ډول له منځه وړل.

د دوهم نړیوال جنگ پر مهال چې انگریز له جرمنۍ او عثماني خلافت سره په جگړو کې مشغول او ځواک یې تقسیم او کمزوری شو، په وړاندې یې په مختلفو سیمو کې ازادي غوښتونکي قیامونه پیل شول. د افغان مجاهد اولس علماء کرامو، غازیانو او په آزادۍ مینو سیاسي مشرانو همدا فرصت غنیمت وگاڼه او په ۱۹۱۹ میلادي کال کې یې د امیر حبیب الله له مرگ وروسته د انگریز پر خلاف مسلح جهاد اعلان کړ.

د خپلواکۍ جگړه

د افغانستان مجاهد اولس له پیله د خپلواکۍ اخیستلو جهاد ته امادگي درلوده، خو په وړاندې یې سیاسي قیادت مانع و. د امیر حبیب الله له مرگ وروسته د افغان اولس متنفذینو او علماء کرامو امان الله خان په دې شرط پاچا کړ چې د انگریز په خلاف به جهاد اعلانوي او بشپړه خپلواکي به ترلاسه کوي. په دې ډول د انگریز پر خلاف د جهاد او آزادۍ گټلو خوځښت پیل شو. په اولس کې د جهادي جذبې د بیدارولو لپاره علماء کرام وټاکل شول. په دې لړ کې د مشرقي ولایاتو لپاره د ترنگزو حاجي صاحب مولانا فضل واحد او د چکنورملا صاحب، د جنوب شرقي محاذ یا لویې پکتیا لپاره د شوربازار حضرت صاحبان شمس المشائخ فضل محمد مجددي او نور المشائخ فضل عمر مجددي او د لوی کندهار لپاره د خرقې شریفې متولي مولوي عبدالحمید الکوزی او مولوي صالح محمد اخندزاده تعین شول.

د ۱۹۱۹ میلادي کال په مې میاشت کې د ننگرهار، پکتیا او کندهار په محاذونو کې افغان غازیانو انگریزي عسکرو بریدونه پیل کړل. جنگ په څو خواوو کې پیل شو خو د ثقل نقطه یې د پکتیا محاذ و، د دې محاذ مشري د سپهسالار نادر خان په غاړه وه چې د شوربازار حضرت فضل عمر مجددي صاحب ورسره همکار و. افغان غازیان د وانه، پیواړ او کورمې په استقامتونو انگریزي لښکرو ته غوڅ شکست ورکړ، د ټل ښار یې ونیو او د دې ښار په ختیځ کې د انگریزانو لوی مرکز یې محاصره کړ. د ټل سقوط انگریزان سخت وارخطا کړل او په دې ویره کې شول چې نورې سیمې به هم د افغان غازیانو لاس ته ولوېږي نو ځکه یې د زور په ځای د زاریو لار ونیوه. افغان حکومت ته یې د جنگ بندۍ خواست وکړ او وعده یې وکړه چې د افغان اولس هر ور غوښتنې به ومني. په دې ډول انگریزان چې پوره څلویښت کاله یې زموږ هیواد تر نامرئي اشغال لاندې

ساتلی و، د مسلح جهاد په برکت د غرور له تخت رانسکور او له اوس څخه پوره سل کاله پخوا د ۱۲۹۸ هجري شمسي کال د اسد په ۲۸ مه نیټه یې د افغانستان بشپړ استقلال په رسمیت وپیژاند.

زموږ مجاهد اولس په داسې حال کې له انګریزانو بشپړ استقلال واخیست چې د عثماني دولت له ملحقاتو پرته ټوله اسلامي نړۍ د اروپایانو تر اشغال لاندې وه. خو دا زموږ په مسلمان ملت د الله تعالی ځانګړی احسان و چې تر نورو وړاندې یې د حریت له نعمت څخه برخمن کړل.

سل کاله وړاندې د افغانستان له خپلواکۍ وروسته تر څو لسیزو په بشپړ ډول خپلواک و، تر دې چې په د ۱۳۵۸ کال د جدي پر شپږمه شوروي یرغلګرو زموږ په هیواد برید وکړ او افغانستان یې اشغال کړ. زموږ ملت د شورویانو او کمونیستي ګوډاګیان پر خلاف ۱۴ کاله جهاد وکړ تر دې چې یو ځل بیا یې د یونیم میلیون شهیدانو په ورکولو سره کفري یرغلګر مات او خپل استقلال یې خوندي کړ.

له هغه وروسته په ۲۰۰۱ م کال کې امریکایانو او د ناټو اشغالګرو پر افغانستان حمله وکړه، اسلامي نظام یې ونړاوه، خپلواکي یې سلب او زموږ د هیواد ځمکې او فضا اختیار یې په لاس کې واخیست. د دې عصر ګوډاګیانو حامد کرزي، اشرف غني او نورو کټ مټ د شاشجاع او ببرک کارمل په شان د اشغالګرو اړخ ونیو. خو د غیرتي اولس زړورو بچیانو (طالبانو، علماء کرامو او عامو مجاهدینو) د خپلو مجاهدو اسلافو په شان د اشغالګرو پر ضد د جهاد بیرغ پورته کړ. خپل سرونه یې د في سبیل الله جهاد په لاره کې قرباني کړل او دا دی د اتلسو کلونو له تیریدو وروسته هم په برحقه جهادي مبارزه بوخت دي. او نور ان شاءالله هغه وخت را رسیدلی چې د انګریزانو په شان د امریکایي اشغالګرو غرور هم مات او د متارکې او جنګ بندۍ زارۍ یې پیل کړي دي.

په پای کې خپل مجاهد ملت ته له انګریزي ښکیلاکه د ازادۍ د سل کاله پوره کیدو په مناسبت مبارکي وایو او زیري ورکوو چې ان شاءالله هغه وخت رانږدې دی چې زموږ په ویارمن تقویم کې له امریکایي ښکیلاکه دازادۍ اخیستلو ورځ هم ور اضافه او مؤمن ملت مو یو ځل بیا د واقعي استقلال له نعمت څخه برخمن شي. ان شاءالله

و ما ذالک علی الله بعزیز

خبـر او غبرګـون!!

ترتیب / م ـ عزیز

ارګ : اشرف غني " زمونږ دوینو له برکته نیویارک اوواشنګټن ارام او خوندې دی

غبرګون : موږ خو همدغه ژاړو چې دا ځواکونه وطن نه ساتي، د امریکا جګړه کوي، د امریکا محافظین دي!

که نه وی غني دې ملت ته دومره حساب ورکړي چې پنځه کلنه واکمنۍ کې یې د زرګونه بمونو او سلګونه چاپو پر مټ دلته څو عربان او څو پنجابیان وژلي چې هغوی د اروپا او واشنګټن امنیت ته ګواښ ول؟

پژواک : د ملي امنیت سلاکار: د ملکي وګړو مرګ ژوبله د زغم وړ نه ده

غبرګون : دبلک واټر اربکیه دافغانانو له مرګونو، ټپونو او کړاوونو خونداخله ، هم یې وژني هم وربانديې شیطاني ساندې وایې، شپې دې په شمار دي

طلوع : اسدالله خالد: د بهرنیو ځواکونو د وتلو په صورت کې د امنیت ټینګولو بشپړه وړتیا لرو

غبرګون : که تا داوړتیا درلودی، نو کله چې طالب جان دخپل ښکاري ګوزار په ترڅ کې له نامه لاندې غوڅ اوشوم وي دپیوندکاري لپاره چیرته ولاړې ؟ له سره تربیخه امریکایی انرژۍ اواکسیجن ته ضرورت لري کنه داګز او دامیدان

ارګ : لازم وګڼل شو چې خلمی خلیلزاد دخه مودې لپاره کابل کې پاته شي

غبرګون: ههه...لازم وګڼل شول..چا لازم وګڼل؟ تاسو دې ډالر ووهي، چې ده به پاسپورت هم راوړی وي؟

څوک تېرباسئ؟

د چا خبره شرم ډول نه دی، چې دریسې وګرېږي!

بي بي سي : غني! حساب ورکولو اوحساب اخیستلو ته چمتو یو!

غبرګون : غني د دې دپاره نه دی ګمارل شوی چې افغان ملت ته حساب ورکړي .

هغه که د حساب خبره کوي مقصد یې د امریکا ملت دی هغوی ته حساب ته تیار دی ځکه د افغانانو په وژلو یې هغوی هوسا او ارام کړي دي

جیو نیوز : قریشي! دافغانستان امن دکشمیر له موضوع سره تړاو لرلای شي

غبرګون: طالبان: هند او پاکستان دې یې کشمیر مسله کې سره وخوري.

افغان سوله له هیڅ سره ارتباط نلري او هیڅوک دې کوښښ نکوي چې خپلې لانجې له افغانانو سره غوټه کړي.

ارګ: اشرف غنی " افغانان اوس خپل جمهوري حق پیژني اودپرشاتګ لورته تلل نه غواړي.

غبرګون : کوم جمهوري حق؟ هغه جانکیري چې ستا او عبد الله تر منځ تقسیم کړ؟

که رولا یې چې ارګ کې د غرب د ګدايي ګرو لورانو ته ورکوي؟

او که نه، چې ګډ ځواکونه یې په کلو کورونو کې د دوربیني ټوپک له شپېلۍ وېشي؟

او دا مختـګ دې کـوم دی، چې شاتګ به وکړي؟

د ډېورنډ خرځون؟ کـه امریکـايي ترون؟

که جې ایچ کیـو کـې د ګمنـام سپاهي یادګار ته د ګلونو ګېډۍ؟

که په وطن کې د مادي فکر وبا؟

اوکـه هغـه سرکونـه يـادوې، چې امریکاپانو ځـان تـه جـوړ کـړي او چې هغـوی پـرې روان وي، افغـان بايـد لـه سرکه کوز شي!

ازادی راډيو: غنی " دطالبانو بيا راتګ دبربادی په معنا ده

غبرګون: ليونغرته ستا په پاچاهي افغانانو کوم خير ولیده ټول ولـس دي په دروغو او دوړو غلط کړی

له حاجیانو نیولي تر هرې وړي او غټي پروژې کـې دي غـلا وکـړه ولـس دي د واشــنګټن او نیویــارک لپــاره وواژه ډیورنـډ دي خـرڅ کـړه ،غلـه ، قـــاتیلین، دوســـان خـــاینین ازاد ګرځـي خپـل اولاد دي پـه بهـر کـې کینولي

لکـه ټغنـه اووځـه بغـاري وهـي ليونغرتـه طالـب راځـي کـه مـري کـه چوي.

اریانا نیوز : محـب " لـه طالبـانو سره روانه سوله مـو دنـوی يمـو کلونـو ناخوالو ته بیایی!

غبرګون: کله چې یې د واک بقـا خطـر کـې شي وایـي سوله مـو نویمـو کلونو ته بیايي.

دا چـې هـره شـپه پـه غوربنـد، وردګ، غـزني، لـوګر، هلمنـد، کـونړ... ښځې او ماشومان په خپل کور کې قتل عـام کېـږي دا نويمـو کلونـو کيسـه نده؟ که یواځې د کابل او ځو...

یـک تلـویزون : ارګ ! تـاکنې او جمهوري نظام هغه شرطونه دي چې د سولې په هوکړې کې باید ومنل شي

غبرګون : ګوړه ګـوړه وايـه خولـه به دې خوږه وي، خـاخي پـور غـواړي ، توري نور غواړي.

خبر: مرتضوی ' قصر دارالامـان - نمای شب زخم ها التیام یافت. ویرانه ها آباد شد.

غبرګـون: یـک قصر- را سـاختید ولی صدها مسـاجد و خانـه هـای ګلـې هموطنان مان را ویران کردید.

حالا برای اطفال ما که نیمه شب پدر و مادر ایشان را در عملیات شبانه کشـتید؛ چهـره ی چنګیـز و هلاکـو دارید. شاید با دیدن این قصر بـه فکـر دام دیګری باشند.

خــبر: اطلاعــات روز. صــديق صـديقی " ۹۰ سـلنه هیـواد ددوئ تـر ولکي لاندې دی ، انتخاباتو ته نوماندان کولای شي هلته خپل کمپاینونه وچلوي

غبرګون: نور هیواد پرېږده که د کابـل پـه موسـهی کـې، د خوسـت پـه موسـی خيلـو کـې او د هلمنـد پـه موسی‌کلا کې نوماندان ځکمنـی سفر وکړی بيا منم چې حکومت شته!

خــبر : اریانــانیوز "رولا غنــی: مردم صلح می‌خواهند، اما تغییر نظام را نمی‌خواهند!

غبرګون: بیشک مـردم هـم صـلح میخواهـد وهـم تغیـرو پرچیـدن ایـن چهره های منحوس و پلید شما

خـــبر : ارګ اعلامیــه: دکابــل دوبی هوټـل کـې چاودنـه کـه څـه هـم داعش يې پړه اخیستي، خوطالبـان یـې هم له مسؤلیت نه ځان نشي خلاصولی

غبرګون: د واده مراسم په جنـازه بدل شو خو مېکر له غنـدلو پرتـه نـه د اسـتعفی، نـه د کـوم چـوروواکي د ملامتیا، نـه د بـدې حکومتـولی. نغاره ووهله، بلکې د سولې په وړاندې د خنډ جوړولو د پاره يې پېښه د طالبانو کړنه وبلله، تابوت ساز دې پوه شي چې چـاه کـن، در چـاه اسـت! لـه شرمـه ډک تاریخ.

د بدخشان لاجورد او طالبان...

افغان بصير

بدخشان دافغانستان په شمال ختيځ کې يو پروت مهم اومشهورولايت دى، داولايت دجغرافيوي محلِ وقوع له پلوه خورا دپام وړ اهميت لري، دسمندرله سطحې نه په ۱۸ سوه متره ارتفاع کې واقع دى، مرکزيې د[فيض اباد] ښاردى، او له پلازمينې[کابل] نه د۴۷۰ کيلو مترو په مسافت لري دى

بدخشان دافغانستان دګاونډيوهيوادو لکه پاکستان، چين او تاجکستان سره نښتي پولې لري، او جنوب ته يې دافغانستان څولايتونه [نورستان، لغمان، کاپيسا اوپنجشير] واقع دي او په غرب کې يواځي له تخارولايت سره نښلي

دبدخشان لوړوڅوکوته واخان، پامير او دهندوکش لړۍ وايي، چې دپريمانه لالونو اولاجوردو دکانونوڅخه مالامال دي

بدخشان ټول ټال ۲۸ ولسوالۍ لري چې دواخان ولسوالي په ګډون، کشم، بهارک،جرم، يفتل پايين،يفتل بالا،راغ، ارګو، درايم، ارغنجخواه، دروازپائين(نسي) دروازبالا (مايمتي) شيکي، اشکاشيم، خاش، خواهان، کوه فاب، کوهستان، کران منجان، شهربزرګ، شغنان، شهدا، تګاب، تيشکان، وردوج، يمګان، ياوان، او زيباک ولسوالۍ راځي.

دبدخشان اکثريت وګړي تاجکان اوپه فارسي ژبه خبرې کوي، همدا رازدخلکو اکثريت يې سنيان احناف دي، اويوکم شميريې اسماعيلي شيعه ګان دي.

بد خشان هم دهغو ولايتونوڅخه يو مهم ولايت دى چيرته چې دتيرو ۱۹ کلوراهيسې دامريکايي اشغال پرضد پراخ مقاومت اوجهاد روان دى، او زياتې پراخې يې سيمې يې داوسني امريکائي اجيررژيم دواک څخه ازادې شوې او داسلامي امارت تربيرغ لاندې راغلي

په دې لړکې دبي بي سي (فارسي) ديوتازه اراپور له مخې: طالبانو دبدخشان ولايت (دکران ومنجان] ولسوالۍ کې دلاجوردو يولوی کان نيولی او ترخپلې ولکې لاندې يې راوستی ، بدخشان کې داجيرې اداري دوالي وياند نيک محمد نظري له خولې بي بي سي ليکلي: طالبانو دسر طان په ۲۴مه نيټه دکران منجان ولسوالۍ باندې حمله وکړه او هلته يې دلاجوردو يوه لويه زيرمه ياکان ترخپل تصرف لاندې راوست

دنظري په وينا: طالبانو هلته د دوی لخوا دکان په ساتنه ۲۰تنه ګومار شول شوي عسکر هم نيولي.

دبدخشان لاجورد چې په نړۍ کې شهرت لري، درې کاله وړاندې هم يوې نړيوالې څېړونکې اداري [ګلوبال ويټنس] پخپله يوه څېرنه کې ويلي و چې طالبانو دافتصادي منابعو يوه لويه منبع دافغانستان کانونه دي چې ډيری د دوی ترواک لاندې دي او دخپلو اړتياوو دپوره کولو لپاره له هغو استفاده کوي

څنګه چې بدخشان یوله هغو ولایتونو څخه دی چې ډېری ولسوالیوکې یې مجاهدین پراخ شتون لري اودګنو ولسوالیو واک یې طالبان په لاس کې لري امریکا او دکابل غلام رژیم څوځله کوښښ وکړ چې بدخشان کې دطالبانو څپلو لپاره درانه عملیات وکړي خو هرځل دشکست سره مخ شوي دي درسنیو له قوله طالبانو دشاه سلیم پوله اونورستان ولایت ته تللې لارې هم نیولې

د اجیر دولت دکانونوزیر هم تایید کړې چې دکران منجان ولسوالی دلاجوردوکان د دوی له لاسو څخه وتلی دی او داستخراج واک یې اوس طالبان په لاس کې لري دهغه په وینا دسیمې خلک هم دطالبانو سره همکاراوملګري دي په دې علاوه دراغستان او کوهستان ولسوالی اویا سلنه خاوره چې دطالبانو تر واک لاندې ده هلته دسرو زرو یولوی کان هم دتیرو درې کلو راهیسې داجیر دولت دواک څخه وتلی دی.

دکتونکوپه اند: وروستی برياوې اوفتوحات که دپوځي اوسياسي پلوه هم دطالبانو لپاره خورا اهميت لري خوځيني يې داقتصادي پلوه هم لکه دکران ومنجان دلاجوردوکان پشان اقتصادي ارزښت لري، چې په دې سره به طالبان وکړای شي دکانونوپه سالم فني استخراجولو سره خپلې اقتصادي اړتیاوې پوره او تقویه کاندي

طالبانونژدې منابع وخت پروخت ویلي چې دوی خپلې اقتصادي اومالي اړتیاوې دهیواد له دننه څخه دمعدنیاتو، ګمرکاتو اودخلکو دعشرونو زکاتونو له لارې هم پوره کوي اوهم له دې برخوڅخه چې کومې پیسې ترلاسه کوي یوڅه یې دخلکو اوولس دفلاح اوبهبود لپاره هم مصرفوي پردې علاوه طالبان په هیواد کې دتیلفون مبایل شرکتونودلارې څخه هم دپام وړعواید ترلاسه کوي او پرهغو خپلې اړتیاوې پوره کوي او همدا راز دهیواد دننه اوبیرون تجاران او مخیر خلک طالبانوته پخپله خوښه چندې ورکوي او دهغوی سره مالي کومکونه کوي نو که طالبان دبدخشان اونورو ولایتونو مهم کانونه ترخپلې ولکې لاندې راولي او په سالمه توګه یې د استخراجولو چارې تنظیم کړي دابه دهغوی دپوځي اوسياسي بریاوو سره نوره مرسته وکړي اوهغوی به نورهم پیاوړي اوغښتلي کړي.

هيله ښښونکې خبره!

(لطف الله خيرخواه)

د مصر د قاريانو مشر شيخ معصراوي وايي:

كه څوک د ځان د صلاح نښې لټوي، يوه يې مور وپلار ته دعاء ده. په حديث شريف كې د مسلمان د جاري صدقې يوه ببلګه صالح زوی ښوول شوی، چې مور وپلار ته دعاء كوي: "أو ولد صالح يدعو له."

په حشر سورت كې د رښتيني مسلمان درې نښې ښوول شوي:

١ - د الله تعالی د لارې هجرت.

٢ - مهاجر ته ځای او پنا وركول.

٣ - مخكښنيو مسلمانانو ته دعاء كول .

قرآن كريم يو آيت كې د ځان، مور وپلار او مسلمانانو له پاره دعاء جمع كړې، چې يقيناً د نېكمرغی سبب ده:

{رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ وَ لِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ}

اللهم اجعلنا منهم! آمين!

امریکائي جنرالان ولې د سولې مخالفت کوي؟

فرهاد اتل

لا هم په هیواد کې دروانې ۱۸کلنې جګړې دپای ته رسیدو کوم روڼ اوروښانه ځرک نه ښکاري، دکوم په لیدو چې دافغان ولس دا باور اویقین پوخ شي چې نورد دوی دغمونو اوویرونودپای شیبې رالنډې شوې او که خدای کول په هیوادکې به دسولې مرانـدې وغځیږي اودسولې دتږي دارمانجن ولس دالوی ارمان به پوره شي.

دطالبـانو یعنـې اسلامي امـارت دسیاسي دفـتر د مرکچیانو او دخلیل زاد په مـشرۍ دامریکـایي دیپلوماتـانو ترمنځ دافغـان جګـړې پـای تـه رسولو پـه موخـه دمخامخ مذاکراتو اوخبرو اته پړاوونه تیرشول، تمه وه چې داتم پړاو په پای کې به دواړه لوري دجګړې دپای ته رسیدو په اړه یوه هوکړه لیک لاسلیک کړي، لیکن داهیلـه منـدي هغـه مهال نهیلې شوه چې کله اتـم پـړاوهم دکومې هـوکړې لاسـلیکولو پرته خپل منطقي انجام ته ورسید.

که څو هم طالبان اوامریکایي پـلاوی ، بیـا بیـا ټینګـار لري: چې دجګړې دپـای تـه رسولو پـه اړه دواړه لـوري سره یوې حتمې موافقې ته رسیدلي اوهـم یـې دمتوقعـه هـوکړې لپاره دسـند مـتن یـا مسـوده هـم لیکلې چـې د وروسـتۍ منظورۍ لپاره هغه د دواړو لوریو لوړپوړو قیادتونوتـه لیږل شوې.

لیکن بیا هم دافغان ولس په منځ کې دسولې پـه اړه د شته نا ارامۍ او اضطراب روحیه مخ پرزیاتیدو ده، اودهـرې ورځې په تیریدو سره یې په تشویشونو او اندیښـنوکې اضافه راځـي، ځکـه چـې ددې یوقـوې لامـل دادی چـې دامریکـا دګـوډاګي رژیـم مشرـ (اشرفـکـ) دسـولې ضـد ویـنـاوې اوحرکتونه ولس ویني اوهغه ګوري چې برملا دسولې پر ضد لګیادی اوهڅه کوي چې افغانستان ته سوله رانشيـ پـه دې وجه دملت دننه یې یوه لویه نا ارامي اوبې باورې زیږولې.

بـل پـردې عـلاوه کلـه نـه کلـه ځینـي خـارجي رسنۍ اوامریکایي چارواکي دسولې ضد اوازې اوشبهات شیندي او داسې پروپاګند کوي چې طالبـانو او امریکایـانو تـرمنځ پـه ځینوبرخوکې لاهم اختلاف شتون لري اوښایي دهغو له امله دمذاکراتولړۍ نهم پړاوته هم اوږده شي

دخبري رسنیو له قوله: دامریکا ولسمشرټرمپ دهغې مسودې [چې ورباندې طالبانو او زلمي خلیل زاد پـه مشرۍ دامریکایي ټیم توافق کړی] دمتن په اړه دامریکـا لوړپـوړې چارواکي مشورې ته وربللي وو اوپه اړه یـې دهغـوی نظرونـه اوراې ترلاسه کړې چـې هغـوی دغږیـدو وروسـته ولسمشرـ ټرمپ پخپل ټویټرولیکل: مـوږ دافغانسـتان پـه اړه یـوه ښـه خوړه ناسـته وکـړه او دناسـتې ډیـرې ګډونوالودافغانسـتان جګړې مخالفت وکـړ، او کـه ممکنـه شـوه داجګـړه بـه مـوږ دیوتړون په کولو سره پای ته ورسوو!

پـه ورتـه توګـه دټرمـپ اوسـپینې مـانۍ ویانـدې هـم داسلامي امارت دمرکچیانو او امریکـایي دیپلوماټـانو تـرمنځ په شویو مذاکراتو کې دخپل ټیم هلې ځـلې سـتایلې اوپـرې ډاډ یې ښودلی.

خو ددې سره جوخت په امریکایي رسنیواوورځپاڼوکې دافغانسـتان جګـړې دپـای تـه رسـیدو پـه اړه دامریکـا پـه وړاندې دجدي ګواښونو اوخطرونو اندیښنې رسـنیزې کـړې چې ګواکي کیدونکې هوکړه یاتړون دامریکا په زیان دی اوله افغانستانه دټولو ځواکونوتلل به دامریکاپـه راتلونکي منفي تاثیر وکړي او هم به په نړۍ کې دامریکا دشکست ذهنیت خورکړي.

هغـوی وایـي: طالبـان بـه افغانسـتان کـې دامریکـا مخالفینو ته ځای ورکړي او هغوی به په امریکا بریدونو تابیا وکړي. دکارپوهانو په انـد ددې ډول افواهـاتوخوررولو ترشا

دامریکائي استبلشمنټ لاس دی، ځکه هغه نه غواړي چې جګړه پای ته ورسي، دجګړې دوام دهغوی لپاره زیاتې ګټې لري، غواړي ددغسې موهوماتو په خورولو دامریکا دننه خلک او حکومت وډاروي، څو هغوی دجګړې دپای ته رسولو په اړه له خپل دریغ نه وګرځوي، ولې ښکاره ده چې دجګړې د دوام په ترځ کې هغه جنرالان چې دلته په افغانستان کې پوځي ماموریت ترسره کوي د لوړومعاشونو اوډول، ډول ترفیعاتو اومراعاتونه محروم شي،امریکا ته په ستنیدوبه دنوروپه څیر عادي معاشونه ولري، بل هغوی سره دا اندیښنه شته چې هسې نه هلته ورځخه جګړه دناکامی له امله نورګڼ امیتیازات او افتخارات هم بیرته واخیستل شي

شاید په ستنیدو سره هلته یې خلک دشکست خوړونکو جنرالانو په حیث وپیژني، اوځای پر ځای دخلکو لخوا بد عکس العمل مخ شي اونومونه یې دامریکا په تاریخ کې د هغو جنرالانو په نوملړ کې درج کړای شي کومو چې په جنګونو کې شکست خوړلی دی او هیواد ته یې دګټې پرځای زیانو رسولي، د دې رواني ډار په وجه هغوی دجګړې دپای ته رسیدو مخالفت کوي اوپه افغانستان کې دامریکا دپوځي شتون په دوام ټینګار لري.

پردې علاوه هغوی دلته دمخدره توکیو په قاچاق کې پریمانه ډالرترلاسه کوي دنړیوالو مافیایې کړیو لخوا ورته هرکال ملیونونه ډالرورکول کېږي، کله چې جګړه پای ته رسي او دوی امریکاتهدرومي، نو ددغو ملیونو ډالرو ګټه هم له لاسو ورکوي اوهلته بیا د دومره پریمانه پیسو ګټلو چانس یا فرصت په خوب کې هم نه ویني په دې وجه دجګړې دپای ته رسیدو په وړاندې شکوک اوشبهات شیندي اوپای یې دامریکا لپاره په راتلونکي دګواښونو لامل بولي.

امریکایي جنرلان په هغو سیموکې چې هلته دطالبانو نفوذ کم دی لکه پنجشیراوبامیان... دخپلو اجیرانو په مرسته دنادره عناصرو اوګرانبیه جواهراتوپه چوراوتالان کې لاس لري ، رسنیو کې وخت په وخت داسې ویډیوګانې نشرشوي چې لیدل کېږي امریکایان دجواهراتوپه کندلو اوټولولو لګیادي، داکار زیاتره دشخصي روابطو له لارې کوي او دخپلو بانفوذه افغاني اجیرانوپه مټ له افغانستانه دملیاردونو ډالرو په ارزښت جواهرامریکاته انتقالوي، غواړي داسلسله جاري وساتي، کله چې جګړه پای ته ورسي نوضرور به د امریکایي جنرالانو دغلا او چور دغه سلسله هم پای مومي، دغه وجه ده افغانستان کې دامریکا میشت جنرالان ټینګار لري چې دامریکا ټول پوځیان دې له افغانستانه نه ویستل کېږي بلکې یوشمیردې پاته کړای شي او دلیل دا وړاندې کوي چې بیا به افغانستان دامریکا لپاره له خطرونوځخه په ډک هیواد بدل شي.

امریکایي جنرالان ددې لپاره چې په افغانستان کې دامریکا سیاستوال دیوشمیرعسکرو په پاته کولو قانع کړي افغانستان کې دداعش بوټي ته اوبه ورکوي، غواړي هغه لوی کړي، په وروستیو کې کابل او جلال اباد کې دداعش لخوا پرلپسې بریدونه ترسره کول همدا معنی لري چې امریکا په افغانستان کې غواړي داعش دیو جهت په توګه مطرح کړي او بیا یې دخپلو په پلمه خپل یو شمیرعسکر دلته پاته کړي

نورازم دیته چې په ټوله کې دامریکا یې جنرالانو اراده دامریکایي سیاستوالو له ارادې بدله بریښي اوهغوی دجګړې دوام وغواړي او داعش ته په رشد ورکولو سره هڅه کوي دخپل اشغال غځولو ستراتیژۍ عملي کړي.

دې لړکې داسلامي امارت په مرکچې ټیم بانديې دفشار اچولو لپاره هم داعش ته په ښارونو کې دبریدونو زمینه برابروي،لیکن داسلامي امارت مرکچیان فکرکوم له پیله دامریکا دغسې برخورد ته متوجه دي او هم دامریکایي دیپلوماتانو اونظامیانوپه دریځونو کې دتناقض او تضادنه اګاهي لري، خصوصاً دداعش موضوع یې دامریکایانو په وړاندې په پوره ثبوت سره ایښې چې ترشایې امریکا لاس لري اودامریکا او داعش اړیکې اوس دومره برملادي چې د افغانانوځخه پټ ندي، که امریکا رښتیا جګړه پای ته رسول غواړي نوبیا ولې داعش تقویه کوي ولې ورته وسلې رسوي، او دکلابندۍ په صورت کې ورته طیارې کینوي اونورو سیموته یې رسوي او دطالبانو له محاصرې ژغوري؟ امریکاباید دنوشته دیواریه مصداق دخپل شکست انجام پخپله ولولي، او خپله سرزوري ختمه کړي، دواقعیتونو منلوته غاړه ږدي اوبل دامریکا جنرالان دې هم په ویښو غوږو واوري چې د دوی په نصیب کې وړاندې وې اوکه وروسته دشکست بدمرغه پیغور لیکل شوی ، هغه په دې چلونو ولونو نه محوه کېږي، ښه داده چې دخپل نورو عسکرو دکوپړیو ریږولوپر ځای له افغانستانه دوتو لارې چارې ولټوي او ددایمي شتون خوبونه دې نه ګوري. پای

"استخباراتي حضور" د داعش پرپالنه صریح اعتراف دی

الف لام

یوځل بیا دامریکا دمتحده ایالاتو ولسمشر "ډونالډټرمپ" په افغانستان کې داستخباراتي حضور دپاته کېدو خبره کړې او ویلي یې دي چې دوی له طالبانو سره د مذاکراتو له مخې له افعاستان څخه عسکر وباسي، خو په افغانستان کې به یې استخباراتي حضور په ځای وي، هغه چې دامریکا په" نیوجرسي" ایالت کې له خبریالانو سره خبرې کولې وویل : " هرڅه ډېر ښه روان دي مونږ به په راتلونکو څو اونیو کې داعلان لپاره یوڅه ولرو، مونږ غواړو په افغانستان کې دخپلو عسکرو شمېر له (۱۳۰۰۰) څخه راښکته کړو، خو په دې هیواد کې استخباراتي حضور به مو په ځای وي ..."

دالومړی ځل نه دی چې امریکا له افغانستانه د خپلو پوځونو له وتو سره هممهاله داستخباراتي حضور خبره کوي، درواني اسد دمیاشتې په ۱۷ نېټه هم له امریکا څخه خپرېدونکې ورځپاڼې " فارن پالیسي" په خپله خپره کړې ګڼه کې د دغه استخباراتي حضور خبر ورکړی واو لیکلي یې و:

امریکا له طالبانو سره په مذاکراتو کې له افغانستانه دخپلو پوځونو په وېستو سلا شوې، خو امریکا غواړي په افغانستان کې داستخباراتي حضور ساتلو په موخه خپل نیابتي ګروپونه پرېږدي"

دغه راز د روان کال د اپریل په میاشت کې کابل ته دامریکا داستخباراتو دمشرې " ګیناهاسپل" راتګ هم په همدې موخه بلل شوی و .

له دې څرګندونو سره روانو مذاکراتو ته د نه ژمنتیاترڅنګ ډېرې هغه اندېښنې هم په ځای بلل کېږي چې شایدامریکا په سیمه کې خپلو موخو ته درسېدو لپاره د " داعش" نیابتي ګروپ تقویه کړي او همدا لامل دی چې امریکاپه مذاکراتو کې له طالبانو سره په دایمي اوربند ټینګار کوي، ترڅو د دغه اوربند په اوږدو کې د"داعش" له لوري حملوته زور ورکړي او وښیي چې بواځې طالبان دمقاومت ډله نه ده او امریکاته د (نه ګواښ) په تضمین ورکولو کې به یې هم پاته وښیي .

په دې وروستیوکې په کابل کې د داعش دحملو زیاتوالی همدا خبره باوري کوي چې د " دبۍ ښار" د ودونو په تالار حمله یې وروستی ثبوت دی .

له افغانستانه دشرمنده ماتې دانتقام په غرض دغه ډول څرګندونې د "داعش" پر پاللو ښکاره اعتراف دی او په دې کې خو شک نه شته چې داعش د امریکا پروسه ده، په دې اړه په افغانستان کې لا له وړاندې دولتي لوړپوړو چارواکو او غیردولتي اشخاصو ښکاره څرګندونې کړې او ترېوه حده یې خپل دلایل اوشواهد هم ښودلي دي، په جنګونو کې د داعش ژغورنې او په وسلو دهغوی دتمویل هڅې خویې له مخکې رسوا شوې دي .

د شنونکو په اند په داسې یوه نازک حالت کې چې دافغانستان د قضیې په اړه امریکا له طالبانو سره په کومه سویه مذاکرات پیل کړي، امریکاته نه ښایي دغه ډول څرګندونې وکړي او نه هم دامریکاسیاسي او پوځي اعتبار ته د ټکان ورکولو په غرض دامریکامتحده ایالات دغه ډول کړنو ته زړه ښه کړي.

په کار ده دامریکامتحده ایالات په ډېره هوښیارۍ او نزاکت خپل دغه اعتبار په ځای وساتي او په پرده کې له افغانستان څخه خپلې قواوې راوباسي، دترسره شویو تجربو تقاضا داده چې نور په دغه ډول خلکو او حکومت د وخت پرمختللی قوت او طاقت بې ځای پانګونه ونه کړي، کوم څه چې دوی په افغانستان کې ترسره کړل هېڅ لاسته راوړنه یې نه پاته کېږي له دې پرته چې د ډېر کمزورۍ، پاشلي، ناقانونه، بې قدرته او په اخلاقي او اداري فساد ککړ حکومت په ملاتړ به یادشي .

اقتصادي بنديزونه

پر دښمن دغلبې لپاره د امريکا کاميابه وسله

حسن مومند

دتېرو زمانو په څېر لاهم دکمزورو ملتونو او هېوادونو دقبضې او پرې دغلبې لپاره دزور نه کار اخستل کېږي او پرکمزورو هېوادونو سترزبرځواکونه فوځي يرغلونه کوي خو فوځي يرغلونه ديرغلگرو لپاره له ځانه سره مالي او ځاني ډېر زيانونه لري او سره ډېرو زيانونو له دې لارې هدف ته هم نه رسېږي نو ځکه دنړۍ زبرځواکونه اوشيطاني طاقتونه په دښمنو هېوادونو کې اول دداخلي اختلاف او انتشار؛ ددولت پرضد دولس دراپاڅولو او دکورني جنگونو دراپېدا کولو هڅې کوي او چې پکې بريالي نه شي نو بيا ورته دول دول پلمې جوړوي او پرې اقتصادي بنديزونه لگوي.

اوس ديو هېواد دمحکوم گرځولو اوپرې دخپلوغوښتنو دتحميلولو لپاره اقتصادي بنديزونه ډېره اسانه لاره ده؛ داقتصادي بنديزونو له لارې د هغه هېواد اقتصاد سخت خراب شي او داقتصاد خرابي بيا دهغه هېواد دبربادۍ لامل شي چې همدا اوس يو شمېر هېوادونه پر دوئ دلگول شويوبنديزونوله امله دهمداسې حالت سره مخامخ دي.

مثلاً امريکا دايران اتومي پروگرام پلمه کړي او پرايران يې اقتصادي بنديزونه لگولي دي چې ورځ تربلې پکې زياتوالی راځي، همدا ډول پرشمالي کوريا دوه کلونه وړاندې دملگرو ملتونو اداري بنديزونه لگولي چې تراوسه دوام لري او پرکريميا دروسې دحملې او قبضې په نتيجه کې امريکا او اروپا پرروسې اقتصادي بنديزونه ولگول چې تراوسه لا ندي لري شوي.

ديادو ۳ واړو هېوادونو اقتصاد دسخت فشار ښکار دی، کرنسي يې خپل قدر او قيمت له لاسه ورکړی او تجارت يې دتباهۍ يادلوی تاوان سره مخامخ دی.

داقتصادي بنديزونو ښکار هېوادونه عموماً يو ډول عکس العمل ښکاره کوي؛ دمذاکراتو پرځای ددې هېوادونو حاکمان يې له مناسب تياري دمقابلې ډگر ته راوځي؛ دملي وقار خبره رامخې ته کوي او دخپلو احساساتي وېناوو له لارې ملت ته ددې بنديزونو په

مقابل کې دقربانۍ ورکولو تلقینونه کوي. خوصحت، زدکړو او دژوند نورو ضرورتونو ته دخلکو لاس رسی ورو ورو محدودېږي؛ کله چې بیا دجنګ خبره رامنځته کېږي نو دبودیجې لویه برخه دفاع ته ځانګړې کېږي چې پدې سره دولسي وګړو اقتصاد نور هم خرابېږي چې ورسره سم په ولسونوکې د دولتونوپرضددبغاوت وېره راپیداکېږي نو مجبوراً حاکمان مذاکراتو ته غاړه ګدي او دتېرلو هغو خبرو منلو ته تیارېږي چې تېرې یې غوښتنه کېږي لکه په کیوبا او ویتنام کې چې همداسې وشول.

دکامیابو مذاکراتو نه پس هېواد دعادي حالت پرلور روانېږي خو وړاندې ترې دملت اقتصادي حالت ډېر خراب شوی وي چې عادي حالت ته راتلل یې ډېر وخت نیسي.

کریمیا دشمالي اروپا دمشهور هېواد یوکراین برخه وه خو داوسېدونکو اکثریت یې په روسي ژبې غږېږي؛ دلته په ۲۰۱۴م کال کې هغه مهال ددولت ضد ولسي-احتجاج رامنځته شو چې کله دیوکراین ولسمشر دروسې سره اقتصادي تړون لاسلیک کړ؛ دیوکرین خلک ددې تړون پرضد راپورته شول او دخپل دولت نه یې جدي غوښتنه وکړه چې یوکرین داروپا برخه ده نو دروسې سره شوی تړون دې لغوه او پرځای دې یې اروپایي اتحاد سره تړون رامنځته شي؛ احتجاجونو چې زور واخست نو دیوکرین ولسمشر- روسې ته وتښتېد او د روسې دولسمشر- ولادي میرپوتین میلمستیا یې قبوله کړه؛ روسې ددې احتجاجونو په مقابله کې پر کریمیا حمله وکړه او کریمیا یې دخپل هېواد برخه وګرځوله، دروسې دا قبضه امریکا او اروپایي اتحاد په ډېرو سختو ټکو وغندله او ډېرو خلکو ګومان وکړ چې شاید لویدیځ دروسې پرضد نظامي اقدام وکړي خو چې هغه مهال بارک اوباما دامریکا ولسمشر و نو داسې ونه شوه بلکې امریکا او اروپایي اتحاد پر روسې هراړخیز اقتصادي بندیزونه ولګول په پیل کې دا دروسې پرضد یو کمزوری او بې اثره غبرګون ګڼل کېدلو او روسې هم داسې ښکاره کوله چې ګیني دهېواد پراقتصاد به یې دا بندیزونه بدې اغېزې ونکړي خو چې دا بندیزونه هراړخیز وو نو پرروسې یې ورو ورو بدې اغیزې رامخې ته شوې: دروسې کرنسي-روبل قدر او قیمت ډېر وغورځېد؛ دصادراتو کچه یې راولویده او هغه روسیه چې پرکریمیا له یرغل وړاندې یې اقتصادي وده په ډېرې تېزۍ مخ په وړاندې روانه وه او پوتین هڅې کولې چې روسیه د نړۍ یو له سترو اقتصادونو څخه وګرځوي اقتصادي وده یې نه یوازې دا چې ودرېده بلکې اقتصاد کې یې منفي نښې هم راښکاره شوې چې دا دروسې لپاره دتکلیف نه ډېره ډکه خبره ده؛ دروسي ولسمشر پوتین او دباتدنیو چارو وزیر سرګي لاوروف څو کرته ددې بندیزونو دلرې کولو خواست وکړ خو خواستونه یې ونه منل شول حال دا چې دروسې ترټولو ستر شرکت (ګازپرام) اروپا ته دنل لیکې له لارې ګاز رسوي خو اروپا هم خپله داقتصادي بندیزونو محاصره روانه وساتله او ددې محاصرې پرړاندې دا وېره حاټله نه شوه چې شاید روسیه اروپا ته دغازو رسول ودروي څکه چې اروپایي اتحاد پدې پوهېدلو چې روسیه دا اقدام څکه نه شي کولی چې په دې سره یې اقتصاد ته لازیات تاوان رسېږي.

پر روسې اقتصادي بندیزونه لګېدلي دي خو ورته ښه داده چې امریکا او نورو لویدیځو هېوادونو ورسره دیپلوماتیکې او نورې اړیکې ندې پرې کړي او تېرکال په پولینډ کې دپوتین او دهغه دامریکایي سیال ډونالډټرمپ ترمنځ لیدنه او خبرې رامنځته شوې وې.

که ایران او شمالي کوریا ته راشو نو وینو چې ددې دواړو هېوادونو داتومي پروګرامونو له امله پردوئ دلګېدلو اقتصادي بندیزونو اغېزې له روسي نه ډېرې زیاتې اوجوړې دي.

په ۱۹۵۲م کال کې چې شمالي کوریا دیو مستقل هېواد حیثیت غوره کړچې له هماغه وخته دامریکا سره دنزاع او مخالفت حالت کې ده؛ ددې یو مهم لامل ددې هېواد سرسخته کمونیستي نظریات او افکار دي؛ سره له دې چې اوس په نړۍ کې کمونیزم پاتې نه دی؛ په افغانستان کې دماتې خوړلو او په روسي د شوروي اتحاد بدلېدلو نه پس له روسي نه دکمونیزم جنازه ووتله؛ چین هم دازاد بازار اصول خپل کړل او له همدې اصولو له مخې یې له نړۍ سره سوداګریزې اړیکې رواني دي خو شمالي کوریا لاهم دکمونیزم نه ددفاع جنګ روان ساتلی او ددې هېواد دباني کم ال سنګ لمسی کم جونګ پدې فخر کوي چې هېواد یې سوسیالیست هېواد دی.

شمالي کوریا اتومي طاقت دی او غښتلی فوځ لري؛ خپل اتومي طاقت او توغندویي نظام ډېر قوي ښکاره کوي او ادعا کوي چې امریکا په اسانه په ښنه کولای او ستر تاوان وراړولی شي؛ ددې ترڅنګ خپل دوه ګاونډي هېوادونه جاپان او جنوبي کوریا چې دواړه دامریکا حلیفان دي سخت ګواښي او دله منځه وړلو اخطارونه ورکوي چې دې کار له امریکا اواروپا پرته په نورې نړۍ کې هم ددې هېواد پرضد مخالفت او کرکې کې زیاتوالی راوستی دی.

شمالي کوریا په ۲۰۱۷م کال کې په خپل اتومي پروګرام کې تېزوالی راوست او دهایدروجن بم د کامیابې ازموینې دعوی یې هم وکړه؛ ددې ترڅنګ یې دجاپان سمندر ته یو توغندی هم وتوغولو چې دا دملګروملتونو داداري له لورې پرې هېواد د سختو اقتصادي بندیزونو لامل شو؛ دا ځل چین او روسي هم دملګرو ملتونو له لورې دا لګېدلي سخت بندیزونه ویټو نکړل بلکې دا بندیزونه یې تائید کړل چې دې کار شمالي کوریا ته سخت ټکان ورکړل او په رومبي ځل دسخت نړیوال غبرګون سره مخامخ شو؛ داچې چین دشمالي کوریا یواځنی تجارتي شراکت دار دی نو دچین په مقابل کې سرټیټولو ته اړ او په ۲۰۱۷م کال کې دامریکا سره خبرو ته چمتو شوه.

دکم جونګ او ډونالډټرمپ ترمنځ تراوسه دوه لیدنې شویدي؛ کم جونګ اوس په ښکاره دخپل اتومي پروګرام نه لاس په سر کېدلو او داتومي وسلو نه دخپل هېواد خالي کولو ته چمتو ښکاري خو تراوسه یې چې خپل ملت دکومې اقتصادي بربادۍ سره مخامخ کړیدی په نړۍ کې به شاید ایله دوه درې نور داسې هېوادونه وي چې دملت اقتصادي حالت یې دومره خراب وي.

دوئ نه دبهر نړۍ سره تجارت کولی شي؛ نه دلته خوک پانګونه کوي او نه هم دلته دچا سره مالي مرسته کېږي او دا په داسې حال کې ده چې ددې هېواد خپل وسایل هم محدود دي.

خو ددې برعکس جنوبي کوریا دنړۍ په پرمخ تللو هېوادونو کې شمار او ایشیاء تایګرز کې ورشامله ده؛ صنعت او ټیکنالوجي یې په نړۍ کې مثالي ګڼل کېږي دا ځکه چې هیڅ ډول بندیزونه پرې نشته؛ دلویدیځ سره یې هر ډول روابط خورا ډېر ښه دي او دامریکا له مهمو حلیفانو هېوادونو څخه یو دی.

که ایران ته راشو نو وینو چې له تېرو ۳ لسیزو راهیسې داقتصادي بندیزونو سره مخامخ دی؛ دخمیني

انقلاب نه پس يې دلويديځې نړۍ دزياترو هېوادونو سره ديپلوماتيکې اړيکې پرې دي؛ خو پدې هېواد لوي اقتصادي بنديزونه هغه مهال ولګېدل چې کله ايران خپل اتومي پروګرام پيل کړ؛ ايران ويل اتومي پروګرام يې دسوله ايزو اهدافو لپاره دی خو امريکا او نورو لويديځ ويل چې داپروګرام دهغويورانيمو دغني کولو لپاره دی چې په اتوم بم کې ترې کار اخستل کېږي؛ دايران دپخواني ولسمشر احمدي نژاد واکمنۍ پرمهال دابنديزونه نورهم سخت شول او چې کله په ۲۰۱۲ م کال کې حسن روحاني دايران ولسمشر وګرځېد نو دنړۍ دستروقدرتونو سره دخپل اتومي پروګرام په سر خبرو کولو او داقتصادي بنديزونو دله منځه وړلو لپاره يې ډېرې تېزې هڅې پيل کړې ځکه چې داحمدي نژاد دواکمنۍ پرمهال داقتصادي بنديزونو دسختوالي له امله په ايران کې دخلکوبې کارۍ او دنرخونو لوړوالي د ايرانيانو ژوند سخت اغېزمن کړی و نو ځکه يې يو ځل نه بلکې دوه کرته حسن روحاني منتخب کړ؛ داوباما دواکمنۍ پرمهال امريکا نرمې ښکاره کړه او ايران هم دکاميابې ديپلوماسۍ نه کار واخست چې په نتيجه کې دنړيوالو خواکونو سره په ۲۰۱۵م کال کې دايران داتومي پروګرام په سريو ترون رامنځته شو چې له مخې يې ايران دملګرو ملتونو استازو ته دخپل پروګرام دنېږدې نه دليدلو اجازه ورکړه او په مقابل کې يې دايران کنګل شوي بانکي حسابونه خلاص شول؛ اقتصادي بنديزونه ترې لرې شول دنړۍ سره يې راکړه ورکړه او دنړۍ په مارکيټونو کې يې دتيلو خرڅلاو پيل شو او اقتصاد يې په ډېرې تېزۍ مخ په ښه کېدو شو خو دلته ايران داسهوه وکړه چې دمنځني ختيځ دګڼو هېوادونو په فوځي او سياسي چارو کې يې مخامخ لاسوهنې پيل کړې؛ په شام کې دبشارالاسد ترځنګ ودرېد او پاسداران انقلاب يې دبشارالاسد دفوځونو سره اوږه په اوږه ترکلونو دهغو سني دلو پرضد وجنګېدل چې عربو يې حمايت کاوه.

همداراز په يمن کې دهغو حوثيانو ترشا کلک ودرېد چې پرسعودي عربستان يې مخامخ بريدونه کول؛ په منځني ختيځ کې دايران همدې برېنډې لاسوهنې که له يوې خوا نېږدې ټوله عربي نړۍ دايران دښمنۍ ته متحد کړه نو بل لور ته يې غرب کې هم ايران بدنام او امريکا ته دايران پرضد داقدام کولو لپاره پلمه په لاس ورکړه نو

نتيجه دا شوه چې ترمپ د ايران پاسداران انقلاب تروريست وسلوال ځواک وګڼلو او د تېر ۲۰۱۸ م کال په نومبر مياشت کې يې دايران سره شوی ترون لغوه کړ؛ اقتصادي بنديزونه يې پرې بيا ولګول چې له امله يې دايران دتېلو توليد خورا ډېر راکم شو؛ دايران دريال ارزښت هم ډېر زيات راوغورځېد تردې چې اوس يو امريکايي ډالر د ۱۶۵۰۰۰ يوسل پنځه شپېته زره ايراني ريالونوسره تبادله کېږي؛ بې کارۍ زياته او داجناسو نرخونه ډېر لوړ شويدي چې دولت يې ډېر ستر فشار سره مخامخ کړيدی او ډېر زيات يې ورخطا کړيدی؛ نو ځکه

ولسمشر حسن روحاني او دباندنيو چارو وزير جوادظريف دملي وقار او عزت خبره شاته کړه او ټولې نړۍ ته يې خواست وکړ چې ايران ته دې داقتصادي بنديزونو نه نجات ورکړي.

دیادولو وړ ده چې دپخوانيوو او اوسنيو اقتصادي بنديزونو ترمنځ ډېر توپير شتون لري؛ پخوا چې نړۍ په دوه بلاکونو ويشل شوې وه دامريکا او نور لويديځ له لورې دلګول شويو بنديزونو اغېزې به ترکلونو کلونو نه رامخې ته کېدې خو اوس چې نړۍ يو قطبي شويده او امريکا داقتصادي بنديزونو لګولو لپاره دملګرو ملتونو اداري له لارې ټوله نړۍ دخان سره يوځای کوي نو اوس يې بدې اغېزې ډېرې ژر رامخې ته کېږي او دنړۍ يو هېواد هم ترې دسر غړاوي جرأت نه شي کولی ځکه چې دسرغړاوي په صورت کې په هاغه هېواد پخپله بنديزونه لګېږي.

دايران سره دهند روابط ډېره ښه دي دچاه بهار په ښبر په مهمې ا وسترې پروژې کې دواړه شراکت داران دي خو چې امريکا پرايران اقتصادي بنديزونه ولګول نو هند پخپله ومنل.

همدا راز پرشمالي کوريا لګول شوي بنديزونه هم چين په پټو سترګو ومنل سره له دې چې چين په نړۍ کې دشمالي کوريا يواځنی تجارتي شراکت دار دی.

دا هم مهمه ده چې اوس دانټرنيټ دور دی؛ په کوم هېواد چې بنديزونه ولګول شي دهغه هېواد ددولت پرضد ولس ډېر په اسانه راپارولی او پردولت فشار راوستلی شي چې دولت بيا په اسانه خبرو ته تيارېږي.

نو ويلې شو چې اقتصادي بنديزونه د خپلې غلبې راوستلو لپاره د ننۍ زمانې يوه ترټولو اغېزمنه وسله ده چې شايد دامريکا په ځېر زبرځواکونه به نور دخپلو مخالفينو پرضد له همدې وسلې نه کار اخلي.

هرڅوک پوهېږي چې امريکا په افغانستان کې ماتې خوړلې ده؛ مجاهدين دجنګ ډګرکې فوق العاده برلاسي دي؛ امريکا نور په هيڅ صورت دلته دټينګې نده اودشرمېدلې ماتې سره وتل يې يقيني دي؛ په ښکاره ورسره دمذاکراتوارتيا نه محسوسېږي خوبيا هم دافغانستان اسلامي امارت ورسره په مذاکراتو کې ځان سخت مصروف کړی اوغواړي چې دمذاکراتو له لارې ستونزه حل او ديو ترون په اساس امريکا له افغانستان نه ووځي؛ ددې کار دګټو تورو ګټو ترڅنګ يوه لويه ګټه داده چې اسلامي امارت نه غواړي چې دامريکا اونور لويديځ سره خپله دښمني همداسې روانه وساتي او دجنګ داوږدو کړاوونو، تاوانونواوبرباديونه پس خپل ملت داقتصادي بنديزونو دګواښ سره مخامخ کړي.

دامريکايي اونوورواشغالګروپه مقابل کې دجنګ ډګر کې چې طالب څومره قرباني ورکړه اوپه څومره مېړانې وجنګېد بيان ته اړتيا نه لري؛ همدا کفايت کوي چې امريکايان يې هم دمېړانو ستاينې کوي خوکله چې دهېواد دچارو د سمبالولواوحکومت کولو وخت راځي نو خپلوموخوته درسېدلو، دخپلو عالي اهدافو دساتنې او دخپل هېواد او ملت دهر اړخيز پرمختګ لپاره دحسن تدبير اړتيا ډېره زياته محسوسېږي؛ داحساساتي خبرو، پرېکړو اواقداماتو انجام ښه نه وي؛ داسبابوپېدې نړۍ کې اسلامي امارت دشرعي اصولوپه رڼا کې لګيا دی دحسن تدبير له مخې خپلوپاکوموخوته درسېدلو هڅې کوي اوهمدا يې په وس پوره ده، دنتايجوترتب پرې داالله تعالی کار دی؛ هغه څه به کېږي چې دڅه مشيت الله تعالی وکړي.

شعر... !

دافغانستان

د خپلواکۍ د سلمې کليزې په وياړ

تـوروو تيـارو تـه رڼـا سـهريمـه تـاريخ وګـوره
زه د تـاريخ داسـمان لمـريمـه تـاريخ وګـوره

د شـيطاني لښـکرو زور او فريب مـات نـه کړمـه
کلـک دايمـان او غيـرت غـريمـه تـاريخ وګـوره

پـه سـد کـوم هـره صـدۍ کـې هـر بـې سـده انسـان
دلېـوني جهـان ډاکتـر يمـه تـاريخ وګـوره

هـره پېـړۍ کـې پـرمخ ولمـه دوخـت پـاړوګر
زه لـه منتـره بـالاتر يمـه تـاريخ وګـوره

افغانسـتان يـم چـې راځـې پـه احتـرام بـه راځـې
زه ادېـره ډيرغلګـر يمـه تـاريخ وګـوره

پـه مرګ کې ژوندوينم پـه جنګ کې مې جانان وينمه
دحق پـه سـر کـې تېـر لـه سـر يمـه تـاريخ وګـوره

ظـالم تـه اورشـمه چـې غـاړه ورکـړم ويـې سـېزم
مظلـوم تـه خـوږلکـه شـکريمـه تـاريخ وګـوره

دوخـت سـرزوري مـې سـرماتي او سـرټيټ ولېـږل
حـق پرسـت څـواک يـم زورور يمـه تـاريخ وګـوره

چـې باچـاهي مـې ملنګـي کـړه دمېلمـه پـه خـاطر
ګـوره! مـلا محمـدعمر يمـه تـاريخ وګـوره

لکـه يوسـف اوس راتـه کانـدي باچاهـان سـلامي
هغـه ورک شـوی بـرادريمـه تـاريخ وګـوره

زمـا پـه شـتون ددې بـې خونـده نـړۍ خونـد جـوړدی
مفتونـه دومـره خونـدوريمـه تـاريخ وګـوره

ناکار

سـم کـه سُـر تـال دجهـان --- لاالـه الاالله
بيـا پـه تکـبير پـه اذان --- لاالـه الاالله

لـه حقيقـت اخوا،دوهـم غلـيدلی بـازار
دا زولـنې دګـومان --- لا الـه الاالله
د خـدای پـه يـاد د زړه ګلبڼ تـازه پـه"قُم لاتحـزن"
څـه پسـرلی څـه خـزان --- لاالـه الاالله
د هسـکو غـرو شـاهين زنـار غـاړه کـې نـه ګرځـوي
خليـل تـه څـه دي بوتـان-- لاالـه الاالله
څـومره خالد(رض)پـه ډګـر څکلـي د روميـانو زهـر
بـاروت ږلـی او بـاران --- لاالـه الاالله
د بـوډۍ ټـال غونـدې رنګـين دی داسـمان پـه تڼـډه
د قـربانۍ کهکـشان--- لاالـه الاالله
د پلوشـو پـه ژبـه سـتورو کـړې ناشـنا زمـزمې
اتـڼ اتـڼ شبسـتان--- لاالـه الاالله

دخـدای حضـور دقيامـت شـور نشـي انخـور ناګـاره
د ملـت څيـرې ګريـوان --- لاالـه الاالله

طالبه شملوره / سکون

امداد ته دې راغلي کومکونه دې له پره
طالبه شملوره طالبه شملوره
ملګي درسره دي په سر زورو زورور
طالبه شملوره ، طالبه شملوره
غبار له کلو وګنده راځه راځه نیزبینه
زاولوزه نسیمه ، زاولوزه نسیمه
راغلان له چمن تښتي ستا رعب خیمي حسینه
[illegible]
د عشق سرو لمبیبلندي قوت کړي زبوره
طالبه شملوره ، طالبه شملوره
پښتي نوراني ورانګي را ایله کړه لري پرې
ښتي مرغلري، زريمي مرغلري
د امن غبیه وسپره پښتي پښتي وزري
د سولي خوندوري، د سولي خوندوري
دا توري تیاري ختمي کړه په ورانګو منوره
هرخوا دغروږخلي رانیدي په غورزیدو دي
ملي په نړیدو دي ملي په نړیدو دي
ښکري طاغوتي شکست خورده په مقیدودي
[illegible] په وتو دي، په تېښته په وتو دي
ښرنګار دسپینو تورو ولولي له هر بګره
طالبه شملوره ، طالبه شملوره
عادیانو ثمودیانوته سیلی باد او باران ئي
[illegible]
[illegible] نوح پشان توپان ئي
[illegible]
دوخت دغرور غلي دي نسکور کړل سمنره
طالبه شملوره ، طالبه شملوره
مومینو پرګتو کي پاریدني ولولي دي
دفتحي علامي دي، دفتحي علامي دي
دکفر په ملکونو شکست کډ دي زلزلي دي
مرګـوني غلبلي، مرګـوني غلبلي دي
خندق ورته جوړ شوی دافغان له سمه غره
طالبه شملوره ، طالبه شملوره
سڅیږځلیولیونیڅونه که ډک دي زندڅونه
ویده شول څنګیرونه، ویده شول څنګیرونه
سرو وینو دشهید رنګوکولي دي ګلونه
خوشبوشول سمه غرونه، خوشبو شول سمه غرونه
[illegible] ازادي لباس کي راغلي بختوره
[illegible]
دمستو فـدايانو، دمستو فـدايانو
مسـيرپي بند کړای نشو دا په ډرون [illegible]
د حق دلاوريانو، د حق دلاوريانو
دلجهاد نعره دي پورته شوي له ممبره
طالبه شملوره ، طالبه شملوره

مسـير پې بند کړای نشو دا په ډرون اېتم بمقو
د حق دلاوريانو، د حق دلاوريانو
دلجهاد نعـره دي پورته شوي له ممـبره
طالبه شمـلوره ، طالـبه شمـلوره
طالبه په سرو وينـو دي شوه سيمه ګلورينه
فضاء بنکلاري رنګينه، فضاء بنکلاري رنګينه
انجام ته رسيد ونکي د وخت ستري کارنامي دي
[illegible]
دحق د سپيني ميني مجاهد غازي دلبره
طالبه شملوره ، طالبه شـــــــملوره
ژوندون دغلامي سره وکړي پي سمون دي
شيبي داوښتون دي، شيبي داوښتون دي
هم تقه انتظار دي اولسونه بې "ســـــکون" دي
سپيدي دصباون [illegible] سپيدي دصباون دي
[illegible] د خپلواکۍ دي مثل شوی بختوره
طالبه شملوره ، طالبه شملوره

وطنه!
مبارک شه استقلال

استاد علي انس

پـه تـره مـو راوسـتې، نـه کـړو سـوال د ازادۍ
وطنـــه! مبـــارک شـــه اســـتقلال د ازادۍ

په ځکـو سـترګو راشـه سـلم ګـل دي مبـارک شـه
پـه وينـو مـو لـور کـړی دی مــوزال د ازادۍ

زور واکـي مـو لـه زوره غورځـولي دجهـان دي
نـړی تـه مـو يـل کـړی دی مثـال د ازادۍ

د وخت عمـر، منصـور پـه ببرهيبت اچـوي تاتـه
راتيـت کـړه دغـه سـر دې، نـوی شـال د ازادۍ

راځـي بـه د سياسـت پـلاوي ورګـورې بـه جهانـه
ترځنـګ بـه يـې راخسـتی وي دسـمال د ازادۍ

بـې سـاره فـدايان او اميـران مـو درنـه ځـار کـړل
تـر هـر وار بـه وي ډېـر داځـل جمـال د ازادۍ

خوبونـه تعبيـر شـوي ورتـه غـوږ شـئ مسـلمانو
اذان د خـپلواکـۍ کـوي بـــــلال د ازادۍ

دوخت منصـور يادګـار درسـره وسـاته تـاريخ کـې
پـه تنـده د ښـــــکلا لپـاره خـــال د ازادۍ

راځي د رب په مرسته بـه «انسـه!» زمـوږ تـرکـوره
ختلـي مـو پـه برخـه دي نـــن يـال د ازادۍ

د جهادي چارواکو شهادت د جهادي داعيې برحق والی ثابتوي

احمد مختار

په داسې حال کې چې د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ مذاکراتي بهیر وروستي پړاو ته نیږدې کېدونکی دی د هېواد په دا خل کې امریکایي یرغلګر او د هغوی اجرتي اردلیان خپل نهایي وحشت تر سره کوي، بېدریغه بمبارۍ کوي، پرولسي سیمو چاپې وهي او هره لحظه د عام وګړو مرګوني عملیات انجاموي چې په نتیجه کې یې موږ هره ورځ د سلګونو ولسي وګړو د شهادت او ژوبلېدو د ویرجنو صحنو شاهدان یو.

دا چې مجاهدین او د هغوی جهادي چارواکي د ولس د دفاع په لومړۍ کرښه کې قرار لري نو ډېر وخت داسې هم پېښېږي چې تر ولسي- خلګو وړاندې مجاهدین او د هغوی جهادي چارواکي د دښمن د برید هدف ګرځي او له خپل ولس څخه د دفاع په سنګر کې په میړانې سره شهیدانیږي.

چې په دې وروستیو کې د فراه ولایت د جهادي مسؤل او د پنجشیر لپاره د جهادي مسؤل مرستیال شهادت یې ژوندۍ بېلګې دي.

که څه هم چې ظاهرا د جهادي چارواکو شهادت د مجاهدینو لپاره یوه ضائعه ګڼل کیږي، خو د دې ترڅنګ بیا همدا شهادت زموږ د ټولې جهادي داعیې د برحق والي لپاره یو ښکاره ثبوت دی.

څکه د امارت جهادي چارواکي یواځې دا نه چې هغوی ولسي خلګ د اشغال خلاف جهاد ته دعوتوي؛ بلکې تر هغوی لومړۍ خپله دوی د جهاد او شهادت سنګرونو ته ور دانګي، دښمن هم وژني او دوی هم په دې ویاړمنه لاره کې وژل کیږي.

په جهادي مورچلونو کې د جهادي چارواکو شهادت د دښمن پر هغو ټولو تبلیغاتو د ابطال کرښه راکاږي چې وایي په افغانستان کې د اشغال په وړاندې روان جهادي مقاومت له بهرنه د بهرنیو په لمسون پر مخ بیول کیږي.

همدا راز په جهادي سنګرونو کې د جهادي چارواکو شهادت د دې ښکارندویي کوي چې جهادي مسؤلین د ولس له منځه را پورته شوي، د هغوی په منځ کې لوي شوي او له هغوي څخه د دفاع په مورچل کې له هغوی سره یو ځای په میړاني او شهامت سره شهیدان شوي دي.

امارتي چارواکي د کابل د ګوډاګي رژیم د چارواکو برخلاف داسې څوک نه دي چې خپله د عیش او عشرت ژوند ولري او د ولس بچیان د جګړې لومړۍ کرښې ته ورټیل وهي.

په جهادي محاذونو کې د جهادي چارواکو شهادت د مجاهدینو لپاره هم دا پیغام لري چې هغوی د دفاع په سنګرونو کې تنها نه، بلکې جهادي چارواکي تر دوي وړاندي له دښمن سره د مقابلې په مورچلونو کې ناست دي.

مجاهدین باید په دې باور ولري چې د هغوی رشید قیادت په هر حالت کې د هغوی ترڅنګ دی، دا حالت که له دښمن سره د پوځي مقابلې حالت وي، او که په دفتر کې د پوځي مقابلې د نتیجې لاسته راوړلو د سیاسي مفاهمې حالت.

ان شاء الله نور هغه وخت لیرې نه دی چې افغان مجاهد ولس او سر ښندونکی مجاهدین په ګډه سره له امریکایي اشغال څخه د خپل هېواد آزادي تر لاسه او دلته یو خپلواک اسلامي حاکمیت قائم کړي.

د همدغو تاریخي شیبو د ژر رارسیدو په هیله.

داعش فکري ډله ده که استخباراتي پروژه!؟

خيبراحمدم

دکابل ګوډاګي رژيم هڅه کوي ترڅو دملي امنيت په زيرخانو کې روزل شوو اوپالل شوو مليشو ته دداعش نوم ورکړي ، وې پرسوي ، تبليغات ورته وکړي ، خطرناکه يې معرفي کړي ، افغانان او نړۍ پرې وويروي او په ټنډه او سينه يې ديو نامنهاده فکر او تګلورۍ ليبل او شناخت ور وټومبي.

اشرف غني څو ورځې وړاندې ووئيل چې داعش په افغانستان کې فکري جرړې او بسترلري ، دده په خبره دهيواد په ګڼو ښارونو کې خالي او پيروان لري او امنيتي ځواکونه يې بائيد وځپي !!

دداعش په باب دغني خبري لکه دهغه دنورو خبرو ، چيغو او ربمباړو په څير ناسمي ، جعلي ، پرسوده او له شيطاني غيض او فريب نه ډکي دي

داعش ډله په افغانستان کې هيڅ فکري زيربنا او تمرکز نلري ، بلکې دملي امنيت يوه خاصه جنګي قطعه او داجرتي مليشو يو باند دی ؛ دنده يې داده چې داشغالګرو او دهغوئ دبې ضميره ګوډاګيانو په وړاندې دروان جهاد او مقدس مقاومت په مخ کې خنډونه واچوي ، خلک مشوش کړي او دافغانانو واحد ديني تمسک او عقيدت ته زيانونه ورسوي او په منځونوکې يې تفرقي راوټوکوي

که داسې نه وي نو دکابل منحوسه اداره دې ووايي چې داعش له رامنځته کيدو چې شاوخوا پنځه کاله يې تيرېږي څومره بريدونه او حملې يې په امريکايي او خارجي قواوو ترسره کړي ، دغه راز دې په دقيق ډول ووايي چې دکابل مزدوري اردو دافغانستان په کومه برخه کې ورسره کوټلې مقابله کړې څومره داعشيان يې وژلي او ژوندي نيولي او څومره يې ددوئ عسکر له منځه وړي.

پنځه کال کيږي چې داسلامي امارت مجاهدين دهيواد په ختيځ ننګرهار له دغې مفتني ډلي سره جنګيږي، هرځل چې مجاهدينو دداعش پخې مورچې نيولي ، دګرې ليکي يې ورماتې کړي او خبره ديته نيږدې شوي چې داعش نور تصفيه او مظلوم مسلمانان يې له شر او ظلم څخه نجات پيداکړي ، سمدلاسه يې مرستې اونجات ته امريکايي چورلکي ، دمزدور رژيم داردو بيلابيل کنډکونه رارسيدلي داسلامي امارت دمجاهدينو سنګرونه يې بمبارکړي او له شا څخه يې دمجاهدينو په خلاف لوی عمليات په کار اچولي ؛ ترڅو دداعش مليشي خوندي شي

اربکیان او سنگوریان دی چې استخدام کړي دې دي

داخنگه فکري ډله ده چې څو میاشتي وړاندي په جوزجان ، فاریاب کې داسلامي امارت مجاهدینو دهغوئ جرړي وویستي او سیمي یې ترینه په مکمل ډول تصفیه کړي ددغي فکري ! ډلي دارو دسته اوټول قیادت چاته پناه ورووړه او چا په چورلکو کې کابل ته ورسول

همدا اوس چې په کونړکې دداعش په نوم گروپونه دملي امنیت اداري ته په منظم ډوا تسلیمي ورکوي داڅوک او داکار په کوم اعتماد ترسره کیږی ؟

ښکاره خبره ده چې داعش کوم خاص فکر او سوچ نلري ؛ بلکي فکر او تگلاره یې هغه ده چې دملي امنیت شیطانانو او دارگ دامنیت شورا خبیثانو په اختیارکې ورکړي او دهغو له مخي جنگیږي ، دسیسي او فتني خپروي ؛ کله چې وربانـدي ساحه تنگه شي او دپوپناه کیدو وخت یې راورسیږي نو بیا بیرته دخپل فکر خالي ته رجوع کوي او په نمایشي ډول تسلیمیږي.

په او سنیو حالاتو کې یوه بله ویره شته چې کابل رژیم دداعش ترنامه اوپوشش لاندي په لویو ښارونو کې دخلکو په اجتماعاتو کې درني چاودني وکړي لکه تیره اونی یې چې دکابل ښار په دوبی هوټل کې خونړی چاودنه ترسره کړه او دری سوه تنه یې پکې مړه او زخمیان کړل ؛ هدف یې ترینه داده چې امریکا اونوري نړی ته وښیي چې په افغانستان کې یواځې طالبان نـدی او طالبان ددې ورتیا نلري چې امریکا او نړی دراتلونکي افغانستان دارامی په اړه اطمنان ورکړي بلکي داعش او نوري ډلي هم شته ؛ نوبائید په دوحه کې روان مذاکرات تنها له طالبانو سره خلاصه نشي

یعنی هدف یې داده چې دطالبانو او امریکایانو ترمنځ مذاکرات اخلال کړي

خو اشرف غني او دجان کیري په گوتو داوبدل شوي رژیم لوړ پوړي او ټیټ پوړي چارواکي او نوکران دې پوه وي چې ستاسي دخبرو ویناوو ، تورونو لگولو ، دسیسو ، چیغو او کوکارو وخت نورتیر او اوبه مو لـه ورخـه تیري دي ، کـه خپلو جنایتونو او حماقتونو ته هرڅومره دداعش او یاورته نومونه او عنوانونه وراغوندی بادار امریکا او غربي دنیا مو درنه تلونکي ده

کومه موافقه چې په دوحه کې شوي او ممکن لاسلیک کړلی شي یو جهت یې امریکا او بل جهت یې اسلامي امارت دی ؛ تاسې نو اوس په داخپل پرسوده گریوان کې سوچ وکړی چې لدغې موافقې ورسته به ستاسي حیثیت او ځای بیا څه او کوم وي (انشاالله تعالی)

په کراتو مراتو عام ولس او عیني شاهدانو ازادو رسنیو تـه وئـیلي چـې دداعـش لیکـو اوجنگیـالیو تـه خـاصي چورلکي ورځـي ، خـوراکي مـواد، مرمـې اووسلي له هوا څخه ورغورځوي، تازه دمه افراد چې تـور دداعـش بیرغونه ورسره وي په منظم ډول یـې وروړي ، زخمیـان یـې پـه چورلکـو کـې انتقـالوي ؛ حتـی دننگرهـار دعـامي روغتیـا پـه مرکزي شفاخانه کـې دداعشیانو دتـداوی لپـاره ځـانگړی واټ موجود ده ، دراړیو دستگاه یـې او انتن یې دننگرهار په هوایي ډگـر کې مصؤن او په ارام زړه خپروني کوي

په دغو ټولو حقائقو سربیره بیـاهم دکابـل لـوده او کرغیـړن ولسمشرـ وایـې چـې داعـش پـه افغانسـتان کـې فکـري ریښـي او پیـروان لـري ؛ فکـري جـرړي همدیته وایي چې هـم یـې مسلح کوي ، هم روزنه ورکوي ، هـم یـې دجگړي میدان ته په چورلکو کې وړي ، هم یـې دزخمیـانو پـه لـوړ انداز معالجه کـوي اوهـم یـې لـه محــاصري او تبــاهی ژغــوري بیاوایي چې داعش یوه فکري ډلـه ده ؛ فکـري ډلـه نـه بلکـې سـتا دشومو او چټلو دسیسو بـې وردی

مرحوم مولوي سدوزی اغا

مفتي محمدګل سعيد

مولوی سیدمحمد مشهور په سدوزي اغا صاحب دسید محمد حسن اغا زوی په ختهه یسین زی سید د هیواد اوسیمې نامتو دینی عالم ، دروحانیت ځلانده ستوری ، دشریعت او طریقت پابند،لوی صوفي او عارف ،دښو اخلاقو خاوند،په ولس کې دنیک نوم او ښه شهرت خاوند، دافغان او شوروي جنګ تکړه مجاهد ، په دین او علم کې لوی او سپین ږیری شوی ، درهبرانو داختلافاتو له منځه وړلو کې فعال شخصیت ، صوفي ، زاهد ، عابد، ذاکر او مدبر عالم ؤ، چې دکندهار په یوه عالمه، عارفه او فاضله کورنۍ کې زیږیدلی دی او لوی شوی دی .

ځرنګه چې د نوموړي ټبر کوچیان کډوال ؤ ، په دوبي به دکندهار د ارغنداب په جوی لاهور کې میشت ؤ، چیرته چې د دویٔ قوم آباد او د دوی خپلې پلرنۍ ځمکې هم هلته شته او په ژمي به بیا په پاکستان کې هستوګن ؤو، چیرته چې د دویٔ د ساړه ژمي تیره ولو مینه وه، ده په ۱۳۰۷ لمریز کال هغه مهال دې ستړې دنیا ته سترګې وغړولې چې ددوبي پر مېنه یې ټبر اړولي ؤو چې کله په ښه او بد پوه شو نو یې دیني علم ته مخه کړه او پخپل کلي کې یې له مولوی سید عبدالغفار اغا څخه تر هداية النحوې پورې دیني کتابونه ولوستل. کله چې لس کلن شو نو پلار یې وفات شو او دخپل پلار له شفقت او مینې نه بې برخې شو .

دامیر حبیب الله خان په وخت کې دکندهار نائب الحکومة یاسین زیو سیدانو ته دوه ویالې ورکړې، یوه یې دصالحانو ویاله بلله او بله یې دجوی لاهور د ویالې په نامه یادیږي ، داچې دوي کوچیان کډوال ؤ، اوښان او نور مالونه یې درلودل او دجوی لاهور دویالې سره نژدې دښتې او دغر ځایونه زیات ؤ، نو له همدې امله یې دجوی لاهور ویاله ځانته غوره کړه او همدلته میشت شول. بیا څه موده وروسته له ډیره اسماعیل خان څخه څلویښت کیلومتره لرې دبنو سرک ته نژدې په پنیاله نومې ځای کې د وخت حاکم دوی ته داستوګنې لپاره ځمکه ورکړه ، نو بیا دلته میشت شول، دکوچي توب ژوند یې ترک کړ او دغه ځای ځایګی یې ځانته داستوګنې لپاره غوره کړ .

دسدوزي اغا صیب مورنۍ نیکه سیدعبدالحلیم نومیده چې دخپل وخت لوی عارف او دحاجي دوست محمد کندهاري رحمة الله علیه خلیفه ؤ، دخانقاه یاسین رۍ پنیاله سلسله له ده څخه را شروع شوې ده او داخانقاه دده په نامه مشوره ده. ددې خانقاه سلسله دډهلي حضراتو ته رسیږي ،چې شاه ابوالخیر رحمة الله علیه ددې سلسلې دسر سړی ؤ. دمفتي محمود رحمة الله علیه پلار خلیفه محمدصدیق رحمة الله علیه هم ددې خانقاه مرید او معتقدؤ، چې بیا خپله مفتي محمود رحمة الله علیه هم ددې خانقاه داکابرو لخوا دهند مرادآباد ته ولیږل شو او ټول مصارف یې ددې خانقاه لخوا ورکول کیدل. ددې خانقاه په هکله بشپړ معلومات په ځانګړیو کتابونو کې شته دي، چې ددې خانقاه په نامه نومول شوي دي.

په ۱۹۴۶ م کال عارف باالله مولانا سیدعبدالحلیم رحمة الله علیه خپل درې واړه زامن (سیدمحمود، سیدحامد او سیدمحمد) ددیني علومو د زده کړې لپاره دهند دیوبند ته ولیږل ، سدوزی اغا صیب هم له خپلو ماماګانو سره دیوبند ته لاړ ، داچې نوموړی کوچنی ؤ او سبقونه یې دمدرسې له استادانو سره نه برابریدل ، نو څکه یې درسونه له خپل ماما سیدمحمود څخه ولوستل. بیاچې کله پاکستان جوړ شو دوی بیرته پاکستان ته راغلل او په پنیاله کې یې له خپل ماما سیدمحمود څخه دابن مالک الفیه، مرقات، صغری کبری او ځینې نور کتابونه ولوستل.کافیه او دصرفو ځینې کتابونه یې دلکی مروت دآباخیلو له مشهور عالم سیدجان محمد څخه ولوستل . په ۱۹۴۹م کال داکوړې دارالعلوم حقانیې ته لاړ او هلته یې پاتې

فنون تر پایه ولوستل. دحقانیه دارالعلوم باني شیخ المشایخ مولانا عبدالحق رحمة الله علیه په هغه وخت کې په خپل جومات کې تدریس کاوه .په ۱۹۵۴م کال له حقانیه دارالعلوم څخه فارغ شو او دفضیلت پګړی یې وتړله. دتفسیر علم یې له مولانا احمدعلي لاهوري رحمة الله علیه څخه په پنډۍ کې حاصل کړ او دیو نومیالي عالم په څیر راڅرګند شو.

له فراغت وروسته کندهار ته لاړ او دکندهار ښار په جومات کې یې تدریس پیل کړ ، څه موده یې هلته تدریس وکړ ، بیاله هغه ځای نه دکندهار ښار میربازار ته لاړ او هلته یې شپږ کاله ددیني علومو په تدریس تیر کړل ، بیا جوی لاهور ته لاړ او هلته یې څلور کاله دفنونو په بیلابیلو برخو کې په زړه پورې تدریس وکړ. بیا یې دکندهار دعالمانو په مشوره په ښار کې محمدیه مدرسه جوړه کړه ، چې تردې دمه په دې مدرسه کې ددیني علومو تدریس جاري دی.

هجرت: کله چې په ۱۳۵۷ لمریز کال په افغانستان کې د کمونستانو توره کودتا منځ ته راغله کمونستان په دې مفکوره وو چې تر څو دیني علماء له صحنې وتلې نه وي زمونږ هلې ځلې ناکامې دي نوځکه یې د علماؤ ، مشایخو او دین دوسته خلکو په نیولو او له منځه وړلو لاس پورې کړ، نو له همدې امله مرحوم مولوي صاحب دې ته اړشو چې هېواد پرېږدي او هجرت وکړي ، هماغه ؤچې په لومړي سر کې یې زابل ته هجرت وکړ، اوبیا دبادیني له لارې د پاکستان کویټې ښار ته لاړ او هلته یې دحرکت انقلاب اسلامي تنظیم دجنوب غرب حوزې ددفتر نظامي مسئول په حیث دمجاهدینو او مهاجرینو خدمت ته ملاوتړله . په دې اثنا کې یو ځل دشیخ الحدیث مولوی عبدالعلي دیوبندي رحمة الله علیه او مولوی دوست محمد صاحب په ملګرتیا یې ایران ته سفر وکړ او هلته یې دزاهدان په ښار کې له مشهور عالم مولانا عبدالعزیز او نورو عالمانو سره لیده کاته وکړل.هغوي یې دمجاهدینو له حال احوال څخه خبر کړل، اودجهاد اعانې ته یې تشویق کړل ،هماغه ؤ چې هغوی هم له مجاهدینو سره بې دریغه مرسته وکړه او له هیڅ قسم قرباني څخه یې ځانونه ونه سپمول.

کله چې په ۱۳٦۰ لمریز کال د هېواد د مخورو علماؤ په هلو ځلو د افغانستان د مجاهدینو ترمنځ اتفاق او ملي وحدت رامنځ ته شو، مرحوم مولوي صاحب په دې کار کې فعاله ونده درلوده ، چې بیا وروسته دمجاهدینو اتحاد په اختلاف بدل شو او پایله یې کورنې جنګونه وګرځیدل . مرحوم مولوی صاحب څه موده دشهید مولوی نصرالله منصور دتنظیم دجنوب غرب دحوزې مسئول ؤ، چې بیا یې دا وظیفه پرېښودعه او تدریس ته یې مخه کړه .څه موده یې تدریس وکړ ،بیا دسیاف لخوا وغوښتل شو او دهغه تنظیم کې دجنوب غرب دحوزې دقضاء مسئول وګمارل شو. بیا چې کله دطالبانو اسلامي تحریک رامنځته شو ، نوموړی د طالبانو له اسلامي تحریک سره له اولې ورځې نه ملګری ؤ. او په پوره اخلاص او صداقت باندې یې ورسره همکاري کوله. اروابناد اغا صاحب په تیر او اوسني جهاد کې خورا ستر رول درلود او دجهاد له مخکښانو څخه ګڼل کیده.

مړینه: دهېواد ستر دیني عالم اوجهادي شخصیت مولوی سدوزی اغا صاحب څو ورځې مخکې (۱۴۴۰هـ/ ۱۲/) د وروستي ناروغۍ له امله دقطر هېواد په دوحه ښار کې وفات شو . دده مړینه دافغانستان مسلمان او مجاهد ملت ته ستره ضایعه بلل کیږي .دده کورنۍ، شاګردانو او ټولو متعلقینو ته یې د زړه له تله تسلیت وړاندې کوو. او له رب العالمین څخه ورته جنت الفردوس ،او کورنۍ ته یې صبرجمیل او اجرعظیم غوښتونکي یو.

کورنۍ: اروابناد اغا صاحب د جهاد له شروع نه داسلام په لار کې ستر خدمتونه کړي دي، چې دده مرحوم کورنۍ، شاګردان او زامن یې دخدمتونو بهترینه بیلګه بلل کیږي.

دروسانو دضد جهاد نومیالی غازي ،اتل قهرمان ، دکندهار غښتلی مجاهداو نامتو شخصیت شهید لالاملنګ او شهید سیدمحمد یعقوب یې هغه نومیالي زامن ؤ، چې دروسانو ضدجهاد کې یې دشهادت جامونه نوش کړ او ددوی دمیړانې او اتلولۍ قیصې تر اوسه دکندهار دخلکو په خولو کې دي.

سیدمحمدیونس اغا او طیب اغا هم دده زامن دي، دوی دواړه هم له دیني علومونه برخمن شخصیتونه دي، چې دطالبانو په اسلامي تحریک کې په ډېراخلاص اوصداقت سره داسلام او هېواد خدمت کوي.

الله دې دمولوی سدوزي اغا صاحب روح خوشاله او جنت یې ځای شه

رښتیا په واتیکان کې څه روان دي؟

حسن زوی

پدې ورځو کې دفرانسوي نامتو محقق فریدرک مارتیل IN THECLOSET OF THE VATICAN (دواتیکان خلوت گاه) نومي کتاب نوی له چاپه راوتلی چې له امله یې دواتیکان مناري سختې لړزېدلي دي.

دا کتاب چې ۵۷۰ مخه لري نوموړي دکلونوسختو کوښښونو او د زرو نه زیاتو پادریانو او د واتیکان دنورو ګنو کارکونکو سره دمرکو نه پس لیکلی دی.

نوموړي په ډېر جزم لیکلي دي چې دروم دکلیسا واتیکان دپاپانو قاطع اکثریت دوه مخی ژوند تېروي؛ دوئ مېرمنې او بچیان هم لري خو ترڅنګ یې دبدکارو مېرمنو سره هم جنسي روابط لري.

په کتاب کې ددې خبرې تصدیق شوی چې دکلیسا ۸۰ سلنه پادریان په همجنس پرستی کې لتاړ دي یانې په هرو ۵ کې ۴ پاپان همجنس پرستان دي.

دبرتانوی جریدې دیلی میل دمذهبي څانګې نماینده کانر دبوایډ ددې کتاب په اړه خپل راپور کې لیکلي چې دا کتاب په داسې وخت کې خپور شو چې پاپ فرانسس یو ډېر مهم کانفرانس راغوښتی دی؛ دکلیسا دپاپانو دهمجنس پرستی او پرمېرمنو او کوچنیانو دجنسي تجاوز دمخنیوي لپاره پالیسي جوړول ددې کانفرانس موضوع ده؛ نو په داسې وخت کې ددې کتاب خپرېدل واتیکان ته ډېر تکان ورکړیدي.

دبرتانې بلې جریدې دی تیلنت لیکلي دي چې دې کتاب دا روښانه کړه چې دکلیسا هغه پادریان چې خلکو ته دهمجنس پرستی سره دنفرت کولو او ورنه د ځان ساتلو درس ورکوي ددوئ حقیقت دا دی چې اکثریت یې پخپله همجنس پرستان دي.

خو دهمجنس پرستی نه دفاع کونکې جریدې (پنګ نیوز) لیکلي دي چې دکلیسا دپاپانو دبدفعلی نه پرده پورته کونکی فرانسوي محقق پخپله هم همجنس پرست دی.

ده دواتیکان دپاپانو سره لېدنې کړیدي او ددوئ د عاداتو او خویونو په هکله یې معلومات راټول کړیدي؛ دپاپانو سره دده دمرکو نه دا جوته شویده چې د واتیکان په ۱۵۰۰ پاپانو کې ۱۲۰۰ پاپان همجنس پرستان دي او ۳۰۰ نور یې چې ځانونه مجردان ښکاره کوي په حقیقت کې ودونه لري او دلته دراهبو مېرمنو او له واتیکان بېرون دفاحشو مېرمنو سره جنسي روابط لري.

فریدرک مارتیل لیکي چې دکولمبیا مشر- پاپ (کاردینل نیلفا نسولو پیزتروجیلو) رایه دا وه چې همجنس پرستي او دفاحشو مېرمنو سره جنسي اړیکې نیول څه بده خبره نده او داسې کارونه دپاپانو لپاره منع ندي.

پدې کتاب کې راغلي دي چې پاپان تنکو ځوانانو او فاحشو مېرمنو سره جنسي روابط ټینګوي او په بدل کې ډېرې زیاتې پیسې ورکوي؛ ډېر

داسې پاپان هم شته چې ځانونه مجردان ښايي خو په حقيقت کې دوئ مېرمني او بچي لري چې داهم دواتيکان لپاره ډېره بده ده.

بل لور ته دامريکا په تيکساس کې هم کليسا د ۵ سوه همجنس پرسته اوبدفعله پاپانو او دهغوئ دکليساگانو نومونه خپاره کړيدي خو عجيبه دا ده چې ددې بدفعلو پاپانو پرضد نه دپوليسو نه مدد غوښتل شويدی او نه هم دوئ ته دسزا ورکولو غوښتنه شويده.

ددې نه داسې معلومېږي چې دامريکا نورو ايالتونو کې هم په زرونو بدفعله پادريان شتون لري خو دکليساگانو مشران پدې هکله خپل مسئوليت نه ادا کوي دخيانت نه کار اخلي او ددوئ ناکاره څېرې خلکو ته نه راښکاره کوي او نه يې هم په کليسا کې دورسپارل شويو خدمتونو نه لرې کوي.

امريکايي نامتو جورنالست ميگان شيټ په خپل راپور کې ويلي دي چې دا يقيني ده چې دتيکساس ۵ سوه پاپان په همجنس پرستی او بدفعلی کې ککړ دي؛ ددوئ نومونه خپاره شويدي نودوئ به له خپلو مسئوليتونوگوښه کېږي خو دواتيکا او تيکساس کليسايي مشران وايي چې ددوئ پرضد به پوليس له هر ډول اقدام نه ډډه کوي ځکه چې پدې سره ددوئ حوصلې ماتېږي.

دتيکساس دلوي څارندوال وياند مارک ريلانډر هم منلي ده چې په همجنس پرستی او جنسي اړيکو کې دککړو ۵ سوه پاپانو په اړه به نه څېړني کېږي او نه به يې هم پرضد قانوني کړنه ترسره کېږي.

دياددولو وړ ده چې دامريکا دکليساگانو مشرانو په تېرو ۳ لسيزو کې دجنسي-تېريو ښکار د۱۰۰۰ زياتو کوچنيانو ته په سونو مليونه ډالر تاوان ورکړيدی.

دفرانسوي محقق فريډک مارټل دکتاب دخپريدو له امله دکليسا پرضد دخلکو راپورته شوې غوغا لا ختمه نه وه چې د روم دکليسا دپاپانو په اړه يو بل ځورا حيرانونکی انکشاف رامنځته او ددوئ ناولې څېرې يې خلکو ته ښه روښانه کړې.

دروم د کليسا په يوې پټې تاکاوۍ کې دسونو انسانانو دبدن هډوکې موندل شويدي.

د سونو انسانانو دبدن هډوکې دايمانويلا نومې يوې ۱۵ کلنې انجلۍ دتلاش لپاره دترسره شويو عملياتو په ترڅ کې موندل شوي چې ټوله مسيحي نړۍ يې سخته حيرانه کړيده.

ايمانويلا ۳۲ کاله وړاندې د ۱۹۸۳م کال دجون په ۲۲ مې نېټې دموسيقۍ دزده کړې لپاره دروم ښترې مرکزي کليسا واتيکان ته راغلې وه چې بيا له همدې ځايه ترې تم شوې اوکورته نه وه راستنه شوې.

دايمانويلا کورنۍ دهغې دلټون لپاره په تېرو ۳۶ کلونو کې ډېرې زياتې هڅې وکړې او دروم کليسا دروازه يې ډېره وټکوله خو هرځل ورته دکليسا له لورې د ناخبرۍ خبره شوې وه.

دايمانويلا خور فريډريکا وايي چې دوه مياشتې وړاندې يانې د روان ۲۰۱۹م کال په جون مياشت کې موږ ته يو پټ پيغام رارسېدلی و چې دايمانويلا جسد دشاه نيرو او ددوه جرمني شهزادگيو سره په، تيوټونک، هديره کې دفن شويدی؛ موږ دکليسا د مشرانو نه ددې قبرونو د راسپړلو اجازه وغوښتله خو اجازه رانکړل شوه؛ ۳ اوونۍ مومسلسلې هڅې وکړې په ځلورمه اوونۍ راته دپاپ فرانسس په ځانگړي فرمان اجازه راکړل شوه خو چې قبرونه خلاص کړل شول نو سخت حيران شو؛ نه خومو دلته خور وه او نه هم په خپلو قبرونو کې دوه شهزاگۍ او نه هم دروم شاه نېرو و دټولو قبرونه خالي وو.

شاه نيرو او دا دواړه شهزاگۍ په ۱۹ مې پېړۍ کې دلته دفن شوي وو.

موږ بيا د قديمه اثارو داداري په ملتيا دروم کليسا کې لټون پيل کړ چې په نتيجه کې موږ يوې تاکاوۍ ته ورسېدو ددې تاکاوۍ په خولې يوه کانکريټي تخته ايښودل شوې وه

خو دنوموړي اداري خلکو دليزر له لاري دا پيداکړه او چې تاکاوي‌ ته ورښکته شول نو پکې يې دسونو انسانانو دهډوکو امبار وليدلو چې دوئ يې هک حيران کړل.

دوئ وويل چې پدي کې دکوچنيانو؛ تنکو ځوانانو او لويانو هډوکي ښکاري؛ موږ چې حقيقت ته رسيږو او پدي پوهيږو چې دا دچا هډوکي دي موږ په لويه سطحه دنړۍ مرستې ته اړتيا لرو.

خو ايتالوي ډيرو شننونکو ويلي دي چې دا دهغو کوچنيانو او ميرمنو هډوکي دي چې په کليسا کې دعياشو پاپانو دجنسي تيري ښکار شويدي او بيا دې پاپانو دخپل جرم پټولو په موخه وژلي او دې تاکاوي ته غورځولي دي؛ دوئ وايي چې قوي احتمال دی چې دايمانويلا جسد هم همدلته د جنسي تيري نه پس غورځول شوي وي.

يو ايتالوي مصنف اميليانوپالدي په خپل کتاب کې ليکلي دي چې له ډيرو کلونو راهيسې دروم کليسا کې دجنسي تيريو لړۍ روانه ده او په هروخت کې پاپ ددې تيريو سرپرستي کړيده؛ هرپاپ دعياشو او بدفعله پادريانو په جنسي- تيريو او نورو بدو کړنو پردې را اچولي دي؛ دپاپ جان پال دوهم؛ پاپ بينې ډکټ او دپاپ فرانسس په دورو کې دروم کليسا او نورې کليساوې دجنسي- تيريو په مرکزونو بدلې شوې وې خو دوئ يو هم ددې تيريو دمخنيوي لپاره کوم جدي اقدام ندی کړی بلکې دا هرڅه يې قصداً پټ کړيدي.

ايتالوي مطبوعات وايي چې ايمانويلا او نورو ورکو شويو تنانو دلټون کوښښونه ځکه دناکامۍ سره مخ وو چې پوليس او نورو ادارو ته دکليسا په چارو کې دمداخلې اجازه نه ورکول کېده خو اوس چې دتاکاوي ته دسونو انسانانو هډوکي موندل شوي نو پاپانو اصل څيرې ټولې نړۍ ته ښه روښانه شوې.

ای بي سي نيوز وايي واتيکان دايمانويلا په هکله دلاعلمۍ اظهار کاوه اوس به وکتل شي چې دا دکومو بدنصيبو هډوکي دي.

دا امريکا اونور لويديځ دی؛ خپل مذهبي خلک اومذهبي مرکزونه يې دولتونو دمداخلې نه بيخي آزاد پريښي دي؛ ددوئ مذهبی مشران که په کليساګانو کې پر ميرمنو اوکوچنيانو جنسي تيري کوي؛ بيا يې په ډيرې بې دردۍ وژني اوجسدونه يې تاکاويو ته غورځوي دولتونه ددوئ پدې ټولوجرمونو چوپ وي اوپر ضد يې هيڅ ډول اقدام اړين نه بلل کيږي ځکه چې ددولت له لوري دکوم اقدام له امله ددې پاپانو حوصلې ماتيږي خوکه ددې په پرتله ډير کوچنی جرم هم چرته دمسلمانانو په ديني مرکز کې او يا يې مسلمان مذهبي مشرمرتکب شي نو بيا لويديځ نړۍ په سر راخستې وي؛ دجدي سزا ګانو غوښتنې کوي؛ پر دولتونو فشارونه راولي چې دټولو ديني مدرسو اومرکزونوپه اړه څيړنې وکړي؛ دڅيړنونه پس يې دولت بندې کړي اويا يې هم تر خپل واک لاندې راولي او ازادي يې ورختمه کړي.

بس دا لويديځ دی؛ دايي اسلام دښمني ده او دايي هم دنفاق نه ډکه څيره ده!

د افغانستان په خپلواکۍ او دفاع کې

د دیني عالمانو تاریخي رول

لیکوال: شهید ملا محمد حسین مستنصر

"له محمد شهاب الدين غوري (رحمه الله) نه بيا د احمدشاه بابا تر لويې امپراطورۍ پورې، علماء زموږ د مېړني ولس په مخکې روان او د جهاد بيرغونه په لاس د هند لويې وچې او شاوخوا سيمو ته ورغلي او بيا يې هلته د اسلام سپيڅلي دين ته دعوت او تبليغ کړی. هند ته منسوب لوی مشاهير لکه خواجه معين الدين چشتي اجميري رحمه الله، مجددالف ثاني قدس روحه، علي هجويري (رحمه الله) او په سلګونو نور مشاهير د همدې خاورې بچيان دي او يوازې معين الدين چشتي اجميري (رحمه الله) په خپل لاس (۹) نهه ميلونه خلک داسلام مقدس دين ته داخل کړي، همداسې زموږ نور علماء په زرهاوو داسې کارنامې لري، چې تر اوسه اسلامي نړۍ وربانديې وياړي. په معاصر افغانستان کې زموږ د علماوو زياتې کارنامې تاريخونو ثبت کړې دي.

زموږ ملي مشران لکه ميرويس نيکه، احمد شاه بابا او نورو مشاهيرو يو کارهم د علماوو د فتوی او مشورې پرته نه دی کړی، همدا وجه ده چې دغه دواړه مشران زموږ په تاريخ او خلکو کې د خپلو ښو کارنامو په وجه ستر ځای لري. کله چې د احمد شاه بابا د لمسيانو او کړوسيانو د اختلافاتو او وروسته د بارکزو سردارانو د بې اتفاقۍ په سبب د افغانانو د واکمنۍ ساحه راکمه شوه او په عين وخت کې انګليسي- استعمار اوتزاري روسيې د افغانستان خواته چې اوس نو کمزوری او د داخلي اختلافاتو او باچاګرديو په وجه يې خپل مرکزيت له لاسه ورکړی و، د هوس سترګې غړول شروع کړل، په هغه وخت کې هم زموږ علماوو او مشاهيرو د انګريزانو د نفوذ د مخنيوي لپاره زموږ غيرتي او مجاهد اولس رابيداراوه.

له انګريزانو سره د افغانانو په لومړني جهاد کې زيات شمېر علماوو او طالبانو له ملي مجاهدينو سره يوځای د انګريزانو په مقابل کې خپلې سينې سپر کړې او انګريزي لښکرو ته يې زيات تاوانونه ورواړول، دغه راز د غازي عبدالله خان اڅکزي نائب امين الله خان لوګري، وزيرمحمد اکبرخان غازي په قيام کې له نورو ډېرو علماوو سره د ملامؤمن غلجي نوم هم زموږ په تاريخ کې په زره پورې ځای لري، کله چې انګريزانو امير يعقوب خان په خپله سلطه کې د افغانستان پر تخت موزون ونه باله؛ نو هغه يې تبعيد کړ، دغه وخت د امير يعقوب خان مور د امير شيرعلي خان مېرمنې او همدا راز د امير يعقوب خان مېرمنې زموږ د هېواد جيد عالم او مجاهد شخصيت ملا دين محمد اندړ ته چې په ملامشک عالم اندړ

شهرت لري، لیک واستاوه او د امیر یعقوب خان د شړلو او د انګرېزانو له خوا د قدرت نیولو شکایت یې ورته وکړ، ملاصاحب سمدستي د انګرېزانو پر ورانديې د مقاومت اعلان وکړ، غازي محمد جان خان وردګ، ملاعبدالغفور لنګري او نور په زرهاوو تنه علماء، طالبان او ملي مجاهدین د ده پر شاوخوا راټول شول او د ۱۲۹۷ هجری قمري کال د محرم الحرام په میاشت کې یې د جهاد اعلان وکړ، د یوې احصایې له مخې په دې غزا کې د مجاهدینو شمېر (۹) نهو زرو تنو ته رسېده او په کابل کې یې د نورو مجاهدینو په ملتیا د انګرابزانو پر ضد جهاد پیل کړ، وروسته چې انګریزانو ماتې وخوړه او امیر عبدالرحمن خان یې پر خپل ځای کېناوه، نو ځرګنده خبره وه چې امیر عبدالرحمن خان هم له انګرېزانو سره روابط لرل، د ملا صاحب مرحوم دا نه خوښېدل او د هغه مقابله یې شروع کړه، امیرعبدالرحمن خان ټول مجاهدین د انګرېزانو په اشاره بندیان کړل، خو ملا صاحب ته یې د هغه د نفوذ په وجه څه نه شو ویلای، ملا صاحب له دوو کلو کلک جهاد او مبارزې وروسته د ۱۳۰۳ هجري قمري کال د ربیع الاول په لسمه وفات شو.

د مرحوم دا تحریک د ده زوی ملا عبدالکریم اخندزاده رهبري کاوه او د امیرعبدالرحمن مخالفت ته یې ادامه ورکوله، همدا راز زموږ د هېواد په جهادي تاریخ کې د هډې ملاصاحب چې اصلي نوم یې نجم الدین اخندزاده و، ډېر شهرت لري، انګرېزان او امیرعبدالرحمن خان ډېر ترې وېرېدل، کله چې ملا عبدالکریم اخندزاده د امیرعبدالرحمن خان چې له انګریزانو سره یې نژدې اړیکې لرلې، پر ضد مبارزه سخته کړه او له نجم الدین اخندزاده څخه یې وغوښتل چې د خوست، مغل خېلو، باجوړ او د مومندو قبائل د جهاد لپاره د امیر او انګریزانو پر ضد را پاځوي، نو ملا صاحب په دې کار پیل وکړ، خو انګرېزانو مخکې له دې چې نوموړی مجاهدین سره راټول کړي، امیرعبدالرحمن خان ورباندې خبر کړ او په دې کې مشکلات رامنځ ته شول، انګرېزان او امیر عبدالرحمن خان بیا هم سخت ورځخه وېرېدل، ملا صاحب په قبایلو کې زیات نفوذ درلود او یو انګرېز مؤرخ لیکي: چې نجم الدین اخندزاده په خلکو کې زیات نفوذ لري او تر یولک زیات مریدان لري.

په دې لړ کې د افغانستان د جیدو علماوو او مشهورو مجاهدینو له جملې د موسهي فیض محمد اخندزاده صاحب (رحمه الله) هم زیات شهرت لري، فیض محمد اخندزاده د هډې د ملا صاحب په ملګرتیا ډېر جهادونه کړي او امیرشېرعلي خان به یې هر وخت د انګرېزانو پر ضد جهاد ته هڅاوه، هغه د جهاد په باره کې د «روضة المجاهدین» په نامه یو منظوم اثر هم لري، چې ډېر مشهور دی.

دغه راز د غازي محمد ایوب خان په لښکر کې هم ډېر علماء او طالبان شریک وو او د میوند په غزا کې یې له هغه سره ګډون درلود، امیر عبدالرحمن خان چې له انګرېزانو سره یې دوستي لرله، له غازي محمد ایوب خان سره د علماوو له ملګرتیا داسې سر ټکوي او په خپل تاریخ تاج التواریخ کې لیکي: «محمدایوب خان ادوات حربیه، لشکر واسلحه بیشتر ازمن نه داشت، برعلاوه ملاهای جاهل به مخالفت من اعلان جهاد داده بودند اینکار به جهت پیشرفت محمدایوب خان خیلي مساعد بود اینها میګفتند من دوست انګلیس ها هستم و حریف من غازي«.

د علماوو له جملې څخه بل سترشخصیت، مشهور عالم او د انګرېزانو سخت دښمن د سوات «اخندصاحب»و، د نوموړي اصلي نوم عبدالغفور او په باباجي صاحب یې هم زیات شهرت درلود، اخندصاحب ډېر علماء او مجاهدین درلودل او مشهوره خلیفه ګان یې د هډې ملانجم الدین اخندزاده صاحب، د مانکي ملاعبدالوهاب صاحب، د اورکز و ملاصاحب، ملاولي الله صاحب، د دیر شاه بابا، د

کربوغي ملاصاحب، د لوګر د موسهي اخندزاده صاحب، د تيرا د څيري ملاصاحب، د محسودو ملاصاحب، د صوابي «سوتاملاصاحب» او نور زيات شمېر مريدان او خليفه ګان لرل، ويل کېږي چې اميرشيرعلي خان د جلال آباد حاکم له څو تنو سپرو سره سوات ته د اخوندصاحب د دعاء لپاره ولېږل او حاکم چې کله اخند صاحب ته د امير شيرعلي خان مدعا بيان کړه، چې هغه غواړي په خپله توره انګرېزان له ملکه وشړي، تاسو دوعا ورته وکړئ، اخندصاحب ورته وويل: هغه دانه غواړي چې انګرېزان وشړي، بلکې هغه خو د انګرېزانو د خپلولو هڅې کوي، حاکم ورته ټينګ شو او ورته ويې ويل چې ترڅو د امير لپاره دوعا ونه کړې، زه ستاله درباره هيڅکله هم نه وزم، اخند صاحب ورته وويل چې داډېره ښه ده چې تاسو له جهاد سره مينه لرئ، ولاړشه! امير شيرعلي خان ته ووايه چې عبدالغفور يوازې د دعا فقير نه دی، د جنګ په ميدان کې د خپلو وينو د توييدو په رازهم ښه پوهيږي، که چېرې امير شېرعلي خان په خپله غوښتنه کې ريښتني وي؛ نو پر پېښور دې حملې وکړي، زه به د

ملاکنډ له لارې له خپلو مجاهدينو او طالبانو سره د جګړې ډګر ته حاضر شم، سوات صاحب د انګرېزانو سخت مخالف و، هغوي د انګرېزانو د مقابلې لپاره د سوات، بونېر، دير، باجوړ او نورو علاقو مشران علماء وروغوښتل او د يوې جرګې په أساس يې له هغو وغوښتل چې د انګرېزانو په مقابل کې د جهاد لپاره ملاوې وتړي، خپل مينځي نفاق وباسي او د انګرېزانو مقابلې ته تيار شي.

پرجرګې د سوات صاحب خبرو ډېر زيات تأثير وکړ او ټولو په يوه خوله سوات صاحب د شرعي امير په ډول ومانه، که څه هم په لومړي سر کې سوات صاحب امارت قبول نه کړ؛ خو وروسته يې ومانه او په سوات کې يې اسلامي شريعت اعلان کړ، د سوات صاحب عليه الرحمه تر ټولو مشهوره غزا د امبيلې جهاد دی، چې انګرېزانو ته يې سخت شکست ورکړ، انګرېز مؤرخ ډاکټر «ويليم هنټر» ليکي چې د امبيلې په جنګ کې د انګريزانو د ناکامۍ درې علتونه وو:

١ – د ټولو پښتنو قبائلو ټينګ اتحاد او يو والی.

٢ – په جګړه کې دسوات صاحب موجوديت.

٣ – د مسؤلو کسانو غياب.

د سوات اخند صاحب زموږ د هېواد د جيدو روحاني مبارزو او سياسي علماؤ له جملې څخه دی او د استعمار په مقابل کې نړيوال شهرت لري، زموږ د هېواد يو زيات شمېر نور علماء او طالبان هم د انګرېزانو په دښمنۍ او له هغوي سره د مقابلې نړيوال شهرت لري.

د هغوي له جملې څخه «ملاپيونده» (رحمه الله) دی، نوموړی د محسودو په قوم کې زيات روحاني نفوذ درلود او د قوم هر لوی او واړه هغه ته احترام درلود، هغه له انګرېزانو سره سختې مقابلې او مبارزې کړي دي او تر ډېره وخته په قبائلي سيمو کې د انګرېزانو د اقتدار د مخنيوي په مبارزه کې بوخت و.

»باري فقير» هم د وزيرستان د سيمې يو روحاني او ملي مجاهد مشر و، هغه هم د سوات صاحب مريد او لومړی يې د هغه په مشرۍ له انګريزانو سره مقابلې کولې او بيا وروسته په خپله د يوه جهادي قايد په صفت په مبارزه بوخت و، نوموړی په ۱۲۱۳هجري قمري کال کې د انګرېزانو له خوا شهيد شو او په سپين وام کې خاورو ته وسپارل شو، ويل کيږي چې د ځنکدن پر وخت يې وويل چې د لوی خدای جل جلاله شکر دی چې زما غوندي فقير په لاس يې هم درې دېرش (۳۳) انګرېز افسران ووژل.

»مولانا ګلاب الدين» چې د وزيرو د ملا صاحب په نامه يې زيات شهرت درلود، ډېر متقي او مجاهد سړی و، نوموړي خپل ټول طالبان او متعلقين د

انگريزانو پر ضد د جهاد لپاره را وپارول او په اخر کې د انگريزانو له خوا په شهادت ورسېد.

«مولانا حمدالله» هم يو ډېر جيد عالم او سترمبارز و، هغه د مولانا گلاب الدين له شهادت وروسته د وزيرو د مجاهدينو مشري په غاړه لرله او د خپلو شاگردانو "ملا اکبر" او کاکا صاحب په ملتيا يې ډېرې غزاگانې کړي دي.

»کاکا صاحب» شهيد د وزيرستان له ملي او تکړه مجاهدينو څخه و، ډېر طالبان او مريدان يې لرل، د وانه او ډېره اسماعيل خان په منځ کې چې کوم جنگونه ترسره شوي، په ټولو کې يې گډون درلود، دی د وانه په تعرض کې چې اته ورځې يې دوام درلود سخت ټپي شو او له څو ورځو وروسته د ۱۳۱۲ هجري قمري کال د جمادي الاول په مياشت کې په شهادت ورسېد.

په دې لړ کې د «اکاخېلو ملا صاحب» هم ډېر شهرت لري او زياتې غزاگانې يې کړي دي، همدا راز «ملا حاجي محمد» (وزير) يو ډېر تکړه عالم او زړور شخصيت و، زياتې مبارزې يې کړي دي، د ده دوه ورونه ملا محمد سلام، ملاگل سلام دواړه د انگريزانو له خوا په شهادت

ورسېدل. د محسودو او وزيرو په ټولو جهادو کې گډون لاره او په پای کې په شهادت ورسېد. "سنداکي بابا" هم زموږ د ډېرو جيدو اوتکړه علماوو له جملې څخه دی.

سنداکي بابا صاحب د چکيسيو د منطقې اوسېدونکی و، د انگرېزانو په مقابل کې يې د هغې سيمې له خلکو يوه لويه جرگه جوړه کړه او خپل طالبان مريدان او نور ملي خلک يې جهاد ته تيار کړل، نوموړي د هند د آزادي غوښتونکې ستر او مشهور عالم او مجاهد (شيخ الهند) مولانا «محمود الحسن» ديوبندي سره هم نژدې تعلقات لرل. همدا راز يې د طرابلس په جهاد کې د شيخ «السنوسي» په ملتيا ډېرې غزاگانې کړې. نوموړي په باجوړ کې د انگرېزانو خلاف سخته مبارزه وکړه، دی دانگرېزانو پر ضد د جوړ شوي نهضت "جمعيت الاحرار" مخکښ غړی هم و.

جمعيت الاحرار:

د «ترنگزو حاجي صاحب» د بابړي ملا صاحب، د الينگار فقيرصاحب، سيد معروف خان پاچا، د کېندري حکيم صاحب، مولوي صاحب فضل الدين (کابلي ملا صاحب) او نورو زيات شمېر مجاهدينو د «جمعيت الاحرار» په نامه يو منظم تنظيم درلود، چې د انگرېزانو پر ضد يې د آزادۍ لپاره هراړخيزه مبارزه کوله.

د «بابړي ملا صاحب» چې اصلي نوم يې «سيد امير» و، جيد عالم او د هډې د نجم الدين اخندزاده صاحب خليفه و، ډېر جهادونه يې کړي، د ده مشهوره غزا د سکو دېرې ده چې ټول انگرېزان يې په هيبت کې اچولي وو.

مولوي صاحب «ميراجان» (کاکاخېل) هم يو جيد عالم او تکړه مجاهد و، نوموړی نړيوال شهرت لري، په استراليا کې يې ژوند کاوه او هلته يې د انگرېزانو خلاف منظم فعاليت درلود، د انگرېزانو خلاف د سياسي فعاليت لپاره امريکا، جاپان او نورو هېوادو ته تللی دی، انگرېزان ورنه ډېر په تشويش کې وو، د انگرېزانو خلاف له نړيوال تبليغاتي کمپاين نه وروسته بالاخره د عملي جهاد لپاره تيرا ته راغی او عملي جهاد يې پيل کړ، ډېرې بريالۍ جگړې وکړې، خو په آخر کې د ځينې بې وفا ملگرو له خوا د يوې توطيې په ترڅ کې انگرېزانو ته په لاس ورکړل شو او بيا يې د مرگ اوژوندهيڅ درک معلوم نه شو.

»مولانا سيف الرحمن» يو بل ډېر جيد او مشهور عالم و، کله چې نوموړی په هند کې د فتح پوري د مدرسې مهتمم و د انگرېزانو پر ضد يې، مبارزه پيل کړه، په اصل کې د افغانستان و او د طالب په صفت هندوستان ته تللی و، د مولانا رشيد احمد گنگوهي شاگرد او په سياسي مبارزه کې د شيخ الهند مولانا محمود

الحسن نژدې ملګری و، چې د هغه له خوا یې په افغانستان کې د حکومت توجه د انګرېزانو مخالفت ته را واړوله.

دی په هند کې د انګرېزانو له خوا تر فشار لاندې راوستل شو او وروسته د سوات بونېر او باجوړ له لارې افغانستان ته راغی او دلته یې د انګرېزانو پر ضد مبارزه ګړندۍ کړه.

زموږ د علماوو یوه بله مشهوره استعمار ضد څېره «ملا حاجي فضل واحد» (رحمه الله) دی چې د ترنګزو په حاجي مشهور دی او د انګرېزانو په مقابل کې د خپلې مبارزې په وجه نړیوال شهرت لري، نوموړی د «ابوبکر اخندزاده» صاحب شاګرد او د هډې د ملا صاحب خلیفه و، د ترنګزو حاجي صاحب د ملکنډ په غزا کې ګډون درلود او په (۱۹۰۱میلادي) کې د نجم الدین اخندزاده صاحب (علیه الرحمة) د خلف په صفت د مجاهدینو مشري وټاکل شوه، نوموړی د افغانستان د استقلال په جهاد کې د مومندو د قوم په مشرۍ پر ډکه حمله وکړه، همدا راز یې په ملکنډ کې له انګرېزانو سره سخت جنګونه وکړل او د انګرېزانو ټول پلټن (پوځي واحد) یې ورتباه کړ او بالاخره یې انګرېزان سولې ته مجبوره کړل، نوموړي د هند د آزادۍ د غورځنګ له مشر- شیخ الهند محمودالحسن (رحمه الله) سره ټینګ ارتباط درلود او د هغه په لارښوونه یې ډېره مبارزه وکړه. همدا راز یې د خپل یو منظم پروګرام له مخې ډېرې دیني مدرسې هم جوړې کړې، چې خلک په دین پوه او د جهاد لپاره اماده شي. مشهورې مدرسې یې کډې، اتمانزو او د حمزه خان مدرسې دي چې ډېرو طالبانو استفاده ورځخه کړې ده.

»چکنور ملا صاحب» هم د افغانستان د ملي مجاهدینو له جملې څخه یوسترنوم دی، نوموړی د افغانستان په جهاد کې د ستر رول څښتن و او د استقلال په بېرته ګټلو کې یې مهم رول لوبولی، کله چې سپه سالار «صالح محمد خان» په ډکه کې ماتې وخوړه او ننګرهار د سقوط له خطرسره مخ شو، د نورو ډېرو علماوو او ملي مجاهدینو په شمول چکنور ملاصاحب د ملي دفاع لپاره ولس په خپل عالمانه قیادت کې راپورته کړ او د جلال آباد ښار یې له سقوطه وژغوره.

دغه راز یو شمېر نور علماء چې ډېر مشهور دي او ډېرې مبارزې یې کړې دي، لکه مولوي فضل ربي، مولانا فضل محمود مخفي، مولانا منصور انصاري، قاضي صاحب هیبت شاه، الینګار فقیرصاحب، ایپي فقیرصاحب، لنډورو پیر صاحب، مولوي عبدالخلیل او نورو په زرهاوو علماء چې په ملي کیسو کې یې اوس هم خلک یادوي او آثار تر پاتې دي، د افغانستان د استقلال او في الجمله له انګرېزانو سره د جهاد په وجه د یادونې وړ دي، د دې علماوو آثار اوس هم ډېرځایونه شته لکه په کندهار کې د «شهیدانو چوک». په دغه چوک دشهیدانو په ویاړ اوس هم یومنار شته، د دغو شهیدانو اکثریت د مدرسو او مسجدو طالبان وو، چې په تشو لاسو یې د انګرېزانو په قواوو حمله وکړه او په هم هغه ځای کې شهیدان او ښخ شوي دي او اوس یې پر ځای منار ولاړ دی او دا چوک هم څکه د شهیدانو پر چوک نومول شوی.

د خپلواکۍ د بېرته اخیستلو د غزا په درې وارو محاذونو کې د علماوو ونډه:

لکه مخکې چې مو په اجمالي توګه د انګرېزانو پر ضد د علماوو مبارزې او مجاهدې په لنډ ډول وړاندې کړې، اوس ضروري ګڼم چې د خپلواکۍ په اخیستلو یا د افغانانو او انګرېزانو د درېیمې جګړې حالات او په هغه کې د علماوو ونډه، د هغوی حسن تدبیر او د ملت په راپاڅولو کې د هغوی رول تر خپله وسه په تفصیل سره وړاندې کړم. کله چې امان الله خان د خپل پلار له مړینې وروسته د پاچاهۍ اعلان وکړ او د کابل د شوربازار د حضرت صاحب «نورالمشایخ» فضل عمر مجددي قدس الله سره له خوا د کابل د عیدګاه په مسجد کې هغه ته د پاچاهۍ پګړۍ ور په سر کړل شوه؛ نو په هم هغه ورځ او هغه میدان کې یې د افغانستان د

خپلواکۍ اعلان وکړ، څرنګه چې پخوا د هغه د نیکه او پلار په وخت کې افغانستان په خارجي سیاست کې خپلواکي نه لرله او د انګلیسانو تر نفوذ لاندې یې یوازې داخلي خودمختاري لرله، امان الله خان دا جرئت وکړ، چې د افغانستان خپلواکي او استقلال یې اعلان کړ، په دې اعلان کې دی یوازې نه و، بلکې په دې کې د ده تر شا علماء، روحانیون، ملي مشران او بالاخره ټول غیور ملت ولاړ وو، بالمقابل انګریزانو د افغانستان استقلال او نوی حکومت په رسمیت نه پېژانده او په اصطلاح د جنګ خاشه یې واخیسته، غوښتل یې چې په افغانستان حمله وکړي او د افغانستان د خپلواکۍ اعلان او غوښتنه رد کړي، په همدې خاطر د افغانستان د دفاع لپاره له دوو خواوو څخه د سپه سالار «محمد نادر شاه» د جنوبي افغانستان لپاره او سپه سالار "صالح محمد خان" د ختیځ محاذ یعنې جلال آباد او د خیبر د دفاع لپاره وټاکل شول، د کندهار په محاذ کې د سپین بولدک پر قلعه جدید باندې انګریزانو خپله حمله چمن له لوري وکړه او پخوا له دې چې په کندهار کې مجاهدین سره منظم شي د سپین بولدک قلعه (کلا) یې د مجاهدینو له زیات مقاومته وروسته ونیوله، خو هلته هم مجاهدینو زیات مقاومت وکړ او قرباني یې ورکړې، د کندهار په محاذ کې وروسته یوه لویه قوه تیاره شوه او له بېلابېلو سیمو څخه د علماوو په دعوت او د جهاد په مینه ډېر خلک او مجاهدین سره یوځای شول، د کندهار د سلګونو علماوو له جملې څخه د ارغنداب محمد رسول اخندزاده صاحب، محمد حسن اخندزاده صاحب او عبدالحمید اخندزاده صاحب ډېر مشهور دي، دغو علماوو د خپل علمي او روحاني نفوذ په وجه زیات شمېر طالبان مریدان او نور متعلقین د جهاد لپاره اماده کړل او په زرهاوو تنه قوه یې تیاره کړه، د دې قوې دومره تاثیر و، چې انګرېزان په چمن او کوټه کې هم په تشویش کې شول، خو د امان الله خان د متارکې او له انګریزانو سره د سولې په وجه دا قوه معطله سوه او جنګ یې ونه کړ، د جنوبي سیمو خوست او پکتیا د محاذ لپاره چې کله امان الله خان سپه سالار محمد نادر شاه خان ته قومانده وسپارله؛ نو هغه په خپله له خپل ځان سره د کابل د شوربازار حضرت صاحب (شمس المشائخ) فضل محمد مجددي قدس سره او نورالمشائخ فضل عمر مجددي قدس سره وغوښتل او امان الله خان ته یې وویل چې: "بکمال ذوق ومحبت حاضرم که برای خدمت وطن خود درین موقع نازک علی الفور برای جهاد عازم سمت جنوبی شوم تنها اجازه می خواهیم که ارجمند شاه ولی خان رکاب باشي و شاه محمود خان و جناب حضرت صاحب شوربازار را با خود ببرم". څرنګه چې حضرت صاحب نورالمشائخ رحمه الله او د هغه ورور شمس المشائخ رحمه الله په لوګر، پکتیا، خوست، پکتیکا، غزني او زابل کې زیات علاقه مندان او مریدان لرل په دې اساس نادر شاه د هېواد د استقلال لپاره د هغوی رول مهم وباله، جناب حضرت صاحب نورالمشائخ (رحمه الله) د انګرېزانو په مقابل کې د مبارزې نړیوال شهرت هم درلود، په دې اساس د مجاهدینو په دې لښکر کې حضرت صاحب د یوه مهم مشر په صفت ګډون وکړ او د دوی د ګډون او په بېلابېلو سیمو کې د جهاد د دعوت په وجه په زرهاوو کسان د دوی په لښکر کې ورګډ شول.

د روژې د مبارکې میاشتې په ۱۱مه نېټه دپکتیا د زرمت په سیمه کې د حضرت روحاني (رحمه الله) پر مزار په زرګونو مجاهدین راټول شوي وو، حضرت نورالمشائخ (رحمه الله) هغوی ته په خپله وینا کې د جهاد او غزا اهمیت د وطن د استقلال ضرورت او د افغانستان تاریخ او سابقه داسې بیان کړه: «... برادران حقیقي و دیني خالق کون و مکان بنده ګان خاص خود راکه مسلمانان اند امر اکید به جهاد میفرماید، و نیز غلظت درمقابل کفار و منافقین را به مسلمانان ارشاد مي فرماید، و هم ولایت خاصه و عامه کفار را ازمسلمانان سلب نموده و

مسلمانان را حر و صاحب اختیار تامه معرفي مینمایند، مملکت افغانستان از وقتیکه احمدشاه ابدالي سلطنت آنرا بر اصول دین اسلام نهاده غلامي راقبول نکرده.

په یوه بله وینا کې یې چې د افغانستان د مخکنیو حکومتونو له نیمه غلامۍ څخه شکایت کاوه او د انګریزانو سیاسي تسلط یې غانده، وفرمایل: «... ما این قباها راکه بمقراض حرس و ظلم بر مابیچارگان مشرق زمین بخیال پوچ خود درلندن و درشهرهای دیگر نصرانیت بریده وساخته اند هیچ گاهی بردوش نینداخته و نخواهیم انداخت، سبحان الله چه افتخار بزرگ است اگر شهید شدیم جنت الفردوس جای ما است و اگر زنده و مجاهد ماندم باعث سعادت دارین ما است، چنان سعادتی که قدسیان را بر آن غبطه آید امروز ملت و عسکر پیر و جوان شیخ و عالم دهقان و خان همه متفق الکلمه استیم و میگوئیم که استقلال خود رابه فدا کردن نفس، مال، اولاد، عیال و احفاد بدست مي آوریم، فقیر التجاء میکنم که امروز تمام اقوام افغانستان نعره جهاد استقلال و اعلان جهاد را لبیک گوید، از اقوام سلیمان خیل به تعداد ششهزار جوان داخل میدان جنگ شدند» .

څرنګه چې د حضراتو کرامو نفوذ زیات و؛ نو د هغو سیمو ټولو مسلمانانو، طالبانو او غیور ولس د هېواد دازادۍ لپاره ملاوې وتړلې او د دوی په حسن تدبیر او د نادرشاه په اخلاص او له علماوو سره د مشورې په وجه د افغانستان دغه لښکر د انګرېزانو په زړونو کې رعب واچاوه او یو په بل پسې یې ماتې وخوړې، د محسودو او وزیرو د قومونو مجاهدین اوعلماء هم ورسره یوځای شول، سپین وام میران شاه او ټل یې فتح کړل، سره له دې چې انګرېزي قواوې ډېرې منظمې او منسجمې وې او زیات نظامي امکانات یې لرل، خو د افغانستان د مېړني ولس د مقابلې توان یې له لاسه ورکړ، که چېرې امان الله خان له انګریزانو سره د متارکې اعلان نه وای کړی؛ نو په دې کې شک نه شته چې دا قواوې او لښکر به د پنجاب تر سرحده رسېدلې وای او د ففانستان لپاره به یې لویه سوبه ترلاسه کړې وای.

د جنوبي په محاذ کې د قربانیو په ورکولو سره نورالمشائخ او شمس المشائخ ته دامان الله خان له خوا دنورالمشایخ اوشمس المشایخ القاب ورکړل شول او د هغوی مجاهدې او غزاګانې وستایل شوې، په دې غزا کې پر نورو زرهاوو علماوو سربېره د موسهي اخندزاده صاحب، مولانا حمدالله، احمد جان خان، قاضي صاحب عبدالرحمن پغماني چې وروسته د امان الله له خوا په شهادت ورسېد، د اتمانزو ملاصاحب ملاعبدالرشید شهید رحمه الله چې وروسته یې د امان الله خان د اسلام ضد اساسنامو پر ضد له ملاعبدالله شهید (رحمه الله) سره یوځای جهاد وکړ او شهید شو، ملا عبدالحمید غزنوي صاحب، غلام رسول صاحب زاده صاحب او نورو مشهورو څېرو ګډون درلود.

د شرقي زون په محاذ کې د صالح محمد خان په مشرۍ عسکر واستول شول او صالح محمد خان ته یې امر وکړ چې د مولانا عبدالرزاق علیه الرحمه بې مشورې به هیڅ کار هم نه کوي، مولانا عبدالرزاق چې په مولانا عبدالرزاق اندړ ډېر مشهوردی، د افغانستان له جیدو علماوو څخه دی او د انګرېزانو په دښمنۍ کې نړیوال شهرت لري، په ریاضیاتو کې یې ستر نوم لاره، د مولانا رشیداحمد ګنګوهي شاګرد و او د هغه په لارښوونه او مشوره یې د انګرېزانو خلاف مبارزه پیل کړې وه، انګرېزي دائرة المعارف (هو از هو) د ده په هکله لیکي: چې نوموړی تکړه عالم د شاهي مدرسې مدرس او د انګرېزانو سخت مخالف و، ده به همېشه په آزادو قبایلو کې خپل فعالیت کاوه او ټولو قبایلو ده ته سخت احترام درلود.

امان الله خان هم د یوه مکتوب په ذریعه له مولانا صاحب څخه هیله وکړه، چې د قبایلو په تیارولو کې مرسته وکړي او د انګرېزانو خلاف جهاد پیل کړي، مولانا صاحب هم خپل فعالیت پیل کړ یو هیئت یې د دېر نواب اورنګزېب خان ته

واستاوه، چې خپله په دې جهاد کې برخه واخلي، بل هیئت یې د مولانافضل محمود مخفي په مشرتابه سوات ته ولېږه چې د اخند صاحب د لمسي- میاګل صاحب له خوا مجاهدین تیارشي، امب او دربند ته یې هم هیئت واستاوه، یو بل هیئت یې د بونېر او کوهستان سیمو ته ولېږه، دغه راز یې یو هیئت د باجوړ خان محمدجان خان ته ولېږلو. په خپله مولانا صاحب په آزاد قبایلو کې جرګه راوبلله، تر ټولو لویه جرګه یې د چارمنګ په سیمه کې چې د بابړي د ملا صاحب په نفوذ کې وه دایره کړه او علماء، سادات، مشایخ او قومي مشران په کې شریک وو، جرګې څو مادې په لاندې ډول تصویب کړې

لومړۍ ماده: ترڅو ټول افغانستان له انګرېزي استعماره خپلواک شوی نه وي مبارزه او جهاد به نه پرېږدو.

دوهمه ماده: د هر کور له څلور نفرو به یو جهاد ته ځي او یوه میاشت وروسته به هغه تبادله کېږي او پرځای به یې بل نفر جهاد ته ځي او دا سلسله به تر پوره آزادۍ پورې جریان لري.

دریمه ماده: هر نفر چې جهاد ته ځي باید د یوې میاشتې خوراک او نور ضروریات له خپل ځان سره خپله واخلي.

څلورمه ماده: د هر قوم غښتلي او تجربه کار سړی به د هغه قوم د قوماندان په صفت ټاکل کېږي.

پنځمه ماده: د هر قوم مشري به د هغه قوم د روحاني او عالم شخص په لاس کې وي، ترڅو خلک یې پوره اطاعت وکړي.

شپږمه ماده: هر قوم به د خپلو نفوسو په اندازه بسپنه ورکوي.

اوومه ماده: د ټولو قبایلو عمومي قومانده به د الحاج مولانا عبدالرزاق په غاړه وي؛ نو په دې اساس مولانا صاحب د مومندو او چارمنګ د مجاهدینو قومانده د بابړي ملا صاحب ته وروسپارله او د نورو قومو د لښکرو قومانده یې د ترنګزو حاجي صاحب مولانا فضل واحد ته وسپارله چې هغه به د شبقدر او دیر شاوخوا حمله کوي، د سالارزو مجاهدین به د مولوي امیرالدین صاحب په قومانده خپل جهاد کوي او ټول قبایلي لښکر به له بېلابېلو لارو پر پېښور حمله کوي، مولانا عبدالرزاق، صالح محمدخان ته لیکلي وو، چې ترڅو موږ اطلاع درنه کړو پام کوه چې پر ډکه جګړه شروع نه کړې، خو متأسفانه پخوا له دې چې قبایلي لښکر او نورو قومونه خپل ځانونه سره برابر کړي، صالح محمد خان په ډېرې بې تدبیرۍ سره پر ډکه حمله وکړه، چې بیا یې د انګریزانو په مقابل کې مقاومت و نه شوای کړای او له خیبره بېرته ډکې ته راشاته شو او یوازې د پښې د یوې ګوتې په زخمي کېدو سره یې خپل عسکر په ډېره بې نظمۍ راشاته کړل، په دې سره انګریزانو زړه پیدا کړ، غوښتل یې پر جلال آباد حمله وکړي، خو نورو مجاهدینو او علماوو د ملي قیام اعلان وکړ او خلک یې جهاد ته راوبلل، په دې علماوو کې د اسلامپوري شیخ پاچا صاحب (میر صاحب جان) د چکنورو ملا صاحب میرسید پاچا او نور ملي مجاهدینو او مشرانو د ملت په راپاڅولو کې زیات رول ولوباوه، جلال آباد یې د دښمن له حملې وژغوره او په دې ډول د مولاناصاحب پروګرام چې تر کشمیره او راولپنډۍ پورې یې څلور لکه لښکر تیار کړی و او د پېښور د نیولو مکمل پلان یې ترلی و، د صالح محمد خان د بې نظمۍ او بې تدبیرۍ او په عین حال کې د نه مشورې په وجه شنډ شو، ورسره د امان الله خان لخوا د متارکې او سولې په بې ځایه اقدام سره د علماوو او ملي مجاهدینو هغه طرحه چې د افغانستان هغه برخې یې چې انګلیسانو د فشار په وجه له افغانستانه د امیرعبدالرحمن په وخت کې د ډېورند د کرښې په نامه بېلې کړې وې، بېرته آزادول یې له خاورو سره خاورې شوه او انګلیسان بېرته خپلو زړو قرارګاوو ته ورغلل او په لکونو ملي مجاهدین د جهاد د جذبې او ولولو سره یوځای مایوسه او تیت پرک شول.

(له الاماره نه په مننه)

...په تیرپسي
م: شمس...

غامدیت...

داوسني عصر لویه فتنه...

دمرتـد لپـاره دمـرګ لـه سزانه انکار:

غامـدي دمرتـدلپاره دمـرګ لـه سزاانکارکوي «مرتد» لفـظ د «ارتـداد» څخـه دی، لغـوي معنـی يـې ده بيرتـه ګرځيـدل، بيرتـه تلـل، دشرعـي پـه اصطلاح کې دارتداد مطلب دی داسلام مبين دين پريښودل اوکفرغوره کول، ارتداد قولي هم کيدای شي اوفعـلي هـم، مرتد هرهغه شخص ته ويل کيږي، چې هغـه داسـلام مبـارک ديـن پريـږدي اوکفرغوره کړي.

اسلام کـې دمرتـد سـزا قتـل ده، کومه چې دصحيح احـاديثو، د صحابه وو له تعامل او دامت داجماع نه ثابت دی

خـو غامـدي دا منصـوصي او اجماعي حکم نه مني، او دمرتـد لپـاره دمرګ له سزا ورکولـو څخـه منکردی، موږ ترهرڅخه دمخه په دي خبره چې مرتد واجب القتـل دی شرعـي اوعقـلي دلایل راوړو او دبیا وروسته دغامدي دموقف جایزه اخلو.

صحيح احاديث:

درسول الله ﷺ دمستندو فرامينو په بنا دامت علماوومرتـد لپـاره دمـرګ پـه سزاورکولو اجماع کړيده، چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

۱ – په صحيح بخاري کې له حضرت عبد الله بن عمررضی الله عنهما نه روايت دی: چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

من بدل دينه فاقتلوه (صحيح بخاري دحديث شميره: ۶۹۲۲)

هر (مسلمان) چې خپل دين بدل کړهغه قتل کړئ

په همدې مضمون نوراحاديث: دنورو جليل القدرصحابه وونه لکه: حضرت ابوبکرصديق، حضرت ابوموسی اشعري، حضرت خالدبن وليد، حضرت معاذبن جبل، رضی الله تعالی عنهم نه هم روايت دي، ياد حديث دبخاري شريف نه علاوه په سنن ابو داود، سنن ابن ماجـه، او موطـا امام مالک کې هم شته دی.

۲ – د بخاري اومسلم دواړو متفق عليه حديث دی:

«عن عبد الله قال: قال رسول الله ص لايحل دم امرئ مسلم يشهد أن لا اله الا اللـه وأن رسول الله الا باحدى ثلاث: النفس باالنفس، الثيب الزني، والمفارق لدينه التارک للجماعة»

حضرت عبدلله [بن مسعودرضي الله عنه] نه روايت دی چې رسول اللـه ﷺ فرمايل: دهيڅ يو مسلمان وينه تويول جايزنده، چې هغه داګواهي ورکوي چې داللـه تعـالی نـه سيوا بل څوک دعبادت لايق نشته او داچې زه دالله رسـول يـم، پرتـه ددي درې صـورتونوڅخه: يوداچې هغه څوک قتل کړي، دويم داچې هغه شادي شده [مرونبی] زناکاروي، دريم داچې هغه خپل دين پريږدي (دمسلمانانو) له جماعت نه جلاشي.

داحديث دصحيح بخاري نه علاوه صحيح مسلم، سنن ابوداود، جامع ترمذي، سنن نسائي، سنن ابن ماجه، سنن دارمي، اومسند احمد بن حنبل کې هم شته او دحضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه علاوه له حضرت عائشه صديقه رضي الله تعالی عنها اوله حضرت عثمان غني رضی الله عنه هم روايت شوی دی

۳ – دسنن ابو دادود حديث:

« عن ابي أمامة بن سهل قال: كنامع عثمان وهومحصورفی الدار، وكان في الدارمدخل من دخله سمع كلام من علی البلاط، فدخله عثمان، فخرجه اليناوهو متغيرلونه، فقال: انهم ليتواعدونني بالقتل آنفا، قال: قلنا يكفيكهم الله يا أمير المؤمنين قال: ولم يقتلونني؟ سمعت رسول الله ص يقول: لايحل دم امرئ مسلم الاباحدى ثلاث: كفر بعداسلامه، أوزنا بعد احصان، أوقتل نفس بغيرنفس، فو الله مازنيت في جاهلية ولافي اسلام قط، اولا أحببت أن لی بديني بدل منذهداني الله، ولاقتلت نفسا فبم يقتلونني؟ »

له حضرت ابوامامه بن سهل رضی الله عنه روايت دی، چې زه اوخونورکسان دحضرت عثمان رضي الله عنه سره ناست وو، کله چې هغه خپل کورکې محصوررو، دهغه په کورکې يولاروه چې دهغې دننه ولاړسړي به په اسانی سره دبيرون ولاړو خلکو خبرې اوريدې، حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه هغې ته ننوت، بيا راووت اودمخ رنګ يې تغيرکړی و، ويې فرمايل: داخلک زما دقتل ګواښونه کوي، موږ عرض وکړ ای امير المؤمنين ددوی په مقابل کې تا ته الله تعالی کافي دی، بيا يې وفرمايل: داخلک ما ولې قتلوي؟ ما درسول الله صلی عليه وسلم نه اوريدلي چې دهيڅ مسلمانه وينه حلاله نده مګرداچې د درې صورتونوڅخه يو صورت و: چې داسلام راوړو وروسته كفرغوره کړي يعنې مرتد شي، يادواده وروسته زنا وکړي، يا څوک ناحقه قتل کړي، په الله تعالی سوګند ما نه دجاهليت په زمانه کې زناکړې او نه داسلام وروسته، دويم داچې له کله نه چې ماته الله تعالی هدايت کړی ما ته دخپل دين بدلول خوندنه راکوي، دريم داچې ماڅوک په ناحقه قتل کړی هم ندی نوبيادوی څنګه غواړي چې ماقتل کړي؟

له يادواحاديثونه په ښکاره ثابته شوه چې په اسلام کې مرتدشخص مباح الدم او واجب القتل دی، دهمدې صحيحه احاديثو په اساس فقهاوو په دې اجماع کړې چې په اسلامي شريعت کې دمرتد سزا قتل دی

داحاديثوله کتابونو (چې يکې بخاري هم ده) اودتاريخ دمعتبرو کتابونوثابته ده چې څلورو واړوراشدينو خلفاوو د خپلوخلافتونو دوروکې مرتدينوته هميشه دقتل سزا ورکړې، چې دبحث طولاني کيدو له وجې دلته د تفصيلاتو راوړوڅخه ډده کوو

په ورته توګه دبنو اميه اوبنوعباس خلفاووهم په مرتدينو د قتل سزا نافذکړې، مجتهدينو ايمه وو هم پر دې اتفاق کړی دی چې دمرتد سزا قتل دی، اويه دې دامت اجماع هم ده، په دې سلسله کې لاندې حوالې ملاحظه کړئ:

واتفق الائمة الأربعة عليهم رحمة الله تعالى على أن من ثبت ارتداده عن الاسلام- والعياذ بالله – وجب قتله، وأهدردمه [الفقه على المذاهب الاربعة، ۴۲۳/۵مخ)

څلورو ايمه وو په دې اتفاق کړی دی چې کوم شخص داسلام نه وګرځي.... (الله دې مودې وساتي) دهغه قتل واجب دی، او دهغه وينه تويول جايزده

۲ – داسلامي فقهې د اجماعي مسائلو په زخيره دايرة المعارف موسوعة الاجماع کې راغلي چې دمرتدوينه بهول جايزده

په دې ټول اسلامي فقهاء اتفاق لري چې ازاد مسلمان مرتد شي دهغه وينه تويول روادي.

۳ – داسلامي فقهې مشهور کتاب [الفقه الاسلامي وأدلته] کې دوکتور وهبه زحيلي هم د احكام المرتد تربحث لاندې دمرتد لپاره دقتل په سزا باندې دامت اجماع راوړې نوموړې ليکلي:

« اتفق العلماء على وجوب قتل المرتد لقوله صلى الله عليه وسلم: من بدّل دينه فاقتلوه، وقوله عليه السلام لا يحل دم امرئ مسلم، الا باحدى ثلاث: الثيب الزاني، والنفس بالنفس، والتارک لدينه المفارق للجماعة، وأجمع أهل العلم على وجوب قتل المرتد»

په دې علماء اتفاق لري، چې دمرتد قتل واجب دی، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمان دی، چې کوم مسلمان خپل دين بدل کړ، هغه قتل کړئ، همدا راز رسول الله صلی الله عليه وسلم دا فرمان هم دی، چې دهيڅ مسلمان شخص وينه حلاله اومباح نده مګر په

دري صورتونوکې یو داچې واده کړی زاني وي، دوهم داچې هغه څوک قتل کړي، دریم داچې هغه دین پرېږدي او دجماعت نه ووزي، او دعلماوو پر دې اجماع ده چې دمرتد قتل واجب دی

پورته یادو شرعي دلایلو دتفصیل نه داخبره په پوره توګه روښانه کېږي، چې په اسلامي شریعت کې دمرتد سزاقتل دی اوپه دې باندې دامت اجماع ده.

دمرتد دسزا عقلي دلایل:

تراوسه موږ هغه شرعي دلایل وړاندې کړل، چې دهغو نه ثابته شوه چې اسلامي شریعت کې دمرتد لپاره سزا قتل دی، او اساس یې په صحیحه احادیثو، د صحابه وو په تعامل اواجماع دی، ددې شرعي دلایلو دپېژندلو لپاره دایمان لرونکي انسان زړه مطمئن ګرځي، چې په اسلام کې دارتداد سزا داده خو افسوس چې نن سبا ډېروداېمان خاوندانو زړونوته دیو شرعي حکم باره کې په محض شرعي دلایلو اطمنان نه راځي بلکې په هغوعلاوه عقلي دلایل هم غواړي، خو په اړه یې شرح صدر راشي له دې وجې موږ دلته دمرتد لپاره دقتل دسزا باره کې څوعقلي دلایل هم راوړو:

۱ – ترهرڅه دمخه داحقیقت په پام کې نیول ضروري دی چې اسلام دنورو ادیانوپشان کوم داسې دین ندی چې محض دبشري ژوند یوجز یا ضمیمې په توګه راغلی، چې دهرسړي د یوې ذاتي اوشخصي معاملې بڼه ولري، اونه کوم لباس دی چې هغه تن یوسړی خوښ کړ اویه تن یې کړ، اوسباته یې بل خوښ کړ هغه پرونی یې دتن څخه وویست، په اصل کې دین دژوند یوکامل نظام دی، یوه پوره ضابطه دی، چې دانسان دانفرادي اواجتماعي ژوند یوه محیطه ټولنه جوړول غواړي اودعبادت، معیشت، سیاست، اخلاقوڅخه واخله دانسان دژوند په ټولو برخو حاوي او راڅرخي ا ویو داسې منظم او منضبط ریاست دجوړیدو غوښتونکی دی، چې دهغه هروګړی ټولو احکامو اوقوانینوته یې التزام لري او تري سرغړونه ونکړای شي

اوس که داسلامي ریاست یووګړی، قانون ماتوي، هغه خپل هغه وګړي ته دقانون سره سمه سزا ورکوي، کله چې یومسلمان مرتد شي نواسلام دي شخص ته دارتداد جرم په ارتکاب سره دمرګ سزا ورکوي، داداسلامي دولت قانون دی، او دنړۍ دنورو حکومتونویه څیرهغه هم دقانون دپلي کولو حق لري.

۲ – اسلام دهغوخلکو ترمنځ چې په اسلام کې پوره داخل نشي۔ اودهغو ترمنځ چې پوره داخل شي اوبیا ووځي، فرق کړی، لومړی ډلې ته کفار، اوبلې ته مرتدین وایي، لومړي ډله زغمي، اوورته یوشمیر حقوق هم ورکوي، خو دوهمه ډله نه زغمي، او هغه دهرحق نه محروموي، لومړی ډله داجنبیانوده، دهغوی په بې مرّوتۍ باندې شکوه نشته، لومړی ډله داجنبیانوده او دوهمه دجفاکاروده، اسلام داجنبیانو سره احتیاط کوي، اوهغوی خپل رازداران نه ګرځوي په دې وجه دهغوی نه دزیات تاوان رسولو اندیښنه هم نلري، اوهرچې خپل دي، هغوی سره راز داري کوي، د ارتداد په وخت تري دزیات تاوان رسولو اندیښنه شتون لري، چې هسې نه سازش وکړي، اودلوی خطر سره مسلمانانان مخ کړي

دمرتد معامله په دوهم ډول پورې متعلق ده، هغه داسلام رازدار وي، کله چې دارتداد مرتکب شي اوداسلام نه جلاشي، نو داسلام اومسلمانانوددښمنی اونفرت په جذبه دکافرانو په صف کې ګډون کوي، دهغه منفي جذبات داسلام اواسلامي حکومت پخلاف دیوې ستړې فتنې اوسازش لامل کیدای شي، دهمدې دمخنیوی لپاره اسلامي شریعت دمرتد لپاره دمرګ سزا ټاکلې.

۳ – اسلام دا اعلان ۱۴ سوه کاله وړاندې کړی دی، چې دهغه دایرې ته د ننوتواونه ننوتو په اړه بشپړه ازادي ده، ددې لپاره هیڅوک مجبوروولی نشي۔ (البقره ۲۵۶) خوداسلام دایرې ته یوځل دننوتو وروسته، دهغې څخه په بیرته وتوبندیزدی، هرڅوک چې دابندیز ماتوي دهغه سزا مرګ دی

اوس که یو سړی ددې اعلان داوریدو وروسته پخپله رضا باندې اسلام ته ننوزي اوبیا پخپله بیرون ته دونلوبندیزمات کړي اوبیا دخپل دې حرکت په سر سزامومي نو ووایاست چې په دې کې داسلام قصورکوم دی؟

۴ – ارتداد داسلام پخلاف دسازش کولو زریعه ګرځیدای شي او په مدینه کې یهودانو دمسلمانانوپخلاف همدا وسله کارولې وه څنګه چې په قرآنِ مجید کې دي چې:

وقالت طائفةٌ مِن أهل الكتاب آمِنوابِالذى أُنزِل عَلَى الذِينَ آمنواوجهَ النَهارِ وَاكفُرواخرهُ لَعَلَّهُم يرجِعُون (ال عمران: ۷۲)

داهل کتابو یوه ډله (خپلو خلکو ته) وایي تاسو لاړشئ (په دي (دین) باندې ایمان راوړئ کوم چې په مسلمانانو نازل شوی دی او بیا ماښام انکار وکړئ څو په دې توگه نور (مسلمانان) هم (دخپل دین څخه) وگرځي.

ددې تفصيل دادی چې یهودو دا سازش کړی وچې خپل ځیني لوستي او معتبر کسان به دمسلمانانوپه صف کې شامل کړي، هغوی به په ښکاره داسلام دایرې ته داخل شي بیا به ژر د اسلام نه ووزي، ورڅخه بیزاربه شي اودهغه خرابي به نورو خلکوته ورسوي چې په دې توگه به دهغو خلکوایمانونه هم متزلزل شي کوم چې نوي مسلمانان شوي او هغوی به هم له اسلام نه واوړي، کله چې لوستي اوباسواد معقول خلک چې اسلام له نژدې نه ویني اوبیا تري په شاشي نوښکاري چې په دې دین کې ځیني خرابي شته، بل ددینه علاوه به په عامو مسلمانانو کې داسلام لورته رغبت او راښکون پاتـه نشي. اگرکه دیهودو داسازش ناکام شوخو نن هم دارتداد په زریعه دمسلمانانو دایمان کمزوره کولو لپاره یې مختلفې فتنې پورته کړي.

۵ – نن سبا د زیاترو هیوادو دننه داقانون شته چې په زور به څوک نه مجبوروي چې خامخا دې په یوځ کې شامل شي بلکې پخپله خوښه که څوک غواړي پوځ کې شامليدای شي، خو یو ځل چې څوک په پوځ کې شامل شي، هغه دیوې ټاکلې مودې نه وړاندې اجازت نلري چې پوځ نه ووځي، که هرڅوک پخپله خوښه دا گام پورته کړي، هغه مجرم گڼل کیږي اوورته سزا ورکول کيږي، تردې چې په ځینو هیوادو کې داقانون هم شته که یویوځي دخپلې وظیفې نه وتښتي هغه ته دمرگ سزا ورکول کیږي

اوس داولې؟ اویه دې ولې اعترض څوک نکوي؟ رکه چې پوځ د اورويا گډورمه نده، هغه په هرهیواد کې خپل جلا نظم ودسپلین لري هغه داجتماعي مسؤليتونو داسې نظام دی چې دنظم و ضبط پرته جوړنشي پاته کیدای، همدا وجه ده چې په ملکي ادارو کې ځیني کارونه چې معمولي گڼل کیږي، هغه په پوځ کې جرم گڼل کیږي، لکه دبوټانو تسمې نه تړل، په وخت دوډی نه خوړل، خپله بستره نه سمول، په عام ژوند کې جرم نه گڼل کیږي خو پوځ کې دا په جرایموکې شمارل کیږي، دیته ورته معامله داسلامي رياست هم ده چې هغه هم داوزو رمه نده چې دوزې کله خوښه شوه درمې نه ووزي اوکله یې چې خوښه شي بیرته درمې سره یوځای شي، اسلامي رياست یوخدائي پوځ [حزب الله] دی چې دا دنورو پوځونوڅخه په نظم وضبط کې سخت اوپابند دی، عامويوځونوکې یواځې په ۲۴ساعتو کې دوه واره حاضرې اخيستل ضروري وي، خو داسلامي تولنې دوگړو لپاره په مسجدکې پنځه واره حاضري ضرورده، همدا وجه ده چې داسلامي حکومت لخوا دارتداد مجرم ته سخته سزا ورکول کیږي، څو داخلي نظم وضبط یې په ځای جوړپاته وي، یومرتد ته په سزا ورکولو سره دمليونونو مسلمانانو ايمانونه محفوظ پاتـه وي، څنگ چې یوقاتل ته دسزا ورکول د ټولنې ساتنه کولی شي، نوله دې وجې هغه څوک چې داسلامي حکومت په دې نظم وضبط باندې اعتراض کوي لومړی دې په نړۍ کې دسختوپوځي قوانينوجاجونه وکړي اوبیر هغودي غوروکړي.

دلته ځیني خلک (چې په هغوکې غامدی همدی) اعتراض کوي چې کله یوتن مرتد شي اوبغاوت وکړي نو یواځې په هغه صورت کې هغه واجب القتل گرځي چې کله هغه وسلوال بغاوت وکړي، څو چې هغه وسلوال بغاوت نه وي کړی دقتل سزامستحق ندی

ددې شرعي ځواب دادی چې دکومو صحيحه احادیثوپه اساس چې دمرتد په واجب القتل کیدو اجماع ده، په هغوکې داخبره نده راغلې چې مرتد څو بغاوت ونکړي هغه دقتل مستحق ندی بلکې په احادیثو کې دمرتد په محض مرتدکیدو باندې دهغه لپاره دقتل سزا راغلې.

او ددې اعتراض عقلي ځواب دادی چې څنگه په نړۍ کې دپوځ نه تېښتيدلی پوځي، دپوځي قوانينو له مخې دمرگ سزا مستوجب گرځول کيږي، او دهغه ددې سزا لپاره وسلوال بغاوت شرط ندی، بلکل همداسې یو اسلامي رياست هم دخپل شرعي قانون له مخې مرتدته، دوسلوال بغاوت کولو پرته هم دمرک سزا ورکولی شي

دمرتد دسزا باره کې دغامدي دموقف جایزه:

غامدي دمرتد لپاره قتل شرعي سزا نه مني، په دې باره کې دنوموړي موقف دادی چې دمرتد دقتل لپاره دسزا حکم ثابت دی، خو دایواځې درسول الله صلی علیه وسلم دزماني ترعربو

خو دفقهاوو دارایه هیڅکله سهي نده، درسول الله صلی الله علیه وسلم داحکم بیشکه ثابت دی خو زموږ په نزد داحکم عام نه، بلکې یواځې ترهغو خلکو پورې خاص و، په کوموکې چې درسول الله بعثت شوی و، او دچا لپاره چې په قرآن مجید کې د [اُمِّیین یا مُشرِکِین] اصطلاح استعمال شوې (برهان، ۴م چاپ، ۱۴۰مخ)

دارتداد دسزا په باره کې دغامدي دموقف چې کله جایزه اخلو نو دهغه د استد لال خلاصه دراوزي چې:

۱ – اسلامي فقهاوو دصحیح بخاري حدیث [من بدله دینه فاقتلوه] کوم مسلمان چې خپل دین بدل کړ هغه قتل کړئ، په خطاء سره یوعام حکم ګرځولی حال داچې دایو خاص حکم دی

۲- اسلامي فقهاوو دیاد یوحدیث په بنا دهرډول ارتداد لپاره دقتل سزا بیان کړې.

۳- دمذکوره حدیث اصل دقرآن مجید دسورة توبه ۵ ایت دی دکوم وروسته چې ددي حدیث حکم خاص ګرځي.

۴ – داسلام په حدودو وتعزیراتو کې دمرتد لپاره دقتل د سزا هیڅ وجود نشته.

ایا د یاد حدیث حکم عام نه دی؟

غامدي وایي: دیاد حدیث حکم عام ندی حال داچې دعربیت تقاضه داده چې عام ومنل شي، داحدیث [من بدل دینه فاقتلوه] کوم مسلمان چې خپل دین بدل کړ هغه قتل کړئ دلته دموصوله [من] اسلوب هم هغه دی کوم چې دلاندې بل حدیث دی:

[من غش فَلَیسَ منا] (ترمذی، حدیث: ۱۳۱۵)

چاچې دوکه وکړه هغه زموږ څخه ندی.

په دې حدیث کې هم من [چې چا] موصوله راغلی، او ددي حکم عام دی ددینه هر دوکه کونکی شخص مراد دی دا سې نشي ویل کیدای چې ددینه یو خاص دوکه کونکی مراد دی، ورڅخه عربي دوکه باز مراد دی او عجمي دوکه بازترې مراد ندی.

غامدی په دې حدیث [من بدل دینه فاقتلوه] کې موصوله من دهغه دعام حکم په معانیو کې اخیستلوپه ځای د [مشرکین عرب] په خاصه معنی کې اخیستی، کوم چې دعربیت خلاف دی اودقرآن وسنت هرمفهوم چې دعربیت خلاف واخیستل شي هغه غلط وي، زکه چې دا دقران وحدیث معنوي تحریف دی، کوم چې دقرآن وحدیث نه دانکارمترادف ګرځي، اوپه دې وسلې کارولو سره یې ټول دین درسول الله صلی الله علیه وسلم تر دورې پورې محدود کړ، ټول اسلامي شریعت یې مسخ کړ، او داکارنامه ددې زماني دحدیثو منکرینو په خاصه توګه غامدي په زیاته زړورتیا سره سرته رسولې.

چه دلاوراست دزدی که بکف چراغ دارد

نوربیا...

مشرکانو پورې خاص و، کومو چې اسلام قبلولو نه وروسته ارتدادبه غوره کاوه، باقي دبل قسم مرتد لپاره دقتل سزا شرعاً نشته غامدي خپل موقف داسې بیانوي:

درتداد دسزا مسئله محض دیو حدیث مدعا په سهي توګه دنه پیژندلو له امله پیداشوې ده، دابن عباس رضی الله تعالی عنهما روایت دی داحدیث په بخاري شریف کې داسې نقل شوی دی: [من بدل دینه فاقتلوه] کوم سړی چې خپل دین بدل کړي هغه قتل کړئ، زموږ فقهاء بالعموم دا حکم عام ګرځوي، چې اطلاق یې په ټولو خلکو یوشان کیږي، کوم چې درسالت له زماني نیولې تر قیامت پورې په دې زمکه کې هرځای چې اسلام پریږدي اوکفرغوره کړي دهغوی درایې سره سم هرهغه مسلمان چې پخپله خوښه او رضا باندې کفرغوره کړي هغه ددې حدیث له مخې لازماً به قتل کولی شي، په دې معامله کې دهغوی ترمنځ که کوم اختلاف دی نو بس دادی چې دقتل نه وړاندې ورته دتوبې مهلت ورکړای شي که نه، حنفي فقهاء په دې لړکې ښځه ددې حکم نه مستثنی بولي، دهغوی نه علاوه باقي نورټول فقهاء په دې متفق دي چې هرمرتد که هغه نارینه اوکه ښځه په اسلامي شریعت کې یې سزا قتل دی (برهان، خلورم چاپ ۲۰۰٦- ۱۳۹مخ)

نوموړی وړاندې لیکي:

کرزی سپین چرګ نه دی

شاهد غزنیوال

کله چې په تیر جولای کې مسکو ته د اسلامي امارت سیاسي مرستیال او د قطر دفتر مشر ملا برادر اخند ولاړی او هلته یې د کابل رژیم پخواني مشر- کرزي ته د بین الافغاني غونډې په ترڅ کې اعتناء و نه کړه نو کرزي د هغو سوله ییزو هڅو په خلاف موقف و نیو کوم چې د اسلامي امارت د چارواکو په ګډون تر سره کیږي.

د مسکو په یاده غونډه کې کرزي دا توقع لرله چې په مسکو کې له ملا برادر سره تر لیدو وروسته به هغه څه تر سره کیږي چې ده یې امریکایانو ته ډاډ ورکړی و.

کرزي امریکایانو ته دا ډاډ ورکړی و چې که نوموړی له ملا برادر سره مخامخ شي نو دی به د خپل قبیلوي تعارف په مټ هغه څه ورباندې ومني چې د امریکایانو غوښتنه ده.

خو په غونډه کې له کرزي سره د ملا برادر ساړه چلند د کرزي هیلې له خاوره خاوري کړي.

له مسکو غونډې څخه تر راګرځیدو وروسته کرزي سمدستي له خپل لوري اعلان وکړ چې دی د طالبانو منته کوي چې د مسکو په غونډه کې یې د کمکي اختر په شپو ورځو کې پر اوربند توافق وکړ.

خو دا چې طالبانو د مسکو په غونډه کې د اوربند په اړه هیڅ ډول توافق نه وه کړی، نو هماغه و چې د کرزي دا اعلان یې د یوې رسمي اعلامیې په صادرولو سره رد او تکذیب کړ.

د کرزي د اشاعتي اعلامیې په مقابل کې د طالبانو اعلامیه د دې لامل شوه چې نور هم نوموړی د طالبانو خلاف موقف ونیسي او د هغوی له لوري سوله ییزې هلې ځلې د بهرنیانو په صلاحیتونو پورې تړلې وګڼي.

کرزی چې دم ګړی په عمومي محافلو او یا هم له رسنیو سره ځان د امریکایي اشغال د ضد څیرې په توګه معرفي کوي په حقیقت کې تر شاه شجاع او ببرک کارمل هم ډیر اجنبي اشغال ته وفادار او د اجنبیانو چوپړ مار دی.

ځکه د نوموړي ټول سیاسي تشهیر د امریکایي اشغال محصول دی، همدې امریکایانو نوموړی د خپلو الوتکو په وسیله د اروزګان غرونو ته دیسانت او د امریکایي بمونو او کروزونو په مټ یې پر افغانانو تحمیل کړ.

همدې کرزي د یوه افغان په توګه په دیرش ملیوني ولس کې پر هیچا باور نه درلود او خپل ځان یې د افغانانو له ګوزاره د امریکایي محافظینو په وسیله ساته.

په ۲۰۰۴ کې د کندهار په ښار کې عبدالرحمن نومي مجاهد وربانديې برید وکړ چې د کرزي دفاع بیا هم د امریکایي محافظینو په غاړه او یوتن امریکایي سرتیري ورکې ووژل شو. همدا کرزی و چې د خپلې واکمنۍ په جریان کې یې له بوشه نیولې تر اوباما او نورو امریکایي جنرالانو د افغانانو د وژلو په مقابل کې د اعزاز مډالونه پر اوږو ورتومبل.

همدا کرزی و چې د فراه د عزیز اباد فاجعه د ده د واکمنې پر مهال رامنځته شوې، د اروزګان پر مسجدونو، او ولسي مناسباتو او د کونړ، ننګرهار، خوست، قندوز پر ولسي غونډو امریکایي بمباري، په کاپیسا کې پر ولسي خلګو د بیالوژیکي وسلو استعمال... هرڅه د ده په واکمنۍ کې تر سره شوي، خو نوموړي به یې په وړاندې یواځې په ظاهره د تمساح اوښکې تویه ولې اونور یې د هیڅ ډول عملي اقدام جرئت نشوای کولای.

کرزی د اشغالګرو د یوې ناڅکې په توګه ټول وخت د هغوی د مصالحو لپاره کار کړی او د هغوی د مصالحو لپاره یې خپل ولس ځپلی دی.

نوموړي تر ۲۰۰۹ کال پورې چې په افغانستان کې د اشغالګرو د جنایتونو د اوج شپې ورځې وې کله هم د خپلو امریکایي بادارانو په وړاندې د مخالفت غږ نه دی پورته کړی، خو په د۲۰۰۹ کې چې کله امریکایان وربانديې وپوهیدل چې نوموړی نور د هغوی د استعماري اهدافو په پلي کولو کې پاتې راغلی اوغوښتل یې پر یوه بل داسې مزدور یې تعویض کړي چې هغه په پردي پالنه کې تر ده زیاته وړ تیا لري نوده ورسره د مخالفت بنه غوره کړه.

خو دا مخالفت هم فقط تر شعار او تظاهر پورې محدود و او کله یې هم د هغوی د جنایاتو په وړاندې داسې اقدام نه دی کړی چې له اشغال سره د ده نه همغږي ثابته کړي.

په ۲۰۱۴ م کال کې هغه مهال چې یوه شوچې د واکمنۍ وخت یې پایته رسیدلی دی د امریکایانو لخوا له امنیتي ترون سره یې د مخالفت ډنډوره پیل کړه او په دې سره یې او په دې سره یې د ولس تیر ایستنې بله لوبه پیل کړه.

کرزي که اوس هرځومره د یوه ملي مشر په جعلي جامه کې د امریکایانو خلاف تبلیغات کوي، دا یې د بیا ځلي حاکمیت ترلاسه کولو لپاره یوه وسیله ده چې ځینې ساده ګان وربانديې تیر باسي.

کنه فطرتا کرزی په بې ننګۍ او بې غیرتۍ کې تر انګریزي شاه شجاع او روسي ببرک کارمل ډیر بې ننګه او لویدلی کرکتر دی.

امریکایانو که پرون د افغانانوخلاف څه کړي او یا یې نن کوي په دې ټولو کې کرزي مستقیما دخیل او دی له امریکایي اشغالګرو سره ګډ جُرمي شریک بولي.

نن که د عبدالکرم خرم په څیر د ده ځینې درباره اردلیان د (څهل سال درطوفان) په عنوان کتابونه لیکي او په هغه کې کرزی امریکایي ضد څیره معرفي کوي او که ځیني نور ساده ګان ورته د ملي زعیم جعلی القاب ورکوي دا هیڅ شي هم کرزي ته د ده له تر سره کړیو جنایاتو څخه برائت نه شورکولی؛ بلکې د ده نوم به په افغاني تاریخ کې د دوهم شاه شجاع او ببرک په کرغیړنو نومونو سره ثبت کیږي.

دا هیڅ نه شي کیدلی چې هغه څوک چې د امریکایي بي ۵۲ او کروزو په پر افغانانو تحمیل شوی وي یو په یوه د یوې جعلي شعار په ورکولو سره سپین چرګ شي.

د ټولو پردي پالو او مزدورانو مخ دي تور وي..

د کشمیر د مسئلې لنډ پس منظر

قاري حبیب

کشمیر یوه غرنۍ سیمه ده چې د هند، پاکستان او چین د الحاق نقطه بلل کېږي. کشمیر د ګلګت په ساحه کې د افغانستان له پامیر سره هم لګېدلی دی. دغه غرنۍ سیمه چې د همالیا د غرونو له لړۍ سره غځېدلې د نړۍ له ښېرازه او ښایسته سیمو ګڼل کېږي. تر دې چې په پښتو کې متل دی (هرچا ته خپل وطن کشمیر دی)

کشمیر له طبعي او اقتصادي اهمیت سوا د پاکستان، چین او هند لپاره ستراتیژیک اهمیت هم لري. دا سیمه هم د پامیر او قراقروم په شان د نړۍ په لوړه سطحه پرته ده او حاکمیت یې ستراتیژیک اهمیت لري. له دې علاوه د اوبو پراخې زیرمې، د سیاحت امکانات او پراخ ځنګلونه یې هم اقتصادي اهمیت لري. په خاص ډول د پاکستان لپاره دا سیمه ځکه مهمه ده چې د دې هیواد ځلور مشهور سیندونه، اباسین، چناب، جهلم او راوي له کشمیر څخه سرچینه اخلي. دې ورځو کې په رسنیو کې یو ځل بیا د کشمیر موضوع راپورته شوې ده. په دې لیکنه کې هڅه کوو چې د کشمیر د موضوع تاریخي سیر ته لنډه کتنه وکړو

د کشمیر خلک له آره هندوان او بودایان ول. سلطان محمود غزنوي او نورو مسلمانانو فاتحانو د دې سیمې د نیولو هڅه کړې وه خو توانېدلي نه و. تر دې چې د اتمې هجري پېړۍ په وروستیوکې د کشمیر بودایي حاکم رینګن شاه اسلام ومانه، پر ځان یې صدر الدین نوم کېښود او له دې وخته په کشمیر کې د اسلام خپرېدل پیل شول. تر دې چې تر اتیا فیصده زیات خلک یې د اسلام په مبارک دین مشرف شول.

په هندې د مغلو د حکومت په مهال کشمیر د مغلي حکومت تر واک لاندې و. تر دې چې احمد شاه بابا په افغانستان کې د لویې امپراطورۍ بنسټ کېښود. او د هند پر خوا یې پرمختګونه پیل کړل. احمد شاه بابا د سند او پنجاب په شان په ۱۷۵۰ میلادي کال کې کشمیر هم تر واک لاندې راوست، چې بیا تر ٦٨ کلونو کشمیر د افغانستان برخه او د دراني حاکمانو تر واک لاندې و. کله چې په پنجاب کې د رنجیت سینګ په مشرۍ سیکان راپورته شول، په ۱۸۱۸ میلادي کال کې یې کشمیر له افغانستانه بېل کړ. په هند د انګریزي استعمار له راتګ سره په ۱۸۴٦ میلادي کال کې انګریزانو سیکان مات کړل او کشمیر یې ونیو. خو

خرنګه چې دا غرنۍ ساحه وه. نو يې د مخامخ اشغال پر ځای د دې ځای واک د امرتيسر تړون له مخې د اوه نيم ميليون روپيو په بدل کې د هندوانو يوې حاکمې کورنۍ (ډوګره خاندان) ته وسپاره.

ډوګره کورنۍ چې په عقيدوي لحاظ هندوان ول سل کاله په کشمير واکمن ول. د سل کلنه موده د کشمير د مسلمانانو لپاره تر ټولو ځپونکي او توره دوره ګڼل کيږي. په دې دوره کې هندو حاکمانو په مسلمانانو قسماقسم ظالمانه قوانين وضع کړل. په اسلامي احکامو او تعليم له بنديز علاوه د کشمير د دموګرافيک بدلون هڅه هم روانه وه او کوښښ کيده چې هندوان اکثريت او مسلمانان په اقليت بدل شي. خو د مسلمانانو سرسخت مقاومت د هندو حاکمانو ارمان پوره کيدو ته پرې‌نښود. په هند انګريزي استعمار په کلونو کې کشمير د يوه خودمختار هبواد په شکل خپلې چارې سمبالولې. او د ډوګره کورنۍ مهاراجه ورباندې واک چلاوه.

په ۱۹۴۷ م کال کې کله چې انګريزانو غوښتل له هند څخه ووځي، په دې سيمه د دوو هيوادونو (هند + پاکستان) د جوړولو نظريه وړاندې شوه. پريکړه داسې شوې وه چې د برصغير په کوم ايالتونو کې چې مسلمانان ډير وي هغه به د پاکستان برخه او په کومو کې چې غير مسلمانان اکثريت وي هغه به د هند برخه ګرځي. له دې جملې د کشمير په يوه استثنايي وضعيت کې و. ځکه چې په دې سيمه کې که څه هم نفوس د مسلمانانو زيات و، خو سياسي واک له يوه پيړۍ د هندوانو د ډوګره خاندان په لاس کې و. او د دې خاندان وروستی حاکم هري سينګ د کشمير بلامنازع حاکم ګڼل کيده.

د اصولو له مخې خو بايد کشمير له پاکستان سره ملحق شوی وای. خو دا چې هندو حاکم هري سينګ له مسلمانانو نفرت درلود او له پاکستان سره الحاق يې د خپلې واکمنۍ د پای په معنی باله نو ځکه يې له هند سره د پيوستون هڅه پيل کړه. د هري سينګ د دې تصميم په وړاندې مسلمانان ودريدل، په کشمير کې شورش پيل شو. په همدې وخت کې د کشمير حاکم هري سينګ له هندي مشرانو جواهر لعل نهرو او سردار پټېل څخه کومک وغوښت خو هغوی ورسره په دې شرط پوځي مرسته وکړه چې د کشمير د دفاعي چارو، بهرني سياست او مواصلاتو اختيار به د هند په لاس کې وي، له دې علاوه داخلي چارې به په خپله اداره کوي. همدا معاهده چې د کشمير د هندو حاکم لخوا شوې وه د مسلمانانو لومړنی حق تلفي وه چې د مسلمانانو دې وطن ته يې د هندي پوځ پښه را خلاصه کړه په دې توګه د هند پوځ د هري سينګ د ملاتړ په موخه کشمير ته داخل شواو د پاکستان چاړواکو د مسلمانانو د ملاتړ تر عنوان لاندې کشمير ته پوځونه وليږل. په ۱۹۴۷ م کال کې په کشمير کې د هند او پاکستان د پوځونوتر منځ لومړنی جنګ ولګېد. دواړو اړخونو هڅه کوله چې د کشمير ډيري برخې تر واک لاندې راولي. په دې ډول د کشمير تر نيمايي زياتې سيمې د هند لاس ته ورغلې او ۳۵ فيصده خاوره يې د پاکستان تر واک لاندې راغله. په ۱۹۴۹م کال کې د کشمير جنګ د ملل متحد په دې پريکړه پای ته ورسيد چې له دې سيمې به د دواړو هيوادونو پوځيان وځي د کشمير له خلکو به ټولپوښتنه کيږي چې له کوم هيواد سره يوځای کيږي او يا هم مستقل هيواد جوړوي. په دې سره جګړه پای ته ورسيده خو د هند او پاکستان حکومتونه د سيمې د غير نظامي کولو پر سر موافقې ته ونه رسيدل چې په دې ډول د ټولپوښتنې مخه هم ډب شوه.. په ۱۹۶۲ م کال کې د کشمير په شمالي غرنيو برخو کې د چين او هند جګړه پيل شوه او ځينې برخې يې چينايانو ونيولې، چې في الحال د کشمير ۴۵ فيصده خاوره د هند، شل فيصده د چين او ۳۵ فيصده د پاکستان تر کنټرول لاندې ده.

له ۱۹۴۹ م کال راهیسې کشمیر عمدتا په دوو برخو ویشل شوی دی. هغه کشمیر چې د پاکستان تر واک لاندې دی آزاد کشمیر ګڼل کیږي او کومه زیاته برخه یې چې د هند تر واک لاندې ده پاکستان یې مقبوضه کشمیر بولي خو هند یې د (جمو و کشمیر) تر نوم لاندې د هند یو ایالت بولي. په تیرو ۷۰ کلونو کې د هند په اساسي قانون کې د کشمیر لپاره یو استثنایي حالت په رسمیت پیژندل شوی و چې په (آرټیکل ۳۷۰) یې شهرت درلود.

د اساسي قانون د دې مادې له مخې کشمیر د هند نیمه خود مختار ایالت ګڼل کیده، چې خپل مستقل پارلمان او انتخابي حکومت جوړولی شي، حتی ځانګړی بیرغ، اساسي قانون او صدر اعظم به لري او د هند حکومت نه شي کولی پارلمان یا قانون یې لغو کړي. د ارټیکل ۳۷۰ د موادو له مخې د هند حکومت یوازې په دفاعي، مواصلاتي او د بهرني سیاست په برخو کې په کشمیر باندې واک درلود. له دې علاوه کشمیر په داخلي ټولو امورو کې خودمختاره و. دې قانون د کشمیر مسلمانانو ته فرصت ورکړی و چې د خپلو رایو په اساس حکومت جوړ کړي. دغه راز د کشمیر خلک تر ډیره حده د خپلو زیرمو او وسائلو مالکان ګڼل کیده او غیر کشمیري خلکو ته اجازه نه وه چې په کشمیر کې دائمي سکونت اختیار کړي او یا هم ځمکې واخلي.

خو د هند اوسني واکمن ګوند (بي جې پي) چې له مسلمانانو سره عقده او دښمني لري. له پخوا یې دا خبره کوله چې د کشمیر استثنایي حالت او نیمه خود مختاري باید ختمه شي. دوی د ټاکنیزو تبلیغاتو په وخت خلکو ته وعده ورکوله چې که ټاکنې وګټي نو د قانون ۳۷۰ ماده به لغو اعلان کړي او کشمیر د هند د نورو صوبو په شان د مساوي حقوقو وړ وبلل شي.

خو ورځې وړاندې همداسې وشول. د نرینندرا مودي د حکومت د کورنیو چارو وزیر امت شاه د پارلمان په غونډه کې د دې قانوني مادې د لغو کولو اعلان وکړ چې په دې سره د کشمیر هیره شوې موضوع یو ځل بیا د رسنیو سرټکی شوه. د هند د دې پریکړې په وړاندې تر ټولو سخت عکس العمل پاکستان وښود او دا یې د کشمیریانو په حق کې ښکاره تیری وباله.

که څه هم د کشمیر مسلمانان له تیرو دوو پیړیو دمحکومیت او مظلومیت ژوند کوي، هغه دا چې که پخوا وړاندې د انګریزي استعمار په دور کې د ډوګره خاندان ظالمانه حاکمیت و اوس وړاندې د هندي پوځ راج چلیږي. خو د هند په قانون کې ۳۷۰ ماده د دوی حد اقل حقوقو د ساتنې لپاره یو قانوني ډال ګڼل کیده. اوس چې دغه ډال هم لرې شوی دی. نو بعیده نه ده چې په هند د غیر مسلمانانو (هندوانو، سیکانو او بودایانو) هجوم ورشي، هلته به د غیر مسلمانانو د اسکان عملیه پیلیږي تر دې چې په پای کې به کشمیر هم په دوهم فلسطین بدل شوی وي. اصلي او زرخیزې سیمې به یې غیر مسلمانان قبضه کړي او مسلمانان به په خپل کور کې پردیس او بې کوره شي.

د زرمت ناورین

محسن پکتین

له کلونو بلکې له لسیزو راسې افغان مظلوم ولس د پردیو له لوري پر هغوی د تپل شویو جګړو بیه پرېکوي، افغانان پرلپسې زیار باسي له دې جګړو ځخه د ارام سا واخلي او د ژوند د پاتې ځو ګړیو لپاره خوښیو څښتن شي، خو نه یوازې دا چې تر اوسه بریالي شوي نه دي بلکې ورځ تربلې د نویو ناورینونو شاهد وي او کلنی، د اختر دوه خوښی، هم ترې واخیستلې شي، مسلمان ملتونه او په ځانګړې افغانان پر دیني بنسټونو ولاړې همدغه د اخترونو دوه لنډمهالي خوښی، لرې چې په تېرو څو لسیزو کې یا ترې په بشپړ ډول بې برخې شوي او یا هم هڅه شوې چې ترې بې برخې کړل شي.

د روان۲۰۱۹زېږدیز کال اګست پر۱۱مه د شپې مهال چې پر سبایې د لوی اختر لومړۍ ورځ وه د کابل ګوډاګیو عسکرو او د هغوی بهرنیو ملاترو د پکتیا زرمت ولسوالۍ پر کولالګو سیمه کې د عامو ولسي خلکو په کورونو په داسې مهال چاپه و وهله چې وګړي به یې یا ویده او یا هم د سبا ورځې لپاره د قربانیو او د اختر مراسمو پر تیاري بوخت و، په یاده وحشیانه چاپه کې وینه څښونکو عسکرو د دریو دهقانانو په ګډون۱۱تنه مظلوم وګړي چې۸یې د لیسو او پوهنتونونو استادان او محصلین و لومړۍ له کورونو را و ایستل او بیا یې په خورا قساوت پر ډزو سره وېشتل او شهیدان یې کړل.

په یو داسې مهال چې زموږ پر مظلوم ولس په درست کال د دې خوشالۍ ورځ یوازې دوه ځله راځي، هغوی ورته هرډول زدکړې، مشغولیتونه، سفرونه او... ځنډولي وي، پر دیني لاربښوونو ولاړ او له هغوی سره سم د ښې لمانځنې په پار یې ورته تابیا نیولې وي، د ځان خوښ عیارولو لپاره په لوړه بیه د ځان لپاره ور توکي را نیسي، که نور یې هرڅومره ژوند له کړاوه ډک وي خو وایي ښه شوه د اختر شپه دې په کور (له اولادونو او کورنی سره) شوه، مجاهدین هم د هغوی د همداسې یوې خوښې او خوشالي ورځې په هڅه او ملاتړ کې د سر بیه پرې کوي، خو د دې هرڅه ترسره کولو وروسته چې تر هدف او یادې خوشالۍ پورې یوازې د څو ساعته لنډې شپې سباکېدلو فاصله پاتې وي یو ناځاپه د۱۱کسیز مظلومانه شهادت پر وير او ماتم واوړي تبعاً هم د ولس مظلومیت او د دښمن وحشت انتهاء ته رسوي، تر نورو هغو ډېر زور غواړي او ستر ناورین ګڼل کېږي چې د ټول ولس او بشپړ مسلمان ملت د خوښی په یوازېنی او ترټولو ډکه ورځ رامنځته شوی.

نوری پیښې که دردونکې وی/دي هغه د د ښمن د وحشت په وړاندې د ولس د مظلومیت له اَمله، نو ځکه یې درد نسبتاًکم انګېرو، خو په یوه داسې مهال چې د زرمت ولس یې شاهد و د وحشت او مظلومیت دوارو د انتهاء له اَمله رښتیاهم دغه پیښه خورا او په وروستی، غایه کې دردونکې او بورنونکې وه، دښمن ښایي همدغه حقیقت درک کړی او همدېته پر کتو یې بلیکواټر ته منسوب وینه څښونکي داره ماران د هَکِښْکِښْ هَکِښْکِښْ په نارو د زرمت لور ته شغولي او شکارلي وي.

په زرمت کې اختریز ناورین په داسې حال کې صورت نیسي، چې موده وړاندې د بهرنیو ځواکونو قومندان سکاټ میلر خپلو مزدورو کورنیو ګوډاګیانو ته خبرداری ور کړی و چې له دې وروسته به د ولسي وګړو د مرګ ژوبلې حساب ورسره کوي او هغوی هم سمعاً و

اطاعةً ویلي و چې د بیاځل مخنیوي لپاره یې یوه دله وټاکي څو...

دښمن چې څومره ولس ته زیات زیان واړوي او د ولس له توند او دروند غبرګون سره مخ کېږي هغومره یا څو برابره زیات خپل عملیات په نښه او هدف برابر شي، لکه په ننګرهار، میدان وردګ، لوګر، غزني او... ولایتونو کې هم دا ډول شوي و، موده مخکې دښمن په همدې زرمت کې ولس ته د سر او مال خورا درانه زیانونه واړول، خو بیا یې د مخکښ طالب مشر- ملا امیرخان متقي په ګډون د ګڼ شمېر طالبانو د وژلو په ادعاء خپل دغه عملیات تر ټولو بریالي ښودل، دا ځل یې بیاهم دغه چاره جوړې وکړه خو د ولس غږ یې چپ نکړای شو او اوس یې د ځېرلو خبره کوي.

ګویا دوی د ولس له ژوند سره په دې ډول لوبې کوي او پر هغوی په خپلو مېنو/کورونو کې تریېنګ زده کوي، چې د طالبانو فرضي او خیالي مشران او افراد یې جوړ وي، شتمنی یې غنیمتونه، کورونه یې مورچلونه، مسجدونه یې سنګرونه او مدرسې یې د نظامي زدکړو مرکزونه فرض او تصور کوي او دا ډول خیالي نقشې او پلانونو بیا پر ولسي- وګړو، د هغوی پر شتمنیو او دیني شعائرو تطبیقوي او هغه پکې په نښه کوي.

پایله یې دا په لاس راځي چې دښمن پر دې ښه له سرو مغزو سره پوهېږي چې ماتې ولس ورکړې طالبان د همدې ولس د جګړې او خپلواکۍ ګټلو پرسونل دی، نو د ولس په وړاندې ولاړ، نوم د طالب پر ږدي خو هدف یې همدغه ولس دی.

له دې کابو پینځه میاشتې وړاندې (۱۳۹۷/۲۹/۱۲ش) په زرمت کې د نورو غمیزو په غبرګون کې د زرمت محصلینو په پارلمان کې د زرمت ولس د استازي د نه شتون له امله د هغوی پر استازیتوب د یادې اداري مشر ته یو لیک ولېږه چې ځیني ټکي یې له لنډیز سره لاندې را اخلو:

هیله ده... شپه به مو په ارامه تېره کړې وي، نه به مو چا دروازه درماته کړې وي، نه به یې په نیمه شپه ماشومان در چغولي وي، نه به یې زلمي زامن درڅخه د خوب له بسترنو ولاړ کړي او پر مرمیو غلبېل کړي وي چې زموږ ولس تري دا ډېر وخت بې برخې دی... د زرمت ولسوالي چې د نفوس او پراختیا له مخې د پنجشېر او کاپیسا له بشپړو ولایتونو سره برابره ده له نږدې دوه لسیزو راسې ورته د وژنې او بمبار پوره برخه ورکړل شوې او ولس ته یې د ډیموکراسۍ له خیراته یوازې د چاپو، بمباریو، پوځې او ډرون بریدونو برخه رسېدلې...

له تاسو د دالرو پنډې او په اصطلاح شهروندي حقونه نه غواړو... موږ یوازې د ژوند، سا اخیستلو، کور او جمات کې د څو ورځې ارام حق غواړو، ستا د واک ترسیوري لاندې مو وضعیت دا دی چې خاموشه ټولوژنه مو دوام لري چې نن یې احمد اکا له۴زامنو سره، پرون یې محمود وېښتلی، سبا د حامد د کورنۍ وار دی، په دې ډول تدریجي مرګونو مرو او د ژوند حق نه را کول کېږي.

له کلونو به راتېر شو، په تېرو څو میاشتو کې یوځل ضربتي عسکرو تر پینځوس زیات عام خلک و وژل او بیا ځانګړو عسکرو په تکرار سره بشپړي کورنۍ له منځه یوړې، په تېر (۱۳۷۹) اوړي کې د ضربتیانو په نوم عسکر د سهاکو په سیمه ورغلل، لوګري یې د غنمو په پټیو کې، ختګر یې د کار ځای ترڅنګ خپمو کې او د شملزو کلي څو ځوانان یې د خپلو مېندو ترسترګو شهیدان کړي و، او ورپسې د بهرنیو الوتکو په بمبار کې یوه پوره کورنۍ هم له منځه لاړه.

... تېره جمه ګډ عسکر د سهاکو سیمې هیبت خېلو کلي باندې له ځرخکو سره ورغلل، خلکو هر یوه فکر کاوه چې اوس به یې په کور ور ننوزي او وژنې به یې، عسکر د یو سپین ږیري بېچاره کلیوال (حاجي بهرام) پر کور ور ننوتل، د هغه درې ځلمي زامن محمد انور، شاه ګل او اجمل چې یو د انجنیرۍ له پوهنځي فارغ، بل معلم او دریم یې د پوهنتون محصل و له بسترو راولاړ او پرته له دې چې د جرم په اړه یې هسې ژبه لا وخوځوي د کور په منځ کې یې د پلار سره یوځای شهیدان کړل او سراچه موټر یې هم ورته وسوځاوه، ستا عسکر یو بل کورته هم ور سول د عبدالهادي په نوم یو ځوان یې په خپله کوټه

کې و وېشت او وروسته يې په لاسي بمونو د هغه بې روحه تن هم ټوټه ټوټه کړ. له دې پرته يې د ګنو کورونو دروازې ماتې کړې، د حاجي لعل يې د مېلمنو کوټه، د احمد جان يې بشپړ کور، د ملا عبدالصمد يې د کلادېوال وېجاړ کړ او نورو خلکو ته يې هم ګڼ مالي زيانونه واړول.

... خلک له دې وېر ځخه نه و وتلي چې د ګرديز سهاکو په لاره دوه تنه پر موټرسائکل روان و وېشتل، د پاټک کلي کليوالو دغه دوه تنه په ټپي حالت کې جمات ته راوړل شيبه وروسته جمات بمبار او د يو پلار دوو زامنو په ګډون يې۹تنه شهيدان او ټپيان کړل، د ياد پلار سره يو ځوان زوی شهيد او يو يې په نازک حالت کې ټپي دی، په دې مهال هغه ماشومه هم شهيده شوې چې ټپيانو ته يې له کوره شيدې راوړې وې.

ولسا! څه مشره؟!... که دا خبره وي چې زرمت کې طالبان دي، نو هغوی خو په ټول هېواد کې شته، چې مخه يې ناټو+ايساف ځواکونه په خپل ټول توان نشي نيولای نو موږ... دا به ښځايه وي چې د طالبانو په وړاندې ستاسو د ناکامۍ بيه موږ عام خلک پرېکوو او د هغوی کسات له موږ اخيستل کېږي... ثابته خبره ده، دلته يواځې ولسي خلکو ته زيان اوړي، په تېرو څو مياشتو کې دلته۱۵تنه يواځې د دولتي پوهنتونونو محصلين وژل شوي چې ټول ځوانان او عمرونه يې د۱۸او۲۸کلونو ترمنځ و، له دوی ځخه درې تنه يې د سورکي،سيمي، درې د سهاکو شملزو، دوه تنه د مېنځو د ابمني خېلو، څلور تنه د سهاکو منګلانو او درې نور يې د هيبت خېلو د کلي و، دوه معلمان د دولت د معارف وزارت اړوند رسمي کار کونکي هم په چاپو کې وژل شوي دي، يواځې د محصلينو په دومره لوړه کچه وژنه يو لوی بشري ناورين دی عام

خلک او د هغوی تلفات خو يو خوا پرېږده... د زرمت ولسونه ستا له حکومته بل هيڅ شی نه غواړي... د خلکو په باورونو لوبې خو هسې هم له موږ تاته ښې مالومې دي... په دې غم ځپلې سيمه کې را ګېر خلک له تباهۍ و زغوره، پر چاپه وهونکو هغو دې غږ وکړه چې د ټولوژني او لوټ تالان روان بهير دې و دروي، د ظلم او زياتي چاره مو د ولس تر هده/هدوکي رسېدلې او نور يې تاب نه لري....

خو د دې وحشي، دښمن په وړاندې د محصلينو دغو کړېږو هيڅ ارزښت او وزن ونشو لرلای او دا وار يې همدوی پر ډېره بې رحمۍ په نښه کړل، د زرمت له دغه ناورين يوه ورځ وروسته په ځلونو پسې يو ځل بيا تازه د کابل خپل سرې، ناقانونه، فاسدې، منفورې او مردودې اداري (ارګ) مشر خپلو کرايي عسکرو ته د واشنګټن او نيويارک د ساتونکو خطاب وکړ چې هغوی ستاسو پر وېنو ځروب او زرغونه دي او... لکه د زرمت ولس چې ځرې د سبا ورځې قربانيو لپاره نه بلکې پر واشنګټن د بريد لپاره تېرولې، همدوی واشنګټن ته ګواښ و، همدغه د اختر په شپه پر دې پېژندل شوي او دياد بريد پر پلان او طرحه اخته و او داسې نور...

داخو له پخوا راسې يومنلې او ځرګند حقيقت دی، خو که دا پوښتنې ځوابوو چې ولې؟ څنګه؟ له چېرې او چا يې پر ساتي؟ د واشنګټن دغه ځوکيدار ځوک دی؟ هويت يې څه دی؟ او څومره مزدورې ور کول کېږي؟! نو د ځمکني حقيقت په توګه او د عيني شاهد په ډول له زرمته نيولې د هېواد تر ګوټ ګوټ پورې د غمېزو د دنيا يو ستر حشر او نشر مو په مخه کوي اوښايي پکې له ورکې سره مخ شو...

حق به همېش غالب او باطل به مغلوب پاتې وي!!

حافظ هجرت

د دار الامتحان يعني د دنيا له پيدا كېدلو وروسته تر دې مهاله په دنيا كې د حق او باطل تر مينځ بې شمېره معركې او جنجالونه رامينځ ته شوي دي؛ خو تل باطل مغلوب شوی او حق برې بريمن شوی دی.

اهلِ حق (مسلمانانو) ته الله جل جلاله د تل لپاره په داسې وخت كې په اهلِ باطل (كافرانو) باندې غلبه وركړې چې مسلمانان د باطل په مقابل كې د مادياتو او جنګي وسايلو له اړخه ډېر زيات كمزوري؛ حتى چې د نيشت په حساب وي.

د ۱۹۷۹ ميلادي كال په ډيسمبر مياشت كې چې كله د روسيې ډهريانو پر افغانستان تجاوز وكړ او د افغانستان په خاوره يې د وحشت خپرولو او ويني توپولو بازار ګرم كړ نو د څو كلونو په اوږدو كې د حق د پلويانو (مسلمانانو) په لاس داسې ټوټه ټوټه شول او تر دې حده مغلوب شول چې نه يواځې افغانستان بلكه د نړۍ يو شمېر نور هېوادونه هم ترې آزاد شول او دوي ترې د سرټيټۍ او شرمندګۍ په حالت كې ګوډ او مات بېرته روسيې ته ستانه شول.

بيا ورپسې چې كله په ۲۰۰۱ ميلادي كال كې د نړۍ ځواكمن او با قدرته كفري هېوادونو د امريكا په مشرۍ پر افغانستان او همدا رنګه په نورو اسلامي هېوادونو باندې وليبز يرغل وكړ؛ چې په ترڅ كې يې لكونه مسلمانان پخپلو هېوادونو، ښارونو او كليو كې په ډېرې بې رحمۍ سره په شهادت ورسول. لكونه نور يې د (كيوبا، ابوغريب او بګرام) په څېر په وحشتناكو زندانونو كې اسيران كړل، د مسلمانانو ښارونه يې پخپلو قوي او ماډرنو بمونو، توپونو او د بالستيک او كروز په توغنديو سره ويجاړ كړل، د مسلمانانو طبعي زېرمې يې چور او تالا كړې، د اسلامي هېوادونو په ګڼ شمېر معدني ذخائرو لكه (تيل، يورانيم، سيم او زرو) باندې يې جبري او ناحقه قبضې واچولې او د همغو تيلو او نورو قيمتي ذخائرو په پيسو يې په اسلامي هېوادونو باندې د جنګ ميدان ګرم كړ او هر لور ته يې د ظلم، بربريت او وحشت فضا خپره كړه.

بوش چې ددغې بدنامې جګړې پيل كوونكی سرلاری وو، دغې جګړې ته يې د صليبي جګړې نوم وركړ او دا يې د نصرانيت او اسلاميت ترمينځ فيصله كوونكې جګړه وبلله.

او د نړۍ نورو هېوادونو ته يې په زغرده اعلان وكړ چې يا به د اسلام (ددوي په اصطلاح د تروريزم) پرخلاف جګړه كې له موږ سره يو كېږئ او يا به تاسو هم د تروريستانو په څېر له منځه وړل كېږئ يعنې مينځ كې يا په اصطلاح بې طرفه به نه پاتې كېږئ.

همغه وو چې د پنځوسو څوا او شا هېوادونه چې په دې كې ورسره د نام نهاده اسلامي هيوادونو پوځونه هم شامل وو په ګډه يې د افغانستان په خاوره باندې تيری وكړ او د موجوده اسلامي نظام پرځای يې د غربيانو په لاس جوړ شوی سيكولر او لا دينه نظام د بمونو په زور تحميل كړ.

دا ځل هم د تل په څېر د مسلمانانو مادياتي اړخ د کفارو په پرتله ډېر زيات کمزوری او د نيشت په حساب وو؛ خو دا چې اسلام حق دين دی او له دې دين څخه دفاع کونکي انسانان هم برحقــه دي او اللــه تبــارک و تعالی هم يواځې د حق لـه ډلـې سره ملتيــا کــوي او د باطــل د پلويـانو پـرخلاف د حق پلويـانو سره مرستې کوي؛ نو په همدې بناء د څو کلونـو پـه تېرېـدلو سره ورته د اسلام يعنې د (حـق) ريښـتيني پلويـانو د خـدایٔ تعالی په ځانګړې نصرت داسې تاريخي او عبرتناک درسونه ورکړل چې د کفارو لخوا د اسلام او مسلمانانو پر خـلاف لـه جګړې وړاندې جوړ شوي پلانونه، شـعارونه، سـتراتيژۍ او نور هغه مهم اهداف چې دوي يې د لاسته راوړلو پـه موخـه کلونه کلونه غونډې او بيلا بيل مجلسونه کړي وو په بشـپړ ډول يې ترې هېر او د هغوي ۲ سـوه کلـن زور او شـور يـې اوبه او د غرور ډکه امپراطوري يې ورتـه لـه زوال سره مـخ کړه.

دا کومه پټه خبره يا پټ داستان نه دی، ټولې نـړۍ يـې ننداره وکړه چې د يهودو آله کـاران (صـليبيان او اتحاديـان) يې د مسلمانانو په سـپېڅلې او مغـروره خـاوره (افغانسـتان) کې د يو څو فقيرانو او بې اسلحو ملنګانو په لاس مات مات او له جنګه ستړي او بېزاره شول او دېته اړ شول چې نور له افغانستانه د مذاکراتو/ سـولې پـه نـوم خپلـې خپـې سـپکې کړي.

پرته له شکه چـې د اسـلام او د کفـر تـر مينـځ پـه دې خونړۍ معرکه کې له مسـلمانانو سره راسـخه عقيـده، کامـل ايمان او په الله تبارک وتعالی توکل او پوره يقين وو او دی؛ کنه د دنياوي اصولو له مخې د صليبي نړۍ له دغې مجهـزو پوځونـو؛ چـې پـه ډول ډول عصـري وسـايلو لکـه (مـاډرن الوتکو، ماډرن ټانګونو، ماډرن توپونو او توغنديو) باندې تر سپېړمو سمبال دي، ددوي پر وړاندې په تش لاس پـه سـپين ميدان ودرېدل هسې ليونتوب دی.

بهر حال! په نظامي ډګر کې له ماتې خوړلو وروسته د باطـل پلويـان اوس پـه سـياسي ډګـر کـې هـم د ماتېـدو او شرمېدو په درشل کې دي.

که څه هم صليبيان شپه او ورځ هڅې کوي چې په دې ډګر کې د خپلو فريبونو او مکرونو په توسط مسـلمانان خطـا کړي او په نظامي ډګر کې د خوړلې شکست انتقام تـرې پـه دې (سياسي) ډګر کې واخلي؛ خو مونږ د خپل رب په شـويو وعدو باور لرو چې دلته به هم د باطل د پلويانو ټول مکرونه او فريبونه خنثا کيږي او د باطل لارويان به دا ځلې بيا د تېر په څېر له تاريخي ذلت او رسوايۍ سره مخ کيږي.

او نړۍ ته به د عبرت او پند په توګه دا حقيقت يو ځـل بيا جوت شي چې " حـق تـل غالـب او باطـل مغلـوب پـاتې کيږي ".

ان شاءالله العزيز

په اسلام کې

دمال او ملکیت احکام

۳مه وروستی برخه

م. ش. منصـــــور

یوبل تقسیم د [مملوک اومباح] دی، یوقسم مال هغـه دی چې دیوچـا ملکیـت دی، دفردملکیت دی، یا دحکومت ملکیت دی، حکومت یې دکوم خـاص غـرض لپـاره سرکـاري ملکیـت سـاتي، مثـال پـه توگـه: دسرکاري اسونو مال څرشو، چې هلتـه بـه دپوځ اسونه څري، یا سرکار یوه زمکه خاص وگرځوي دیوپـوځي کنـډک لپاره، دپـوځي غونډ لپاره او یا دهـوائي ډگرجوړولـو لپـاره، دداسي مملوکه زمکونه عـلاوه چې کـومې زمکې شته، هغوته مباح ویل کیږي، دمباح نه مراد هغه زمکه یا هغه مـال کـوم چې د یوچا ملکیت نه وي، سیندکې اوبه بهیـږي، مباح دي، او دهرچالپـاره پوشـان دي، دچـا ملکیت ندي، هرڅوک ور تلی شي ورڅخـه اوبه وړی شي، هو! که یوتن ترې منکی ډک کړ، په دې سره دهغـه ملکیـت وگرځېـدې، څـو چې اوبـه پـه سـیندکې وې دهرچـا ملکیـت گڼـل کیږي، ځنگـل کې واښـه، صحرایي زمکه دچا ملکیت ندي، دځنگـل واښه هرسړی وړی شي، هرسړی هلته خپل څـاروی څرولـی شي، دا او دیتـه ورتـه نورڅیزونه اسلامي فقهاوو مباح گرځولي او دټولو لپاره پوشان دي.

یو بل تقسیم هم شته [د تقسیم قابـل مال او د تقسیم غیرِقابل مال] دمـال ځینـې قسمونه هغـه دي چې دتقسـیم وړدي، کـه دیونه دزیـاتوخلکو پـه ملکیـت کې وو او هغوی غواړي چې تقسیم یې کړي، نوکـولی شي چې تقسیم یې کړي، لکه دوه وروڼوتـه له خپل پلارنه پنځوس زره افغانی په میراث کې پاتې شوې، هغوی ۲۵، ۲۵ زره خپل منځ کې تقسیمولی شي، خو که یو داسې ماشین په میراث پاته شو، چې هغه یواځې یویونـت دی، دتقسیم وړندی، له تقسیم وروسته نـه دزید په گټه راځي اونه دعمرو، نو دا ناقابلِ تقسـیم مـال دی، یـا مـوټر دوه وروڼوتـه ورسید، اوس مـوټر هـم ناقابـل تقسـیم دی اوس که هغـه پـرزه پـرزه اوټوټـه ټوټـه شي، نودکباړیه بیه پلول کیږي، په دې وجه دهغو مالونو احکام چې دتقسیم وړدي له هغونـه چې دتقسیم وړندي جلا دي.

دمال په اړه دپورته تقصیل نـه دومـره اندازه فهم کیدای شي چې اسلامي فقهـاوو څـومره پـه زیـات تفصـیل، څـورا دقـت او باریک بینـی سره دمـال پـه احکامویانـدې غورکړی او دشریعت دیو، یـولفظ او دقـرآن کـریم لـه یـو، یـوحرف او داحادیثولـه یـو، یوجزنه په استفاده یې په اړه احکـام مرتـب کړي دي.

دمـال اوملکیـت خپـل مـنځ کـې ژورتعلق دی، ملکیت مـال وي؛ هغـه چې مال نه وي ملکیت نشي کیدای؛ ددې لپاره فقهاوو چې چیرته دمال داحکامونـه بحـث کړی دی هلته یې دملکیـت لـه احکامونـه هم بحث کړی دی، دملـک اوملکیـت هـم گڼ قسمونه شته، دملکیـت نـه مـراد دادی چې: کوم شخص په یو څیز بانـدې هغسـې قانوني او شرعي استحقاق ولري چې دهغـه څېزیه استعمال، اویکې دتصرف کولوڅخـه دنورو داستعمال اودتصرف دمخنیـوي لپـاره وړ گرځیـدای شي، یوفقیـه دملکیـت پـه تعریـف کـې کښـلي« اختصـاصُ شَـخصٍ بِشیئی، اختصاصاً یُمکِنُه مِن التَصرفِ فیـه، وَیَمنَعُ غَیرَه مِنهُ» دیو تـن دیوڅیزیـاره کې داسې خاص یا خصوصي استحقاق چې پـه هغه [څیز] کې هغه شخص دتصرف کولـو قابل گرځوي اونوریکې له هرقسم تصرف نه منع کـوي دیتـه دملکیـت اسـتحقاق ویـل کیږي.

دملکیـت گـڼ قسـمونه دي، یـودی «تامـه ملکیـت» یعنـي مکمـل ملکیـت،

دمکمل ملکیت نه مراد دادی چې دیو څیزملکیت له تاسره دی د «هغه ذات او منفعت» دواړو ته! مالیک یې. مثلاً: تایوموټر واخیست، دموټرذات یعنې corpus یې هم ستا مالکیت دی، منفعت یې هم ستا ملکیت دی، دا تام ملکیت دی، موټر ستا په لاس کې هم دی، تا دهغه تولـه بیه اداء کړې هم ده، له هره پلوه موټر ستا په ملکیت کې راغلی، خو که تا موټر واخیست اوداخیستلو وروسته دي دشپږو میاشتو لپاره بل تن ته په اجاره ورکړ، اوس دهغه ذات ستا په ملکیت کې شته خو دهغه دمنفعت مالک اوس ته نه یې! دمنفعت او یا دهغه داستعمالولو حق دهغه سړي سره دی چاچې له تا موټریه إجاراخیستی.

دریم قسم د [ملک منفعت] دی، منفعت نه مراد دادی چې دموټرمالک بل څوک دی خو دمنفعت یې مالک یې بل دی، لکه دهمدي موټر په مثال کې زید له تا موټریه کرایه واخیست، هغه یې دمفعت مالک شو، له موټرنه څومره منافع چې راځي، دهغو ټولو نه دفایدې پورته کولو اویکې دتصرف کولو واک له زید سره دی؛ دملک منفعت سره ورته یوبل څیزدی کوم چې اسلامي فقهاوو د [انتفاع] په لفظ سره تعبیر کړی دی:

له [انتفاع ملک] نه مراد ته تاسو [مرافق] هم ویلی شئ، څینو فقهاوو دیته د [مرافق] اصطلاح کارولې، له دې ملکیت څخه مراد دداسې حقوقو ملکیت دی یا دداسې حقوقو وفوایدویا دخدماتو استحقاق دی کوم چې د یوچا پر ملکیت پورې خوتړلی وي، لیکن کله اوچیرې چې تاسو ترې فایده اخلئ، هغه ځای، یا هغه وخت ستا ملکیت نه دی، دمثال په توګه: تایوه زرعي ځمکه واخیسته، ته یې په مکمله توګه مالک شوې، دهغې رقبه هم ستا په ملکیت کې ده، دهغې منفعت هم ستا ملکیت دی، خو ستا په هغه ځمکه کې چې داوبو کومه ویاله بهیږي، هغه دکوم بل سړي له ځمکې نه هم تیریږي، اوس ته چې څو دهغه بل سړي په ځمکه کې اوبه تیرې نکړې، له خپلې ځمکې نه کما حقه فایده نشې پورته کولی، دهغه ځمکه کې که ستا دابوپایپ تیریږي، یا داوبو ویاله او یا داوبو لارتیریږي، داستا حق دی چې دهغه سړي له ځمکې نه اوبه تیرې کړې، هغه حق نلري چې تا داوبو له تیرولوڅخه منع کړي، دا دحدیث نه ثابته ده، ټولو فقهاوو پرې اتفاق کړی دی چې داستا حق دی چې دهغه په ځمکه کې اوبه تیرې کړې، ته کولی شې چې دهغه له ځمکې نه خپلې ځمکې ته لارشې، ستا ځمکې ته دتلو بله لار نه وي، تودهغه منځنۍ ځمکې مالک تاله ویالې تیرولو څخه منع کولی نشي، که هغه ستا لارتړي نوقانون به ستا دکومک لپاره غړیورته کوي، که په جایزه اومعقوله طریقه باندې اوبه بیول غواړې نوشریعت تاته ددې پوره حق درکړی هو! که ته له بدنیتی کار اخلې او له هلته نه په اوبو تیرولو سره غواړې دهغه ځمکې ته زیان ورسې، نوبیا تاته اجازت نشته، دې حقوقوته، حقوق انتفاع وایي، تا لپاره دخپل ملیکت څخه دانتفاع لپاره ددغوحقوقو استعمال اړین دی، کله چې ته ځمکې مالک شوې، نوددې سره یوځای دحقوقویې هم مالک شوې. چې تا لپاره یې استعمال لازمي پکاردی

دملک یوقسم دی «ملکیتِ حقوق معنویه»دحقوق معنویه مثال وړاندې راوړل شو، چې دحنفي فقهاوو په فتوا [دحقوق مجرده ملکیت، هغوی ملکیت نه مني] اونه یې مال مني، خونورفقهایې مال ګڼي، په دې وجه یې دملکیت دجوازهم قایل دي

اوس داچې ملکیت څنګ ترلاسه کیږي؟ انسان دیوڅیزمالګ څنګه ګرځي؟ داپوښتنې هم دمال اوملکیت په ضمن کې اهمیت لري، خصوصاً دملکیت چې هغه اسباب شریعت متعین یا ښودلي، ترټولو لومړی سبب یې عقد دی، چې ته! دڅه په زریعه د یوبل تن ملکیت لاس ته دروړې، دهغه د ملکیت لاس ته راوړو لپاره ته له خریدوفروخت کار اخلې، دمشارکه ومضاربه څخه به کار اخلې یا ددیته ورته نورومعاملاتونه به کار اخلې چې داټول دعقدشکلونه دي.

دوهم صورت « احرازمباحات» دی هغه ټول څیزونه چې مباح دي او دچا په ملکیت کې نه وي، دټولو لپاره دي، هرتن چې هغه ترلاسه کړ، دهغه ملکیت ګڼل کیږي، د [احراز مباحات] دا اصول د شریعت د ګڼواحکامو اساس دی، له ګڼو احادیثونه ثابت دي، امام بخاري او کڼو نورومحدثینوروایت کړی: مَن عَمَرَ أَرضاً لَیسَت لِأَحدٍ فَهُوَ اَحَقُّ (مسند احمد، حدیث، سیده عائشه) چاچې داسې ځمکه چې هغه دبل چا نه وه ودانه کړه، دهغه حق دی. هغه ځمکه دهغه ملکیت ګڼل کیږي، یوبل حدیث دی کوم چې امام ابوداود رح روایت کړی: من سَبَقَ إِلی ماءٍ لَم یُسبِقهُ إِلَیهِ مُسلِمٌ فَهُوَلَـهُ (ابوداود کتاب الخراج، باب فی اقطاء الارضین) چاچې وړاندې

اوبه دکې کړې اوبيا يې پخپل ملکيت کې واخيستې، دهغه په ملکيت کې شوې، مثلاً: داوبو يوه چينه چې په صحرا اوختکل کې بهيږي، دچا ملکيت نده، يوسړی لاړ هلته يې پرې کور جوړکړ، هلته پرې ميشت شو، نوخومره اوبه چې له هغه چينې وزي، خپله قبضه يې بولي، په دې سره د هغه ملکيت ګرځي. دا داحرازمباحات په اړه هغه مثالونه دي چې په احاديثو کې بيان شوي دي

دملکيت ترلاسه کولو دريمه زريعه «وراثت دی» ديوتن پلار زمکه درلوده، شتمني وه، مال يې لاره، هغه ومړ، شتمني، مال او دولت يې اولادونوته منتقل شو، دا انتقال دملکيت د وراثت په صورت کې راغی، کوم تن چې دچا وارث شو او دشريعت داحکاموسره سم هغه ته دوراثت حق حاصل شو، هغه دخپل مورث دجايداد او ممتلکات مالک ګرځيدای شي او شريعت دهغه جايزملکيت مني.

دملکيت خلورمه زريعه هغه ده چې ورته وړاندې اشاره وشوه، چې تاسره اصل مال موجود و، ته داصل مال مالک وې، په هغه کې تااضافه وکړه، دهغه سرمايه کاري دې وکړه، پکې زياتوالی راغی، نو ددغه زياتوالي په نتيجه کې چې کوم مال ترلاسه کېږي، هغه پخپله دهغه ملکيت ګرځي، تاسره يولک افغانی دي، په هغوتاسرمايه کاري وکړه دهغې په نتيجه کې چې تاته کومه ګټه ترلاسه کړه، هغې سره يونيم لک افغانی شوې، نو اوس دا اضافه پنځوس زره هم ستا جايزملکيت ګرځي، وړاندې دامثال تيرشو، چې تا داوزو، له دوه بچيانو (ورغومو) څخه کاروبار شروع کړ، تردې چې تاسره دپنځوس اوزو رمه جوړه شوه، نو داپاتې ۴۸ اوزې هم ستا جايزملکيت ګرځي، ديته ورته زرعي اوصنعتي پيداوار، دا ټول دملکيت ترلاسه کولو جايز زرايع دي اوددې په زريعه چې دکوم څيز ملکيت ترلاسه کېږي هغه به ستا جايزملکيت وي.

دملکيت ترلاسه کولو ترټولو لويه زريعه عقد دی، راکړه ورکړه ده، داسلامي احکامويه رڼاکې اسلامي فقهاوو د [عقود] ګڼ قسمونه بيان کړي، دهغو قسمونويه مخکې اينبودو سره يې دعقودګڼ دولونه بيان کړي يوتقسيم دی [دعقودتمليکات او دعقود اسقاطات] تمليکاتُ نه مرادهغه عقود دي دکومو په نتيجه کې چې يوشخص ديوبل شخص دمال يا جايدادمالک ګرځي، د [اسقاطات] نه مراد هغه عقود دي چې په هغه کې يوشخص خپل ملکيت ياخپل حق ساقط کړي، عقد چې په هردول وي دهغه دارومداريا اساس به مال وي، که مال متقوم نه و، نوهغه عقدبه جايزنه وي، کوم وخت چې هغه عقد کېږي هغه مهال مال دعقدکونکي په لاس کې نه وي يا هغه وخت موجود نه وي يا خو موجود وي، ليکن دومره غيرمعلوم او غيرمتعين وي چې دا نه معلوميږي چې هغه دکومې نوع دی، داسې عقد درست دی، په بل سپيناوي دعقد دصحت لپاره ضروري ده چې مال به متقوم وي، دعاقد په مکمل ملکيت کې به وي، يا به دعقدکولو پر مهال به موجود وي، يا د دومره وضاحت او صراحت سره يوځای به دهغه توصيف کړی وي چې دمشتري اوبايع دواړو په ذهن کې داخبره ښکاره شي چې کوم څيزاوکوم دول دی چې پرهغه عقدکېږي او په ټاکلي وخت يې مشتري ته سپارل ممکن او اسان دي

د [تمليکاتُ] په اړه چې کوم عقود دي دهغو لوی قسمونه دوه دي، يو هغه عقود دي چې ورته « عقود المعاوضه» ويلی کېږي يعنې هغه عقود چې پکې يو شخص خپل مال ورکړي دبل د مال په عوض کې، دبل شخص مال ته اخلي او بازارته يې دپلورلو لپاره وړي، يا دکوم بل عقد، يا معاملې له مخې، چې دهغې په نتيجه کې راکړه ورکړه کېږي، يوتن تا يوڅيزدرکوي، او له تانه يې په عوض کې بل څيزاخلي، دې ټولوته عقودِ معاوضه ويل کېږي، دعقود ترټولولوی قسمونه هم دادي.

ددې په مقابل کې يو عقد هغه دی چې ورته « عقدتبرع» ويل کېږي، يا ورته« عقودالتبرع»ويل کېږي، په کوم کې چې د تمليک اوتملک پرته دکوم بدل نه واقع کېږي، پرته له کومې معاوضې د يوڅيز ملکيت منتقل کېږي، لکه صدقه، وصيت، اعاره، داټول عقود دي ليکن پکې هيڅ بدل نه وي، ته! يوچا ته تحفه ورکړې، هديه ورکړې، نوددې په مقابل کې کوم قيمت نه اخلې، ولې که قيمت واخلي بياهغه هبه، نشوه، بيع ګرځي، له دې وجې په دې عقودُ کې د بل شخص دمالک ګرځولو او دملکيت دمنتقلولو لپاره دومره کفايت کوي چې هغه شخص هغه څيزقبض کړي يعنې پخپله قبضه کې يې واخلي، دچا لپاره چې تا تبرع کړی يا دکوم لپاره چې تا هديه کړی، کله چې هغه يې پخپله قبضه کې واخلي، هغه څيزدهغه ملکيت ګرځي، څو يې چې قبضه کړی نه وی ترهغه يې مالک

نه ګرځي، زکه چې دلته په مقابل کې هیڅ عوض شتون نلري.

په، معاوضه عقود، کې چې کله فریقین هغه څیزاویا دهغه عوض ترلاسه کړي نو بیع مکمله ګرځي، دلته چون عوض نشته له دې وجې په اصل څیزقیمت دعوض قایم مقام ګڼل کیږي

په «عقودُ» کې کوم څیزچې ترټولو ډیرارین دی، دکوم په اړه چې قرآن پاک کې صراحت راغلی دی، دکوم پرته چې هیڅ یوعقد، جایزعقد نه ګڼل کیږي، هغه [تراضي] ده، معاهده کونکي دواړه فریقین، راکړه ورکړه، یا تجارت کوونکي دواړه دلې به په مکمله رضامندی سره دکوم نه چې په حدیث کې په [نفس طیب] تعبیر شوی، دزړه په مکمله صفايي او خوشالي سره راکړه ورکړه وکړي نوجایزدی که تراضي یعنې پخپل منځ کې رضامندي نه وي نو تراضي نه ګڼل کیږي، دحقیقي اورضامندی یاتراضي پرته په ځینې صورتونوکې بیع باطله ګرځوي او له سره یې کالعدم کوي، په ځینوصورتونوکې فاسدیږي، په ځینو صورتونوکې شدیدمکروه کیږي، له دې وجې دتراضي تحقق او تیقن ضروري دی

دمثال په توګه: کوم وخت چې ته راکړه ورکړه کوې، هغه مهال په یوفریق کې دعقد کولو اهلیت نه و، مثلاً: هغه کوچنی ماشوم و، تا دیوشي پرکلن هلک نه کوروا خیست، نو داعقدیومخ باطل دی، زکه دلته تراضي نشته، دشي پرکلن هلک رضامندي هیڅ اعتبارنلري،، داځبره چې یوبتیم ته دخپلار پلارنه یوکوربه میراث کې په لاس ورغی، او تاهغه ته د لوبو دیوڅیزبه لالچ ورکولو سره له هغه نه دکورکاغذونه ترلاسه کړل، دا د [شدیدې دوکې] مترادف دی، دا دوکه ده، تراضي نده، ته لګونه وار وایه چې ماشوم هلک راضي وو، اوپه خوبه یې کوردرکړی دی، خواعتبارنلري

همداسې یوشخص لیونی دی، په هغه بیهوښې راځي، تا دبیهوښۍ دورې په وخت کې دهغه نه رضامندي ترلاسه کړه، نودارضامندي هم جایزه رضامندي نده، یوشخص په تیروتنه باندې دعقد محل، په کوم چې عقد کیږي، غلط وپیژانده، او معامله یې وکړه داهم دتراضي خلاف ده، فقهاء وایي: [غلط فی محل العقد] یعنې چې په کوم څیزباندې عقد کیږي، په خطائي هغه ناسم وپیژني، نو داعقد هم درست ندی، مثلاً دهنداري یو عامه ټوټه یو ساده لوح اونایوهه دیاقوت په ګڼلو سره په لګونوبې وپیرله، وروسته جوته شوه چې یاقوت نده، بلکې دشیشې یوعامه ټوټه ده، نو داعقدهم جایزندی، که خرڅوونکی یې پخپله منسوخ نکړي محکمه کولی شي چې هغه کالعدم یا منسوخ وګرځوي.

دوکه، تغریر، اوفریب هم دتراضي منافي دي، دیته ځینې فقهاوو دتدلیس اصطلاح هم کارولې، یعنې کوم څیزچې پلورلی شي، دهغه باره کې داسې تفصیل بیا ن کړای شي چې په هغه څیز کې موجود نه وي، لکه نن سبا چې پلورونکي دځمکې او اسمان قلابې سره یوځای کوي، داهم دتغریر اوتدلیس یوشکل دی، نن سبا هغه کمپنۍ چې اشتهارات خپروي هغو دې دجل وفریب او تغریروتدلیس ته دیوفن بڼه ورکړي، هغه خصوصیات چې دیوڅیزجوړونکو په وهم وګومان کې هم نه وي، دوی یې داشتهاراتو او اعلاناتو له لارې خوروي، اوپه خالص دوکه او فریب سره څیزونه پلوري، شریعت دا [تغریر] ګرځولی، او داسې بیع ته یې ناجایزویلې، په کوم خصایصو چې څیزیاسودا ویلورل شي اوپه هغه کې هغه نه وي نودا بیع هم درسته نده.

اسلامي فقهاوو، غبن فاحش، هم دتراضي منافي ګرځولی، دغبن فاحش نه مراد په قیمتونوکې دومره اضافه ده، چې دهیڅ اندازه کونکې په اندازه کې هم هغه نه راځي، ددینه مراد دادی لکه په بازارکې قیمتونوکې لږ ډیر تفاوت وي، که دسترګو چشمې یوځای په دوه سوه وي، بل ځای دوسوه لس وي، دریم ځای شاید یوسل نوي وي، په څلورم ځای کې دوه سوه شل وي، نوګواکې د دوه سوه افغانیو په یوڅیزکې دشل پنځویشتو کمی زیاتی په بازارکې کیدای شي، اودومره کمي زیاتي ته غبن فاحش نشي ویل کیدای، خو که د دوه سوه افغانیو څیزبه څلورسوه افغانۍ ویلورل شي نو بې له شکه داغبن فاحش دی، له دې وجې کومو خلکو ته چې په بازارکې دچشمو دبیې اندازه وي، له هغوی نه که ویوښتل شي نو دهغوی د اندازواوداصل قیمت ترمنځ به همدا دلس پنځلس، شل و پنځه ویشت افغانیو زیات توپیر نه وي.

غرض داچې ددې لپاره هم فقهاوو یو اصول تجویزکړی، په کوم چې هرځای عمل کیدای شي دکوم څیزدخریدو فروخت په اړه چې خبره کیږي، دهغه دخریدو فروخت په اړه ماهرین دهغه دبیې کوم تخمینونه لګوي، په هغوکې چې کوم تفاوت وي، هغه تفاوت که معقول ونو غبن فاحش نه ګڼل

کېږي، که تفاوت معقول نه و اوزيات ونوبيا غبن فاحش گڼل کېږي اوجايزندی.

په تراضي چې کوم څه تاثيرکوي، پـه هغـوکې [اکـراه يـا زبردسـتي] هـم راځـي، داکراه ځينـي قسـمونه هغـه دي کـوم چې دقانون په دايره کې هم راځـي اوهغـه جـرم دي، ددنيا هرقانون پشان دشريعت په قانون کې هم جبرو اکراه جرم گرځول شوې.

يـه دې لړکـې ځينـو علـماوو داهـم ليکلي چې که کوم يوشخص دخپل وجاهت يا دخپل شخصيت اثريه غورځولو يوځـوک ديوځيزيـه خرڅولـو مجبـورکړي نـوداهم جايزنده، زکه چې دا دطيـب نفـس خـلاف ده، ته! غواړي د يوشـخص نـه يـو گرانبيـه ځيز په ډيره کمه بيه واخـلي، او هغـه راضي ندی، ته پر هغه باندې دفشار راوړولو لپاره کوم داسې محترم شخصيت ورته بوزی چې دهغه خبره هغه سړی په زمکه نه غورځوي، يا ورته دهغـه کـوم داسـې محسـن شـخص بوزي چې هغه يـې داحسـان ترلانـدې دی، اويه وينا يې هغه ډيرگرانبيه څېزهم په کـمـه بيه درکولو تـه تيـاريږي، لـيکن دزړه دننـه پرې راضي نـه وي، او پـه نـه زړه امـاده شي ځينو علماوو داهـم ناجـايزگرځولي زکـه دا [فـيما بينـه وبـين اللـه] معاملـه ده، نـو هرشخص لپاره يې پخپله طی کول پکاردي، دمعاملې ځښتن ته پخپله کتل پکاردي چې هغه کوم جايداد ترلاسه کـړ، هغـه يـې پـه [طيـب نفـس] سره ترلاسـه کـړ، کـه پرتـه دطيب نفس نه...

دتراضي يوه اهمه تقاضه دا هم ده چې کوم ځيزپلورل کېږي يا پيرل کېږي، هغه به واضح او متعين وي، مثـالي صـورت يـې دادې: چې هغـه ځيزبـه دبـايع پـه مکمـل ملکيت کې وي، او دبايع په توگه به يې پـه قبضه کې وي، دامثالي خريـدوفروخت دی، خوشريعت دانسانانو دضروورياتو اوحاجتونو ته پـه کتـو سره دداسـې ځيزونـو د خريـدو فروخت اجازه هم ورکړې چې اوس سـتا پـه ملکيت يا قبضـه کې خـو نشـته لـيکن تـه هغه په اسانی سره دمطلوبه شرايطو سره سم برابرولی شي، مثلاً: ته! دکاغذکاروبارکوي، دکاغـذجوړولوپابريکو سره سـتا معـاملات روان وي، تــه دکاغـــذجوړولوپابريکو سره لين دين کوي، دهغوی نه په پورکاغذ اخـلي په خريدارانو د پلورلو وروسـته چې دهغـه کومه بيه وصولوي، خپله نفع ترې ځان سره ړدي او دپابريکي مالکانوتـه خپلـې پيسـې ورکوي، تا لپاره پـه متعينـه انـدازه اونمونـه کاغـذ، پـه هغـه مقـدار، او هغـه انـدازه او معيـارکوم چـې خريـدار غـواړي برابـرول مشکل نه وي، په دې صورت کې تـه دهغـه کاغذسـودا کـولی شي کـوم چـې اوس في الحال ستا په لاس کې نشـته يـا مـثلاً تاتـه خريدار راغی هغه وويـل: چې ماتـه نـوي گرامه گاغذپه کاردی، چې دومـره سـايزاو داسې رنـگ ولـري، اوفلانـی قسـم دفـلاني هيواد وي؛ داټول ځيزونه معلـوم او متعـين دي، ته دکاغذ کارخانې ته ځې هغـوی تـه اردرورکـوي، پـه تـاکلي وخـت هغـوی تاتـه کاغذ درکوي نو داجايزکاروباردی.

ددې صـورت نـه عـلاوه داسـې گـڼ صورتونه په بـازار کـې رايـج دي، لکـه يـو شخص يوداسې ځيزخرڅوي، چې پـه دغـه وخت کې هغه نشته، نه دامعلومـه ده چې کوم ځيزبه زه خرڅوم هغه به څومره ماليـت لري، دهغه کميت به څه وي، کيفيت به يې څـه وي، معياربـه يـې څـه وي، دداسـې ځيزخريـدو فروخـت جايزنـدی، داهغـه ځيزدی چې ورتـه شريعـت [غـرر] وايـي، دغـرر تعريـف شـمس الايمـة السرخسيـ داليکلـی: مَاکـانَ مَسـتُورٌ العَاقِبـة (قواعـد الفقه) دکوم انجام چې معلوم نه وي، دکوم انجام چې پټ وي، ديته ورته تعريف حافظ ابن تيمـه هـم کـړی هغـه لـيکلي: الغَورُهُـو مجهول العاقبـة غـرر هغـه دی چې دهغـه عاقبت مجهول وي، معلوم نه وي، په کومو معـاملاتوکې چـې غررمنـدل کېـږي هغـه جايزندي، نه دهغه راکړه ورکړه جـايزده، نـه يې ملکيت ديونه بل ته منتقـل کېـږي، نـه هغه جايزملکيت گرځي.

دغــرردرې لــوی صـورتونه دي، يــو داچې ته! داسې يوځيزپلوري، چې هغه لـه سره معدوم دی، موجود ندی، يـا خريدارتـه يې دورکولونه عاجزومعذوريې، مثلاً تا! يـو ښکلی، غرځه واخيست، رادې وړو، ناڅاپه درڅخه وتښتيد، اوس چيرته لاړ؟ صـحراته لاړ؟ غرونوته لاړ؟ اوس که ته هغه وپلوري چې زما غرځه تښتيدلی، دومره پيسـې يـې ماته راکړه اولاړشه هغه و نيسه؛ داغـرردی جايزندی، يا هغه سودا دومره نامعلومـه وي چې مجهـول مطلـق وي، هـيڅ معلومـه نـه وي، لکه نن سبادکاروبار ځينـي صـورتونه دي مثلاً ماسره په کور کې، دوکان کـې، يـا گـودام کـې کـوم سـامان پـروت دی، هغـه واخلـه خـو دومـره پيسـې راکـړه، اوس يـو شخص په کورکې سامان ندی ليدلی هغه ته دا اندازه نشته چې څـومره دی او دڅـومره پيسودی دا هم غـرردی او ناجـايزدی، هـو! که يوسړی کورتـه لاړشي اوسـامان وگـوري چـې دومـره دی او هغـه انـدازه کـړې چـې دڅومره پيسومال دی نوبيا غررنه گرځي

فقهاوو دغررګڼ قسمونه ښودلي يوته وايي« غررکبير»يعني لوی غرر، هغه په هيڅ صورت کې جايزندی، په هرصورت کې حرام دی، بل دی « غررحقير»معمولي غرر او دومره معمولي چي په عامه توګه خلک هغه له پامه غورځوي، په بازارونو کې ځيني سوداګانې داسې وي که په هغو کې معمولي کمی زياتی راشي خلک يې زغمي او پروا نه ورکوي اونه يې په عامه توګه څوک له امله شکايت کوي، ديته غررحقير وايي، له دې وجې چيرته چې غررحقيروي نوشريعت يې هم زغمي دمثال په توګه تا ډيربادام واخيستل (۲۰- ۲۵کيلو) اوس ممکن ده چې په هغه کې ځيني داسې دانې هم وي چې په هغوکې زړي نه وي، دبادامو په خريدو فروخت کې عموماً داسې کيږي، په ظاهره ته داسې فرض کړې چې څومره بادام ته اخلې په هغو ټولو کې زړي شته، خو په هم هغو باداموکې به ځيني دانې داسې ضرور وي چې پکې به زړي نه وي اوپوچ به وي، په حقيقت کې داهم غرردی خو غررحقيردی، زکه دا خلک په عامه توګه زغمي اوپه اړه يې شکايت نکوي داجايزدی پکې کوم قباحت نشته يو ضروري غرروي، چې دهغه نه ته بچ کيدای نشي- دهغه پته لګول تالپاره ممکن نده، ته يوه ډيره لويه ودانی يا عمارت واخلې، دهغه بنيادونه څنګه جوړشوي؟ په بنياد کې يې څه ايښې؟ څومره زوړدي؟ څومره چې هغه وايي رښتيا هم هغومره دی کنه؟ هيڅوک يې کندلی نشي- چې ويې ګوري، دغرر داډول ضروري دی چې دهغه په وينا به ته باورکوي دباور ترلاسه کولو ممکنه طريقې چې څومره دي هغه ټولې استعمالولی شي، په حقيقي توګه دځيني څيزونومعلومات او درک لګول مشکل وي بلکې ممکن نه وي، شريعت هم دهغه دمعلومولو حکم ندی ورکړی، او دضرورت په بناء يې دپام نه دغورځولو حکم کړی دی

دمال اوملکيت سره تړلې يوه کوچنی معامله [حق او ذمه] هم ده، دحق نه څه مراد دی؟ په ملکيت کې هم يو حق دی له دې وجې کله چې څبره دملکيت راځي نو دحق څبره هم راځي، منفعت هم يو حق دی، [حقوق مجرده] هم حق دی، نويو اسلامي فقهاوو دحق ګڼ تعريفونه کړي دمثال په توګه: دشلمې پيړی يولوی فقيه، استادمصطفی احمد الزرقاء چې دحق کوم تعريف کړی هغه داسلامي فقهاوو دمباحثو نه ماخوذدی په خاصه توګه داحنافو فقهاوو دکلام نه چې کوم څه مستنبط کيږي دهغو په رڼا کې دحق نه مراددشريعت مقررکړی يا تسليم کړی هغه خصوصي استحقاق دی دکوم په نتيجه کې چې دحق څښتن ته هغه اختيارحاصل وي کوم چې نوروته حاصل نه وي، ديته ورته تعريف مشهورقانون پو اومصري فقيه استاذ عبد الرزاق سهنوري هم کړی دی هرچې قديم اسلامي فقهاء وو هغوی لپاره دحق تصور دومره ښکاره و او واضح يې پيژانده چې تعريف يې ضروري نه ګاڼه زکه چې داسلامي فقهاوو په کلام کې دالفظ بيا بيا راځي، په احاديثو کې راغلی، په قران کريم کې راغلی هغو ټولو ته په کتو سره دحق کوم تصور چې دفقهاوو په مخ کې دی هغه واضح کيږي، دحق نه مراد هغه استحقاق يا هغه امتيازدی چې هغه يو تن ته په جايزه طريقه باندې حاصل شوی وي او دهغه په نتيجه کې هغه ته پکې دهرډول تصرف کولو او دانتفاع ترلاسه کولو اختيارحاصل وي.

حق ته ورته تصورد [ذمه] هم دی دذمه لفظي معنی ده ګارنټي، خو دذمه نه مراد هغه مسؤليت دی چې هغه په يوشخص باندې راځرځي. چې هغه يې دسرته رسولو په اړه پابند اومکلف ګڼل کيږي، د [ذمه، حق او التزام] ټول مال سره تعلق لري، دمال دپيژندلو لپاره ضروري ده چې ذمه، حق او التزام هم وپيژندل شي

دالتزام نه مراد هغه ذمه واري ده چې يو شخص يې پخپله په ځان لازمه کړې دمثال په توګه: دقرض په کفالت کې يا دقرض په حواله کې يو شخص دا ذمه واري واخلي چې هغه به دبل قرض اداء کوي نو دا دالتزام يوډول دی، التزم يا دڅا دقرض کيږي، يعنې التزام بالدين - يا دکوم معلوم ومتعين څيز دسپارلو يعنې التزام بالعين- يا دکوم کارکولو التزام کيږي چې زه به دافلانی کارکوم يعنې التزام بالفعل – يا دکو څيزنه داحتراز کولو ذمه واري وي چې زه به دافلانی کارنکوم او نه بل به بل څوک کولوته پريږدم ديته التزام بالامتناع وايي، داټول دالتزام قسمونه دي چې دعقود سره ژورتعلق لري او څون عقود دمال وملکيت سره ژورتعلق لري په دې وجه اسلامي فقهاء چې کله دمال نه بحث کوي نو دهغو ټولو موضوعاتونه بحث هم کوي کومې چې دمال او ملکيت سره بالواسطه او بلاواسطه تعلق لري دايو غورځاڼ يا لنديز دهغو تفصيلاتو او مباحثو دی کوم چې دمال او ملکيت په باره کې اسلامي فقهاوو ليکلي دي. پای

د ازادۍ اختر

د باګرام زندان له غيږې

انس حقاني

ځار هېواده! دا دې څومره لوی کمال دی
چې ساتلی دې په وينو استقلال دی

پر جهان دې د غيرت توغ دی لوړ شوی
هر سر زوری دې سرټيټ په خپل جلال دی

ته ميلمه لمانځې د زړونو په کلونو
يرغلګر دې په سکروټو استقبال دی

سپين فطرت دې له ازله اسلامي دی
د تور کفر حاکميت په تا محال دی

نه ظالم يې، نه ظالم ته په ملاخم شوې
په مسير کې دې ساتلی اعتدال دی

د دهشت او ماديت په معرکه کې
طالب جان په ايماني وسلو سمبال دی

رب دې بيا د افتخار شمله کړه هسکه
درې ورې دې د عصر لوی اشغال دی

زما قوم د ازادۍ اختره! تا ته
په زخمونو پرهارونو کې خوشال دی

چې هرڅو په اور سوزيږي، تازه کيږي
د «انس» ملت د زړو په مثال دی

مجاهدینو وروڼو! پام کوئ، چې د کامیابۍ او فتحې په مهال غرور او تکبر درڅخه ونه شي، له خلکو سره د زور، زیاتي او انتقام معامله مه کوئ د خپلې فتحې او برۍ نسبت به الله تعالی ته کوئ!

مرحوم عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد [نورالله مرقده]

در هرکار به پیروی از شریعت مکلف هستیم، پس باید خود را در امور جهاد از نظر و مزاج شخصی، افراط و تفریط دور نگهداریم.

شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله تعالی

مونږ غواړو په ګران هېواد کې یو خپلواک، اسلامي او افغان شموله نظام حاکم شي، همدې هدف ته د رسېدو لپاره مو د مسلح جهاد ترڅنګ د تفاهم او مذاکراتو دروازه هم پرانیستې!

د افغانستان اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالی

محرم الحرام ۱۴۴۱ هـ ق — August September 2019 — سنبله - میزان ۱۳۹۸ هـ ش

شنبه SAT	۱ (31, ۹)	۸ (7, ۱۶)	۱۵ (14, ۲۳)	۲۲ (21, ۳۰)	۲۹ (28, ۶)
یکشنبه SUN	۲ (Sep 1, ۱۰)	۹ (8, ۱۷)	۱۶ (15, ۲۴)	۲۳ (22, ۳۱)	۳۰ (29, ۷)
دوشنبه MON	۳ (2, ۱۱)	۱۰ (9, ۱۸)	۱۷ (16, ۲۵)	۲۴ (23, ۱)	
سه شنبه TUE	۴ (3, ۱۲)	۱۱ (10, ۱۹)	۱۸ (17, ۲۶)	۲۵ (24, ۲)	
چهارشنبه WED	۵ (4, ۱۳)	۱۲ (11, ۲۰)	۱۹ (18, ۲۷)	۲۶ (25, ۳)	
پنجشنبه THU	۶ (5, ۱۴)	۱۳ (12, ۲۱)	۲۰ (19, ۲۸)	۲۷ (26, ۴)	
جمعه FRI	۷ (6, ۱۵)	۱۴ (13, ۲۲)	۲۱ (20, ۲۹)	۲۸ (27, ۵)	

صفر المظفر ۱۴۴۱ هـ ق — September October 2019 — میزان - عقرب ۱۳۹۸ هـ ش

شنبه SAT		۶ (5, ۱۳)	۱۳ (12, ۲۰)	۲۰ (19, ۲۷)	۲۷ (26, ۴)
یکشنبه SUN		۷ (6, ۱۴)	۱۴ (13, ۲۱)	۲۱ (20, ۲۸)	۲۸ (27, ۵)
دوشنبه MON	۱ (30, ۸)	۸ (7, ۱۵)	۱۵ (14, ۲۲)	۲۲ (21, ۲۹)	۲۹ (28, ۶)
سه شنبه TUE	۲ (Oct 1, ۹)	۹ (8, ۱۶)	۱۶ (15, ۲۳)	۲۳ (22, ۳۰)	
چهارشنبه WED	۳ (2, ۱۰)	۱۰ (9, ۱۷)	۱۷ (16, ۲۴)	۲۴ (23, ۱)	
پنجشنبه THU	۴ (3, ۱۱)	۱۱ (10, ۱۸)	۱۸ (17, ۲۵)	۲۵ (24, ۲)	
جمعه FRI	۵ (4, ۱۲)	۱۲ (11, ۱۹)	۱۹ (18, ۲۶)	۲۶ (25, ۳)	

ربیع الاول ۱۴۴۱ هـ ق — October November 2019 — عقرب - قوس ۱۳۹۸ هـ ش

شنبه SAT		۵ (2, ۱۱)	۱۲ (9, ۱۸)	۱۹ (16, ۲۵)	۲۶ (23, ۲)
یکشنبه SUN		۶ (3, ۱۲)	۱۳ (10, ۱۹)	۲۰ (17, ۲۶)	۲۷ (24, ۳)
دوشنبه MON		۷ (4, ۱۳)	۱۴ (11, ۲۰)	۲۱ (18, ۲۷)	۲۸ (25, ۴)
سه شنبه TUE	۱ (29, ۷)	۸ (5, ۱۴)	۱۵ (12, ۲۱)	۲۲ (19, ۲۸)	۲۹ (26, ۵)
چهارشنبه WED	۲ (30, ۸)	۹ (6, ۱۵)	۱۶ (13, ۲۲)	۲۳ (20, ۲۹)	۳۰ (27, ۶)
پنجشنبه THU	۳ (31, ۹)	۱۰ (7, ۱۶)	۱۷ (14, ۲۳)	۲۴ (21, ۳۰)	
جمعه FRI	۴ (Nov 1, ۱۰)	۱۱ (8, ۱۷)	۱۸ (15, ۲۴)	۲۵ (22, ۱)	

ربیع الثاني ۱۴۴۱ هـ ق — November December 2019 — قوس - جدي ۱۳۹۸ هـ ش

شنبه SAT		۳ (30, ۹)	۱۰ (7, ۱۶)	۱۷ (14, ۲۳)	۲۴ (21, ۳۰)
یکشنبه SUN		۴ (Dec 1, ۱۰)	۱۱ (8, ۱۷)	۱۸ (15, ۲۴)	۲۵ (22, ۱)
دوشنبه MON		۵ (2, ۱۱)	۱۲ (9, ۱۸)	۱۹ (16, ۲۵)	۲۶ (23, ۲)
سه شنبه TUE		۶ (3, ۱۲)	۱۳ (10, ۱۹)	۲۰ (17, ۲۶)	۲۷ (24, ۳)
چهارشنبه WED		۷ (4, ۱۳)	۱۴ (11, ۲۰)	۲۱ (18, ۲۷)	۲۸ (25, ۴)
پنجشنبه THU	۱ (28, ۷)	۸ (5, ۱۴)	۱۵ (12, ۲۱)	۲۲ (19, ۲۸)	۲۹ (26, ۵)
جمعه FRI	۲ (29, ۸)	۹ (6, ۱۵)	۱۶ (13, ۲۲)	۲۳ (20, ۲۹)	

جمادی الاولی ۱۴۴۱ هـ ق — December 2019 January 2020 — جدي - دلو ۱۳۹۸ هـ ش

شنبه SAT	۳۰ (25, ۵)	۲ (28, ۷)	۹ (4, ۱۴)	۱۶ (11, ۲۱)	۲۳ (18, ۲۸)	
یکشنبه SUN		۳ (29, ۸)	۱۰ (5, ۱۵)	۱۷ (12, ۲۲)	۲۴ (19, ۲۹)	
دوشنبه MON		۴ (30, ۹)	۱۱ (6, ۱۶)	۱۸ (13, ۲۳)	۲۵ (20, ۳۰)	
سه شنبه TUE		۵ (31, ۱۰)	۱۲ (7, ۱۷)	۱۹ (14, ۲۴)	۲۶ (21, ۱)	
چهارشنبه WED		۶ (Jan 1, ۱۱)	۱۳ (8, ۱۸)	۲۰ (15, ۲۵)	۲۷ (22, ۲)	
پنجشنبه THU		۷ (2, ۱۲)	۱۴ (9, ۱۹)	۲۱ (16, ۲۶)	۲۸ (23, ۳)	
جمعه FRI	۱ (27, ۶)	۸ (3, ۱۳)	۱۵ (10, ۲۰)	۲۲ (17, ۲۷)	۲۹ (24, ۴)	

جمادی الثانیة ۱۴۴۱ هـ ق — January February 2020 — دلو - حوت ۱۳۹۸ هـ ش

شنبه SAT		۷ (Feb 1, ۱۲)	۱۴ (8, ۱۹)	۲۱ (15, ۲۶)	۲۸ (22, ۳)
یکشنبه SUN	۱ (26, ۶)	۸ (2, ۱۳)	۱۵ (9, ۲۰)	۲۲ (16, ۲۷)	۲۹ (23, ۴)
دوشنبه MON	۲ (27, ۷)	۹ (3, ۱۴)	۱۶ (10, ۲۱)	۲۳ (17, ۲۸)	۳۰ (24, ۵)
سه شنبه TUE	۳ (28, ۸)	۱۰ (4, ۱۵)	۱۷ (11, ۲۲)	۲۴ (18, ۲۹)	
چهارشنبه WED	۴ (29, ۹)	۱۱ (5, ۱۶)	۱۸ (12, ۲۳)	۲۵ (19, ۳۰)	
پنجشنبه THU	۵ (30, ۱۰)	۱۲ (6, ۱۷)	۱۹ (13, ۲۴)	۲۶ (20, ۱)	
جمعه FRI	۶ (31, ۱۱)	۱۳ (7, ۱۸)	۲۰ (14, ۲۵)	۲۷ (21, ۲)	

رجب المرجب ۱۴۴۱ هـ ق — February March 2020 — حوت ۱۳۹۸ هـ ش، حمل ۱۳۹۹ هـ ش

شنبه SAT		۵ (29, ۱۰)	۱۲ (7, ۱۷)	۱۹ (14, ۲۴)	۲۶ (21, ۲)
یکشنبه SUN		۶ (Mar 1, ۱۱)	۱۳ (8, ۱۸)	۲۰ (15, ۲۵)	۲۷ (22, ۳)
دوشنبه MON		۷ (2, ۱۲)	۱۴ (9, ۱۹)	۲۱ (16, ۲۶)	۲۸ (23, ۴)
سه شنبه TUE	۱ (25, ۶)	۸ (3, ۱۳)	۱۵ (10, ۲۰)	۲۲ (17, ۲۷)	۲۹ (24, ۵)
چهارشنبه WED	۲ (26, ۷)	۹ (4, ۱۴)	۱۶ (11, ۲۱)	۲۳ (18, ۲۸)	
پنجشنبه THU	۳ (27, ۸)	۱۰ (5, ۱۵)	۱۷ (12, ۲۲)	۲۴ (19, ۲۹)	
جمعه FRI	۴ (28, ۹)	۱۱ (6, ۱۶)	۱۸ (13, ۲۳)	۲۵ (20, ۱)	

شعبان المعظم ۱۴۴۱ هـ ق — March April 2020 — حمل - ثور ۱۳۹۹ هـ ش

شنبه SAT		۴ (28, ۹)	۱۱ (4, ۱۶)	۱۸ (11, ۲۳)	۲۵ (18, ۳۰)
یکشنبه SUN		۵ (29, ۱۰)	۱۲ (5, ۱۷)	۱۹ (12, ۲۴)	۲۶ (19, ۳۱)
دوشنبه MON		۶ (30, ۱۱)	۱۳ (6, ۱۸)	۲۰ (13, ۲۵)	۲۷ (20, ۱)
سه شنبه TUE		۷ (31, ۱۲)	۱۴ (7, ۱۹)	۲۱ (14, ۲۶)	۲۸ (21, ۲)
چهارشنبه WED	۱ (25, ۶)	۸ (Apr 1, ۱۳)	۱۵ (8, ۲۰)	۲۲ (15, ۲۷)	۲۹ (22, ۳)
پنجشنبه THU	۲ (26, ۷)	۹ (2, ۱۴)	۱۶ (9, ۲۱)	۲۳ (16, ۲۸)	۳۰ (23, ۴)
جمعه FRI	۳ (27, ۸)	۱۰ (3, ۱۵)	۱۷ (10, ۲۲)	۲۴ (17, ۲۹)	

رمضان المبارک ۱۴۴۱ هـ ق — April May 2020 — ثور - جوزا ۱۳۹۹ هـ ش

شنبه SAT	۳۰ (23, ۳)	۲ (25, ۶)	۹ (2, ۱۳)	۱۶ (9, ۲۰)	۲۳ (16, ۲۷)
یکشنبه SUN		۳ (26, ۷)	۱۰ (3, ۱۴)	۱۷ (10, ۲۱)	۲۴ (17, ۲۸)
دوشنبه MON		۴ (27, ۸)	۱۱ (4, ۱۵)	۱۸ (11, ۲۲)	۲۵ (18, ۲۹)
سه شنبه TUE		۵ (28, ۹)	۱۲ (5, ۱۶)	۱۹ (12, ۲۳)	۲۶ (19, ۳۰)
چهارشنبه WED		۶ (29, ۱۰)	۱۳ (6, ۱۷)	۲۰ (13, ۲۴)	۲۷ (20, ۳۱)
پنجشنبه THU		۷ (30, ۱۱)	۱۴ (7, ۱۸)	۲۱ (14, ۲۵)	۲۸ (21, ۱)
جمعه FRI	۱ (24, ۵)	۸ (May 1, ۱۲)	۱۵ (8, ۱۹)	۲۲ (15, ۲۶)	۲۹ (22, ۲)

شوال المکرم ۱۴۴۱ هـ ق — May June 2020 — جوزا - سرطان ۱۳۹۹ هـ ش

شنبه SAT		۷ (30, ۱۰)	۱۴ (6, ۱۷)	۲۱ (13, ۲۴)	۲۸ (20, ۳۱)
یکشنبه SUN	۱ (24, ۴)	۸ (31, ۱۱)	۱۵ (7, ۱۸)	۲۲ (14, ۲۵)	۲۹ (21, ۱)
دوشنبه MON	۲ (25, ۵)	۹ (June 1, ۱۲)	۱۶ (8, ۱۹)	۲۳ (15, ۲۶)	
سه شنبه TUE	۳ (26, ۶)	۱۰ (2, ۱۳)	۱۷ (9, ۲۰)	۲۴ (16, ۲۷)	
چهارشنبه WED	۴ (27, ۷)	۱۱ (3, ۱۴)	۱۸ (10, ۲۱)	۲۵ (17, ۲۸)	
پنجشنبه THU	۵ (28, ۸)	۱۲ (4, ۱۵)	۱۹ (11, ۲۲)	۲۶ (18, ۲۹)	
جمعه FRI	۶ (29, ۹)	۱۳ (5, ۱۶)	۲۰ (12, ۲۳)	۲۷ (19, ۳۰)	

ذي قعدة الحرام ۱۴۴۱ هـ ق — June July 2020 — سرطان ۱۳۹۹ هـ ش

شنبه SAT		۶ (27, ۷)	۱۳ (4, ۱۴)	۲۰ (11, ۲۱)	۲۷ (18, ۲۸)
یکشنبه SUN		۷ (28, ۸)	۱۴ (5, ۱۵)	۲۱ (12, ۲۲)	۲۸ (19, ۲۹)
دوشنبه MON	۱ (22, ۲)	۸ (29, ۹)	۱۵ (6, ۱۶)	۲۲ (13, ۲۳)	۲۹ (20, ۳۰)
سه شنبه TUE	۲ (23, ۳)	۹ (30, ۱۰)	۱۶ (7, ۱۷)	۲۳ (14, ۲۴)	۳۰ (21, ۳۱)
چهارشنبه WED	۳ (24, ۴)	۱۰ (July 1, ۱۱)	۱۷ (8, ۱۸)	۲۴ (15, ۲۵)	
پنجشنبه THU	۴ (25, ۵)	۱۱ (2, ۱۲)	۱۸ (9, ۱۹)	۲۵ (16, ۲۶)	
جمعه FRI	۵ (26, ۶)	۱۲ (3, ۱۳)	۱۹ (10, ۲۰)	۲۶ (17, ۲۷)	

ذي الحجة الحرام ۱۴۴۱ هـ ق — July August 2020 — اسد ۱۳۹۹ هـ ش

شنبه SAT		۴ (25, ۴)	۱۱ (Aug 1, ۱۱)	۱۸ (8, ۱۸)	۲۵ (15, ۲۵)
یکشنبه SUN		۵ (26, ۵)	۱۲ (2, ۱۲)	۱۹ (9, ۱۹)	۲۶ (16, ۲۶)
دوشنبه MON		۶ (27, ۶)	۱۳ (3, ۱۳)	۲۰ (10, ۲۰)	۲۷ (17, ۲۷)
سه شنبه TUE		۷ (28, ۷)	۱۴ (4, ۱۴)	۲۱ (11, ۲۱)	۲۸ (18, ۲۸)
چهارشنبه WED	۱ (22, ۱)	۸ (29, ۸)	۱۵ (5, ۱۵)	۲۲ (12, ۲۲)	۲۹ (19, ۲۹)
پنجشنبه THU	۲ (23, ۲)	۹ (30, ۹)	۱۶ (6, ۱۶)	۲۳ (13, ۲۳)	
جمعه FRI	۳ (24, ۳)	۱۰ (31, ۱۰)	۱۷ (7, ۱۷)	۲۴ (14, ۲۴)	

مهمې تاریخي پېښې او یادښتونه: د سنبلې ۳۰مه ۱۳۸۰ل کال پر افغانستان د امریکايي یرغل په وړاندې د علماء کرامو په ستره غونډه کې د جهاد د فرضیت پرېکړه لیک صادرولو ورځ. د میزان ۶مه ۱۳۷۵ل کال د طالبانو په لاس د کابل فتحه. د ۱۳۹۴ل کال د میزان په ۶مه د طالبانو لخوا د کندز ښار فتحه او د ګڼ شمېر بندیانو ازادول. د محرم ۱۵مه ۱۴۱۵هـ ق د اسلامي امارت تاسیس. د قوس ۵مه ۱۳۸۰ل کال د مزار شریف په قلعه جنګي کې د سلګونو مجاهدینو ډله ایز شهادت. د قوس ۱۳مه ۱۳۸۰ل کال د بن کرغېړنه ناسته. د قوس ۱۶مه ۱۳۸۲ل کال د پلچرخي په زندان کې پر مظلومو زندانیانو د کرزي د اجیرو عسکرو بې رحمانه برید چې په ترځ کې یې ۳۶ تنه بې ګناه زندانیان شهیدان او لسګونه ژوبل شول. د ربیع الاول ۱۲مه (په مشهور قول) د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد ﷺ مبارک میلاد. د جدي ۶مه ۱۳۵۸ل کال پر افغانستان د سرو لښکرو د یرغل ورځ. د ۱۳۶۷ل کال د دلو په ۲۶مه له افغانستانه د سرو لښکرو تېښته. د حوت ۳مه ۱۳۵۸ل کال د کمونیزم او شوروي یرغل پر وړاندې د کابل د ... خلکو تاریخي پاڅون. د حوت ۱۲مه ۱۳۸۰ل کال په پکتیا کې د امریکايي یرغل په وړاندې د شاهي کوټ تاریخي جګړه. د ۱۴۳۴هـ ق کال د جمادي الثانیة ۲۴مه د عالیقدر امیرالمؤمنین مرحوم ملا محمد عمر مجاهد ﷺ د وفات ورځ. د حوت ۲۴مه ۱۳۵۷ل کال په هرات کې د کمونستانو په وړاندې ولسي پاڅون او ۲۴ زره بې ګناه مسلمانانو شهادت. د حمل ۱۶مه ۱۳۷۵ل کال په کندهار کې د افغانستان د ۱۵۰۰ علماء کرامو لخوا ملا محمد عمر مجاهد ﷺ سره بیعت او د امیر المؤمنین په توګه یې ټاکل کېدل. د ثور ۷مه ۱۳۵۷ل کال د کمونستانو لخوا کودتا. د ثور ۸مه ۱۳۷۱ل کال د کمونیزم ضد اسلامي انقلاب د بري ورځ. شعبان المعظم د هجرت دویم کال د قبلې تحویل، د جهاد او روژې فرضیت. د ۱۳۹۵هـ ش کال د جوزا میاشتې په لومړۍ نېټه د شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله وبلوچ شهادت. د ۱۴۳۷هـ ق کال د شعبان میاشتې ۸مه نېټه د اسلامي امارت د زعیم په توګه د شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده ټاکل کېدل. د ثور ۵مه ۱۳۹۰ل کال د طالبانو په لاس د کندهار زندان ماتېدل او د ۵۴۱ زنداني طالبانو خلاصون. د جوزا ۵مه ۱۳۶۹ل کال د کابل په پل خشتي مسجد کې د واکمن نظام د شرعي سرغړونو او کمونستي افکارو پر ضد د افغانستان د علماء کرامو مظاهره. د رمضان المبارک ۱۷مه د هجرت دویم کال کې د بدر غزا. د رمضان المبارک ۲۷مه ۱۴۳۳هـ ق د توري بوري تاریخي معرکه. د شوال المکرم لومړۍ ورځ د کوچني اختر مبارکه ورځ. د اسد په ۲۸مه ۱۲۹۸ل کال له انګریزانو څخه د افغانستان د خپلواکۍ اخیستلو ورځ. د ذي الحجې ۹مه د عرفې ورځ. د ذي الحجې ۱۰مه د لوی اختر لومړۍ ورځ. د سنبلې ۷مه ۱۳۹۳ل کال د کابل د کوډاکي رژیم سره د امریکا د کرغېړن امنیتي تړون لاسلیک.

WWW.Shahamat1.com | Alemara1@gmail.com | WWW.Twitter.com/AlemarahWeb90 | 0093708638285 | د افغانستان اسلامي امارت د فرهنګي چارو کمېسیون